# دعوت

**ملي، خپلواکه خپرونه**

ISBN 978-82-691395-2-5


## ملي سندره

خو چې دا مځکه آسمان وي
خو چې دا جهان ودان وي
خو چې ژوند په دې جهان وي
خو چې پاتې یو افغان وي
تل به دا افغانستان وي
تل دې وي افغان ملت
تل دې وي جمهوریت
تل دې وي ملي وحدت


د خپل رب د لارې په لوري په حکمت او غوره نصـیحت سـره بلنه (دعوت) ورکړه او له خلکو سـره په داسـې ډول مباحثه وکړه چې ډیره غوره وي. ( سوره النحل ، 125 ایت )

موسس او مسئول چلوونکی:

**محمد طارق بزگر**

د تأسیس نیټه :1367ل،(۱۹۸۸م)



Dawat Media Center,
V/M. Tariq Bazger
Vold gt. 37A, 2000
Lillestrom, Norway
Tel. +47- 63844384
Mobile. +47-90856195
dawatmedia@gmail.com
www.dawatmedia24.com



Vol. 254 Oct. & Dec. 2024 پرله پسې ۲۵۴ ګڼه


## د "دعوت" مجلې د ۳۶مې کلیزې په ویاړ

د "دعوت" مجله، نن ورځ د خپلې اوږدې او بریالی سفر په اوږدو کې په یو مهم پړاو کې قرار لري. د دې ۳٦ کلونو په اوږدو کې، "دعوت" د یو داسې روښانه ستوري په توګه ځلېدلې چې په خپل محتوا کې یې د فکری بحثونو، د ټولنیز بدلونونو، او د اسلامي ارزښتونو پر بنسټ د یو نوي او پیاوړي لید وړاندې کولو هڅه کړې ده.

موږ په دې کلونو کې ډیر څه زده کړل، ډیرو بدلونونو سره مخ شو، خو د هرې تجربې وروسته، موږ خپل هدف او اراده لا پیاوړې کړې ده. موږ ژمنه کوو چې په راتلونکې کې هم ستاسې درنو لوستونکو د توقعاتو پر اساس د نوی فکر، نوې پوهې او نوو لیدلورو وړاندې کولو ته دوام ورکړو.

کله چې د "دعوت" مجلې لومړی ګڼه خپره شوه، هېڅوک هم باور نه کاوه چې دا مجله به تر ډیره دوام وکړي او د افغاني رسنیو په ډګر کې به خپل ځانګړي ځای پیدا کړي. خو نن ورځ، د دې مجلې نوم یوازې په علمي او فکري ډګر کې نه، بلکې د هېواد دننه او بهر د افغانانو او ټولو افغاني ټولنو کې خپل ځانګړی ځای لري. د "دعوت" مجله یوازې د یوه چاپي رسنی په توګه نه، بلکې د یوې فکري او فرهنګي مرکز په توګه مطرح شوې ده چې په هره ګڼه کې یې د نوي فکر، نوې لاره او نوو امیدونو پیغام وړاندې کړی دی.

د دې ۳٦ کلونو پر مهال، "دعوت" مجله نه یوازې د خپلو لوستونکو لپاره د زده کړې او پوهې یوه منبع، بلکې د هغوی لپاره یوه الهام بخښوونکې سرچینه هم وه. د دې مجلې د لیکوالانو او همکارانو هڅې د هغه ارزښتونو پر بنسټ ولاړې وې چې د ټولنې په هره برخه کې د مثبت بدلون لپاره کار وکړي.

د "دعوت" مجلې په دې ۳٦ کلن سفر کې د هغې د لوستونکو ملاتړ، د لیکوالانو ژمنتیا او د ټیم د ګډو هڅو پایله دا ده چې د دې اوږد سفر په ترڅ کې ستاسو مجله د علم، کلتور، هنر او ټولنیزو سیاسي او ادبي چارو په برخه کې د بې مثاله خدمتونو او نوښتونو له لارې خپل ځانګړی ځای او مقام خپل کړي.

د دې ۳٦ کلن بریالي خو ستونزمن سفر له پاره د خپلو ټولو قلمي همکارانو، لیکوالانو، مالی ملاتړو او لوستونکو د زړه له تله مننه کوم! ستاسو هڅې به هیڅکله نه هیریږي چې دا ۳٦کلن له نوښتونو او پرمختګ ډک رسنیز سفر یې یوه ښه نښه ده.

د دعوت مجلې د ۳٦مې کلیزې په ویاړ زه تاسې ټولو ته د زړه له کومې مبارکي وایم او خپل هېواد افغانستان ته مو د هر خدمت درناوی کوم!

کلیزه مو مبارک! مینه او درناوی

محمد طارق بزګر



**ښاغلی ډاکټر خوشال روهي د دعوت سره په مـرکه کې:**

**د افغانستان راتلونکی د اندیښنې وړ ګڼم**

**د جمهوریت د سقوط عوامل له هماغه پیل څخه د بن په کنفرانس کې رامنځته شول**



**استاد تره کی:**

**تشکیل لویه جرگه با این صلابت مظهر دو چیز است: یکی بیداری و شعور روبه رشد سیاسی پشتون ها و دیگری وجود جذبات قوی اتحاد قومی و ملی لر و بر**

**مخ پر وړاندې د خپلواک، سرلوړي، غښتلی، آباد او یو موټي افغانستان په لور**

# دعوت رسنیز مرکز د افغان ولس غږ

قدرمنو لوستونکو !

د دعوت رسنيز مرکز وياړي چي د خپلو بېلابېلو رسنيزو فعاليتونو د لياري د هيواد په دې ټاکونکو او حساسو شيبو کې په ملي افغاني روحيه تر خپله وسه هڅه کوي چې خپلو خلکو ته د خدمت مصدر وګرځي.

د دعوت ملي خپرونه د خاوري تماميت، ملي ګټو او د ملي يووالي د دفاع او ساتنې په مبارزه کې د افغاني پوهانو، عالمانو، ليکوالانو، او روڼفکرانو د پاره د قلمي جهاد پرانيستلی سنګر، هڅه کوي د دعوت درنو لوستونکو ته د هيواد او ولس کورني او بهرني دښمنان وروپېژني او تر ممکن حده د دوی خاينانه دسيسې او توطيې شنډې او خنثی کړي.

په هيواد کې د سولې، ولسواکۍ، ټولنيز عدالت، وګړيزو حقونو، د مطبوعاتو خپلواکي، د قلم او بيان د ازادي، او ټول افغان ولس ته د ژوندانه د لومړنيو بنسټيزو اسانتياو د برابرولو، او په لنډه که وواېو د دموکراتيکو لارو، نه د "زور، زر، او تزوير" د لارې، د افغانانو د غوڅ اکثريت په خوښه د يو غښتلي او ملي مرکزي ملي حکومت د جوړيدو منځ ته راتلل او د هغې ساتل او ملاتړ هغه موخه او هدف دی چې د هغه په رڼا کې د دعوت ملي خپرونه خپله مبارزه او سرښندنه مخ په وړاندې بيائي.

خو!

د دې څراغ د روښانه ساتلو د پاره د ګرانو لوستونکو مالي، قلمي مرستو او همکاريو ته د هر وخت نه خورا زيات ضرورت دئ، که زموږ د پاليسي او د دعوت د ملي خپروني د محتوا سره موافق ياست نو موږ د دې جوګه کړی چې د دعوت ميډيا خپروني او دعوت خپرونه د نړی او ګران افغانستان ګوټ ګوټ ته ورسوو، او د هغه نااميده هيوادوالو له پاره د اميد ډيوې روښانه کړو، کوم چې د ډول ډول ناخوالو له امله يې خپل اميد د لاسه ورکړی دی، او داسې چيرته چې افغان وي هلته دعوت وي ياني دا چې ډيرو هيوادوالو ته دعوت ورسيږي او زموږ هڅې به هله بيځايه نه وي چې يو زيات شمير هيودوالو ته مو دعوت رسولی وي او دې هدف ته رسيدل ستاسو درنو هيوادوالو او د دعوت مينه والو د مالي مرستو پرته ناشوني دي.

زموږ هيله د درنو لوستونکو څخه دا ده چې په دې لاره کې خپلې مرستې ونه سپموئ.

خپلې مالي مرستې په همدې مخ کې په ليکل شوي پته راواستوئ:
د بانک او يا هم د پاکټ په منځ کې د راجستر پوستې د لارې.
يو ځل بيا وايو :

((دعوت ميډيا د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي ډلې نمايندګي نه کوي او نه د خپلو خلکو پرته د چا پوري تړلې ده. دعوت ميډيا د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپروني کوي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د پخوا نه زيات اوس ستاسو مالي مرستو ته اړتيا لري))

ستاسو نه مخکې له مخکې مننه
د دعوت اداره

## دعوت مېډيا ستاسي او ستاسو له پاره

دعوت چې د ناروې د هيواد نه خپريږي. د افغان ولس پرته د هيواد د هيڅ سياسي او غير سياسي ډلې استازيتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ريښتينی غږ او د هغو له پاره خپريږي څوک چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئوليت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو ليکنو مسئوليت د درنو ليکوونکو په غاړه دی اوشرط نه دی چې هره ليکنه دې د دعوت د نشراتي پاليسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195

ISBN: 978-82-691395-2-5
ISBN 978-82-691395-2-5
9 788269 139525
Orgnr (Reg#): 985160058

د انترنت په نړيواله شبکه‌زموږ دويبپاڼې پته

www.dawatmedia24.com

زموږ د برېښنا ليک پته: dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړيوالو تاديآتو حساب

**Account for international payments:**
**NO15 0530 2294 668**
د وييس شميره: **Vipps: #557320**

**څنګه کولی شئ د دعوت مېډيا مالي مرسته وکړی:**

خپلې مرستې (پيسې) د بانک په پته راوليږي. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلک دي. د دعوت د خپلواکو رسنيو مرکز د فعال ساتلو او د شووژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د برياليتوب او لاښه پرمختګ زيری دی. هر افغان بايد تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئوليت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

# ډاکټر خوشال روهي د دعوت سره په مرکه کې:



## د افغانستان راتلونکې د اندېښنې وړ ګڼم

## زما په اند که طالبان په امنيتي برخه کې نسبتاً بريالي دي، خو په نورو برخو کې پاتې راغلي دي

**د دعوت په څېر ملي رسنيو ته ډېره جدي اړتيا ده او زما هيله دا ده، چې تاسې په لوړ همت، کلک هوډ او پراخې حوصلې دغه ملي رسالت ته همداسې دوام ورکړئ**

**دعوت میډیا: د افغانستان د روان وضعيت په اړه مو نظر څه دی؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** پدې کې شک نشته چې تر څو لسيزو پرله پسې جګړو وروسته په افغانستان کې درنې جګړې درېدلې دي، مرکزي حکومت د هېواد پر ټوله جغرافيه واکمن شوی، د قدرت جزېرې له منځه تللې او د آبادۍ ځينې کارونه هم روان دي، خو له بده مرغه د يو شمېر نورو ناخوالو تر څنګ د واکمنانو د ناسمو پاليسيو له کبله همدا نسبي لاسته راوړنې هم له بالقوه او بالفعل ګواښونو سره مخامخ دي.

طالبان په دوو برخو کې طلايي فرصتونه لري، له يوې خوا د سيمې او نړۍ مهم لوبغاړي ظاهراً په افغانستان کې له جګړې سره لېوالتيا نه لري او تر اوسه يې د جګړه غوښتونکو عناصرو او حتیٰ د طالبانو د سياسي مخالفينو براعلی ملاتړ نه دی کړی او تر کومه چې ماته معلومه ده، پر ډېرو ستونزو او نيمګړتياوو سربېره بيا هم له طالبانو سره د تعامل لېوالتيا لري. د غربي نړۍ ځينې ډيپلوماتان چې ما ليدلي، وايي چې پر دريو ټکو باندې يې پخپلو کې موافقه کړې ده، چې يو به د طالبانو د وسله والو مخالفينو ملاتړ نه کوي، بل به طالبان په بشپړه توګه نه منزوي کوي، خو په عين حال کې به يې په رسميت هم نه پېژني، مګر دا چې بشري حقونه او په ځانګړې توګه د ښځو بنيادي حقونه رعايت کړي، په حکومت کې له طالبانو پرته نورو ته هم د ګډون حق ورکړي او د ترهګرۍ پر وړاندې خپلې ژمنې پوره کړي. د سيمې هېوادونه که څه هم د افغانستان له خاورې څخه د افراطيت او ترهګرۍ په اړه جدي اندېښنې لري، خو هڅه کوي چې د اقتصادي اړيکو له لارې طالبان همکارۍ ته وهڅوي.

له بلې خوا په کور د ننه هېوادوال له اوږدو جګړو او د زورواکو، مافيا او قومي ټېکه دارانو له زورواکۍ څخه ستړي شوي او له همدې کبله يې پر جدي ستونزو سربېره بيا هم د پاڅون او بغاوت تابيا نده کړې.

له بده مرغه له دومره طلايي فرصتونو سره طالبانو بيا هم له تېر څخه زده کړه نده کړې او د انحصار، استبداد او افراطيت ناکامو نسخو ته يې ملا تړلې ده او يو ځل بيا يې هېواد له نويو ګواښونو او ننګونو سره مخ کړی دی. موږ ګورو چې له ولس او نړيوالې ټولنې سره واټن ورځ په ورځ زياتېږي او هره شېبه امکان شته چې د سيمې او نړۍ په کچه سناريوګانې بدلې شي او موجوده فرصتونه له منځه لاړ شي. ولس د طالبانو له استبدادي او انحصاري پاليسيو څخه ستړی شوی دی، ښايي يو څه موده نور هم پر نسبي امنيت اکتفا وکړي او موجوده وضعيت وزغمي، اما ولس ويښ شوی او له مدني آزاديو او پرمختګونو سره آشنا

شوی او د امارت د تېرې دورې په څېر يې توقعات يوازې پر امنيت محدود نه دي.

**دعوت میډیا: د اوس لپاره ستاسو په نظر افغانستان له څه ډول خطر سره مخ دی؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** موږ ګورو چې يو شمېر پخوانۍ ډلې او زورواکي هڅه کوي چې نړيوالو ته قناعت ورکړي او د جنګ پروژې واخلي، که څه هم نړيوالو تر اوسه پدې اړه کومه جدي لېوالتيا نده ښودلې، خو که طالبان د افراطيت او جهادي مدرسو اجنډا ته همداسې دوام ورکړي، ښايي د جنګ پروژې يو ځل بيا خپل ملاتړي پيدا کړي. کله چې په هېواد کې فقر او بېکارۍ د بحران په کچه موجوده وي، خلک له نظام سره د پرديتوب احساس وکړي او يا هم د محروميت، محکوميت او مظلوميت احساس ولري، په ډېرې آسانۍ او ارزانۍ سره کېدای شي جنګيالي ترې استخدام شي. پدې توګه له فقر، لوږې، تندلارۍ او انزوا سره موږ نه شو کولای د جګړې بالقوه ظرفيتونه له پامه وغورځوو او ما ته تر ټولو مهم خطر همدا ښکاري.

**دعوت میډیا: د طالبانو له واکمنۍ درې کاله تېر شوې، تاسو يې دا درې کاله واکمني څه ډول ارزوئ؟**

که څه هم له نېکه مرغه درنه جګړه درېدلې او د قدرت جزيرې له منځه تللې، خو له بده مرغه افغانستان بيا هم له بحران څخه ندی راوتلی او لا هم د پرديو مرستو ته احتياج دی. طالبان په دي نه دي بريالي شوي چې ملي او نړيوال مشروعيت ترلاسه کړي او د قانون واکمني حاکمه کړي، لا هم نړۍ ته د دښمن په سترګه او ولس ته د يرغمل په سترګه کتل کېږي، مدني آزادۍ او بشري حقونه تر پښو لاندې کېږي، شخصي حريم خوندي نه دی، رسنۍ او د بيان آزادي تر سخت سانسور لاندې ده او په ځانګړې توګه ښځې له خپلو ډېرو بنيادي حقونو څخه محرومې شوې او په سيستماتيک ډول د ژوند له سياسي، ټولنيز او اقتصادي ډګر څخه حذف کېږي. د افغانستان کدري ظرفيت سخت زيان ليدلی، په لکونو کدرونه مو له هېواده وتلي او يا هم په وتلو دي او په ميليونونو هېوادوال مو د مهاجرت سخت کړاوونه ګالي. پدې توګه مو هېوادوال د ژوند په هېڅ ډګر کې د مصئونيت احساس نه کوي او د راتلونکي په اړه هم ناهيلي دي. نو زما په اند که طالبان په امنيتي برخه کې نسبتاً بريالي دي، په نورو برخو کې پاتې راغلي دي.

**دعوت میډیا: طالبان ولې د ملي او نړيوالو عامه افکارو پر خلاف د دريځونو په نيولو سره د ځان لپاره جنجال او سرخوږی جوړوي؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** زما په اند دوه مهم عوامل دي، يو دا چې طالبان لا هم د جنګ او جهاد د دورې له ذهنيت څخه ندي راوتلي او د يوه حکومت په توګه يې د ولس او نړيوالو پر وړاندې نه يوازې خپل مسئوليتونه په دقيق ډول نه دي درک کړي، بلکې هغوی ته د شک او حتی دښمنۍ په سترګه ګوري. دوی فکر کوي چې نړۍ او ناټو يې ماته کړې او واک يې د برچې په زور نيولی او د خپلې واکمنۍ د دوام لپاره هم يوازې د برچې په زور تکيه کوي، حال دا چې تر دوی پخوا هم حکومتونه په زور نيول شوي وو او په زور چلېدل، خو يو هم تر منزله ونه رسېد. په پيل کې معمولاً ولس حوصله کړې او د اصلاح په تمه يې انتظار کړی، خو کله چې ولس ناهيلی شوی او له نظام څخه يې مخ اړولی، نو بيا ډېر زورور حکومتونه هم ندي ټينګ شوي.



دويمه خبره دا ده، چې که څه هم د طالبانو مشران ټول په يوه نظر نه دي، خو هغه مشران يې چې د پرېکړې اصلي واک لري، فکر کوي چې د شرعي نظام اقتضأ همدا ده چې دوی يې کوي او د برياليتوب راز پدې کې ويني چې په اصطلاح کفار خوابدي کړي. د ولس په اړه خو دوی فکر کوي، چې ګمراه شوی او بايد لارې ته راشي او پدې دې شکر وباسي چې عفوه ورته شوې ده. که څه هم د طالبانو په يو شمېر مشرانو کې د موجوده پاليسيو په اړه د نارضايتۍ او ناخوښۍ نښې ليدل کېږي، خو تر اوسه د

مشر د پرېکړو پر وړاندې نه دي درېدلي او د موجوده پالیسیو پر بدلولو نه دي بریالي شوي.

**دعوت میډیا: کولی شئ د ملي محور گوند په اړه چې مشري يې ستاسو ده د دعوت رسنۍ لوستونکو ته معلومات ورکړئ؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** ملي محور خپل مزل شاوخوا ۱۵ کاله وړاندې د ویښ افغان په نامه د یوه ټولنیز اصلاحي تحریک په توګه پیل کړی او هغه مهال یې ډېر تمرکز د ټولنې پر ویښتیا، روڼتیا او اصلاح و او د جهل، تشدد، فساد او نفاق پر وړاندې یې مبارزه کوله، وروسته د ځوانانو دوه نور خوځښتونه ( ویښ ځوانان او د نن ځوانانو مدني ټولنه) هم ورسره یو ځای شول او د افغان ملي غورځنګ په نامه یې یو سیاسي غورځنګ رامنځته کړ، چې د سولې، ټولنیز عدالت، خپلواکۍ او ولسواکۍ لپاره یې مبارزه کوله او پدې لړ کې یې یو شمېر مهم لاریونونه او کمپاینونه ترسره کړل. په افغانستان کې د یوه ملي سراسري سیاسي ګوند اړتیا ته په کتو سره افغان ملي غورځنګ پرېکړه وکړه، چې خپل فعالیتونه د یوه سیاسي ګوند په تشکیل کې منظم کړي او په همدې موخه یې په ۲۰۱٦ کال کې خپله لومړۍ کنګره جوړه او د یوه سیاسي ګوند جوړول اعلان کړل او د افغان ملي غورځنګ نوم په ملي محور واوښت.

ښايي د ملي محور اهداف د ځینو نورو ګوندونو په اساسنامو کې هم راغلي وي، خو د ملي محور ځینې ځانګړتیاوې دا دي:

- پر داسې مهال چې په افغانستان کې اکثر سیاسي ګوندونه د قدرت یا ثروت په محور جوړېدل، موږ تصمیم ونیوه چې خپل غړي به د فکر، اصولو او ارزښتونو په محور راټولوو.
- پداسې حال کې چې اکثر ګوندونو پر لنډمهاله روزمره ګۍ، عکس العملي او امتیازي مبارزو تمرکز درلود، زموږ هڅه دا وه چې پر اوږدمهاله، بنیادي او ستراتیژیکه مبارزه سرمایه ګذاري وکړو.
- کله چې زیاتره ګوندونه د یوه کلیدي شخصیت د قدرت یا کاریزما په محور چورلېدل، ملي محور هڅه کوله چې د جمعي رهبرۍ تر چتر لاندې یو داسې ګوندي سېستم رامنځته کړي چې موجودیت یې د یوه شخص پر ځای له اصولو، ارزښتونو او پیاوړي کدري ظرفیت سره تړلی وي. همدا دلیل و چې د ملي محور په مشرتابه کې هېڅ مشهور چارواکی، زورواکی او زرواکی موجود نه و، البته وروسته د محور یو شمېر غړي ځینو مهمو چوکیو ته ورسېدل.



- پداسې حال کې چې په هېواد کې د قومي، سمتي او مذهبي اجنډاګانو او شعارونو بازار تود و، د ملي محور هڅه دا وه چې ولس د ملي روحیې، ملي فکر او ملي ارزښتونو پر بنسټ راټول کړي او له نېکه مرغه موږ پدې بریالي شو، چې د ملي محور غړي په ملي مفکوره سمبال کړو او د نفاق او توپیر هر ډول طرز فکر له منځه یوسو.
- هغه وخت چې اکثر ګوندونو هڅه کوله چې په واک کې شریک شي او د اهدافو عملي کېدل یې هم یوازې د واک له درلودو سره تړلي و، خو ملي محور پدې پوهېده چې اصلي واک پردی دی او په واک کې یې د شریکېدو پر ځای هڅه کوله چې د ولس غږ او د ځار او فشار ځواک شي او له بحران څخه د وتلو پر بنیادي حل لارو کار وکړي.

ځرنګه چې له بده مرغه په افغانستان کې د ارماني او ارزښتي مبارزې فرهنګ له منځه تللی، موږ پوهېدو چې

معنوي مبارزه چندان جذابيت نه لري او خلک د اوږدمهاله ستراتيژيکې مبارزې حوصله نه لري او پر ځای يې له لنډمهاله او نغدو ګټو سره علاقه ډېره ده، خو موږ پدې هم ډاډه و چې که څوک په شعوري ډول او له کلک تعهد سره راځي، بيا به تر پايه پورې راسره درېږي. همدا دليل و، چې کله جمهوريت نسکور شو، اکثريت سياسي ګوندونه غيب شول، خو ملي محور نه يوازې تر اوسه پورې ژوندی دی، بلکې خپلو فعاليتونو ته يې دوام ورکړ او جذب يې تر پخوا لا ډېر شو.

**دعوت ميډيا: د هېواد په کومه برخه او د ولس کوم قشر مو مل او د ملي محور ګوند غړيتوب لري؟**



**ډاکټر خوشال روهي:** ملي محور د هېواد په بېلابېلو ولايتونو کې څانګې لري او د ولس د هر قشر استازي پکې شته، خو زياتره يې ځوانان او علمي او تخصصي کدرونه دي. د يادونې وړ ده، چې په ملي محور کې د ښځو ونډه هم ډېره پراخه ده او ځانګړې څانګې لري.

له هېواد څخه بهر هم ملي محور په ګڼ شمېر هېوادونو کې غړي لري او په برتانيه، جرمني، امريکا او کاناډا کې منظمې څانګې لري. څرنګه چې په هېواد کې د ننه د اختناق او استبداد فضا حاکمه ده، موږ نه غواړو چې غړي مو له ستونزو او ګواښونو سره مخامخ کړو، بلکې هڅه کوو چې د غږ پورته کولو مسئوليت تر ډېره بريده د محور بهر مېشته غړي پر غاړه واخلي.

**دعوت ميډيا: ستاسو د ګوند اساسي غوښتنې څه دي؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** ملي محور بشري، اسلامي او افغاني ارزښتونو ته ژمن دی او د همدغو ارزښتونو په پام کې نيولو سره د ملي ارادې تمثيل لپاره ولسواکي تر ټولو غوره لار ګڼي.

زموږ هيله دا ده چې افغانان د دې واک ولري، چې خپل سياسي برخليک پخپله وټاکي، په سوله کې باعزته ژوند وکړي، چا ته يې لاس اوږد نه وي، له خپل هېواد څخه په تېښته نه وي او هر فرد يې د جنس، قوم، ژبې، قشر، سمت او مذهب له توپير پرته په افغانستان کې د بشپړ مالکيت احساس وکړي، له ټولو بنيادي انساني حقوقو څخه برخمن وي او پخپلو کې د زغم، ورورۍ او ملي يووالي په روحيه ژوند وکړي.

البته موږ دا توقع نه لرو چې د طالبانو په وجود کې به دا اغوښتنې ترسره شي، ځکه چې طالبانو شل کاله د جګړې په سنګرونو کې تېر کړي، له اسلام څخه نسبتاً افراطي او متشدد تعبير لري، ولسواکي او مدني آزادۍ د کفارو خبرې بولي او عصري علوم هم د ګمراهۍ عوامل ګڼي. څرنګه چې د طالبانو پر وړاندې تر اوسه کوم پياوړی ملي بديل نشته، زموږ هڅه به دا وي چې طالبان د مدني مقاومت او سوله ييزې مبارزې له لارې دومره اصلاحاتو ته وهڅوو، چې افغانستان له اوسني بشري بحران څخه راووځي او افغانان لږ تر لږه پخپل هېواد کې د تنفس فضا پيدا کړي، خو د ايډيال افغانستان لپاره او د دې لپاره چې زموږ هيلې او ارمانونه پوره شي، موږ بايد خپل ملي مسئوليتونه ترسره کړو. زموږ په اند د دې اړتيا ده، چې په لاندې څلورو موازي استقامتونو کې جدي کار وکړو:

لومړی، په اوږده مهال کې افغانستان يو څو پياوړو ملي ګوندونو ته اړتيا لري او په دې استقامت کې بايد منظم، دوامداره او سېستماتيک کار وشي. هغه افغانان چې د جنګ په ځای پر سياسي مبارزې باور لري، بايد د فکري اشتراکاتو پر بنسټ پر يو څو سياسي محورونو راټول شي.

دويم، د لنډ مهال او عاجلې حل لارې په توګه د يوه ملي بديل د جوړولو په موخه ملي، دموکرات او سوله خوښې

حرکتونه باید د واضحو اهدافو، اصولو او میکانیزم پر بنسټ همغږي او یو لوی اتحاد رامنځته کړي.

درېیم، په افغانستان کې ملي تفاهم ، یووالي، سیاسي ثبات او تلپاتې سولې په موخه د ملي ډیالوګ او پخلاینې د بهیر اړتیا ده. تاسې پوهېږئ، افغان ولس چې بېلابېلو پوځي، استخباراتي، ایډیالوژیکو او فرهنګي یرغلونو، کورنۍ جګړو او سیاسي بحرانونو سخت ځپلی او په بېلابېلو نومونو او پلمو یې سره وېشلی، د ملي ډیالوګ یوه اوږده، هر اړخیز او ټولګډوني بهیر ته اړتیا لري. زما په نظر دا بهیر باید لومړی د ملي قوتونو تر منځ پیل او بیا د ولس ټولو پرګنو او اقشارو ته وغځول شي او بالآخره متخاصمې ډلې هم خبرو ته سره کښېنوي.

څلورم استقامت چې زما په نظر ډېر مهم دی، خو له بده مرغه له پامه غورځېدلی، د وطنپالنې، ملي تعهد، مسئولیت منلنې، صداقت، زغم او درناوي فرهنګ احیأ او پیاوړتیا ده. متأسفانه تېرې پنځه لسیزې د بې مسئولیتی، بې تفاوتی، تیارخوری، تشو خبرو او نیوکو، تور لګولو، شخصیت وژنې، بې باوری او بې ژمنتوب یو منحط فرهنګ رامنځته شوی، چې د پیاوړو ملي حرکتونو او ملي مبارزو مخه یې نیولې ده. موږ اړ یو چې د پورتنیو درېیو استقامتونو تر څنګ د یوې منظمې ستراتیژۍ له مخې د دغه منحط فرهنګ د سمون او بدلون لپاره په موازي ډول مبارزه وکړو او که دا کار ونه کړو، که هر څومره ښې طرحې او پلانونه ولرو، بیا به یې هم عملي کول ډېر ګران وي.

### دعوت میډیا: د ملي محور د ګوند جوړولو انګېزه څه وه؟

**ډاکټر خوشال روهي:** څو لسیزې وې چې افغانستان په پرله پسې غمیزه، بحران او د جنګ، جهل، فساد، نفاق او بلواکۍ په خبیثه کړۍ کې ایسار و او له دې وضعیت څخه نه د وتلو کومه ډاډمنه رڼا ښکارېده او نه هم د خلاصون لپاره کوم ډاډمن ملي بنسټ یا قوت موجود و. کله چې په یوه هېواد کې بحران وي، معمولاً د هغه هېواد ملي بنسټونه یا Institutions کولای شي هېواد له بحران څخه وژغوري. دا بنسټونه یا په دولت کې د ننه وي، لکه پیاوړې اجرائیه، مقننه او قضائیه قوا، پیاوړي امنیتي ځواکونه او یا هم له دولت څخه بهر وي، لکه پیاوړې ملي ګوندونه، رسالتمنده مدني ټولنه او خپلواکې ملي رسنۍ.

که څه هم د جمهوریت په کلونو د دې بنسټونو د جوړښت لپاره په نسبي ډول ښه زمینه او فرصتونه برابر وو، خو تر ډېره بریده واک او ځواک د زورواکو، قومي ټېکه دارانو او مافیا له خوا یرغمل شوی و او د ملي بنسټونو د جوړښت مخه یې په دولت کې د ننه او بهر نیوله او تر څنګ یې د ملي او معنوي ارزښتونو د انحطاط له کبله سیاسي او مدني مبارزې د زر او زور په محورونو ورټولې وې.

که څه هم زموږ ملګري زیاتره په فرهنګي او مدني فعالیتونو



کې بوخت وو، خو د هېواد پرله پسې ناخوالو او د راتلونکي په اړه ناهیلیو دې ته متوجه کړو، چې د افغانستان اصلي ستونزه سیاسي ده او سیاسي ستونزه سیاسي حل او سیاسي ځواک ته اړتیا لري او له بده مرغه سیاسي ځواک د داسې کړیو په لاسو کې یرغمل و، چې د ملي ګټو پر ځای یې شخصي، تنظیمي او قومي ګټو ته لومړیتوب ورکولو. موږ لیدل چې د افغانستان سیاسي برخلیک په ناپاکو لاسونو کې یرغمل دی، نو دې نتیجې ته ورسېدو چې تر څو پاک او

سالم خلک د سیاست میدان ته راونه وځي، زموږ برخلیک به تل د همدوی په لاسو کې وي او تر څو چې پیاوړي ملي بنسټونو رامنځته نه شي، هېواد به مو همداسې په بحرانونو کې ښکېل وي.

موږ پدې عقیده وو او یو، چې که په پرمختللو هېوادونو کې سیاست د یو شمېر مسلکي خلکو او د سیاست د مینه والو په لاس کې وي او ولس یوازې د ټاکنو پر مهال او یا ځینو ځانګړو مواردو کې راوځي او د خپل هېواد د سیاسي برخلیک په ټاکلو کې برخه اخلي، خو څرنګه چې په افغانستان کې زموږ سیاسي، اقتصادي، ټولنیز او حتی شخصي ژوند، امنیت، عزت او خپلواکي مستقیماً له سیاست سره تړلي، نو سیاست یوه انساني، ملي، اسلامي او حتی کورنۍ وجیبه ده. کله چې موږ په خپل هېواد کې ظلم، فساد او ناروا ګورو، دا د هر افغان مسئولیت دی چې پر وړاندې یې ودرېږي او زموږ دربدل به هغه وخت اغېزناک وي، چې هدفمند، منظم، ډله ییز او متداوم وي.

زموږ لپاره نور دا د ننګ خبره وه، چې په کور د ننه او بهر مو واک او اختیار د شریرو او فاسدو عناصرو په لاس کې وي. په همدې دلیل موږ یو شمېر همفکره ملګرو پرېکړه وکړه، چې د سیاست میدان ته به راوځو او د یوه داسې پیاوړي ملي - سیاسي بنسټ او غورځنګ تشه به ډکوو چې د افغانستان ملي ګټو، خپلواکۍ، سرلوړۍ او سوکالۍ ته ژمن وي.

**دعوت میډیا: آیا ملي محور ګوند به وکولای شي، د یوه لوی ملي سیاسي ګوند تشه ډکه کړي؟**



**ډاکټر خوشال روهي:** که څه هم ملي محور د یوه لوی ملي سیاسي ګوند کېدلو ډېر ښه ظرفیتونه لري، لکه پیاوړي، پاک او ژمن کدرونه، ملي اهداف، ملي اجنډا او ترکیب، د هېواد په بېلابېلو ولایتونو او بهرنیو هېوادونو کې څانګې او غړي؛ خو پر وړاندې یې ډېر لوی خنډونه او درنې ننګونې هم پرتې دي:

- موږ پوهېږو چې یو شمېر خلک له ګوند او سیاست څخه ډډه کوي او د هېواد د ټولو بدمرغیو عوامل همدا ګوندونه ګڼي. زموږ په اند دا پخپله یوه دسیسه ده، چې پاک او ژمن خلک له سیاست څخه زړه توري وساتي او سیاسي واک د ځانګړیو کړیو په انحصار کې پاتې شي. د افغانستان د تېرې نیمې پېړۍ تاریخ ته که وګورو، په همدې موده کې مشروطه شاهي، آوتوکراتیک جمهوریت، د خلقیانو او پرچمیانو پرولتاري ډېکتاوري او سوسیالېزم (؟)، د تنظیمونو اسلامي دولت، د طالبانو اسلامي امارت او امریکایي دموکراسي وازمایل شوه او له بده مرغه ټول نظامونه ناکام شول، حال دا چې موږ په سیمه او نړۍ کې د همدې نظامونو ډېرې بریالۍ بېلګې لرو. دا پدې معنا ده چې مشکل ټول په نظامونو کې نه و، بلکې ځینې نور بنیادي عوامل د دې ناکامیو تر شا پراته وو، چې ژورې څېړنې ته اړتیا لري. همداراز ستونزه په ګوندونو کې نده، بلکې موږ ګورو چې د اکثریت پرمختللیو، ولسواکو او باثباته نظامونو بنسټ د سیاسي ګوندونو پر ستنو ولاړ دی.
- بله ستونزه دا ده، چې یو شمېر روڼ اندي او مطرح شخصیتونه دې منتظر دي، چې یو ځل یو ایډیال ګوند ( د واک، ځواک، فکر او ترکیب له مخې) رامنځته شي بیا به دوی ورځي، حال دا چې ایډیال ګوند نه له

آسمان څخه راځي او نه يې پردي راته جوړولی شي، بلکې زموږ ملي مسئولیت همدا دی چې د یو ایډیال ګوند په جوړولو کې خپل رسالت ادا کړو.

- بله خبره لکه مخکې چې هم اشاره ورته وشوه، په افغانستان کې د ملي او معنوي ارزښتونو له انحطاط سره له بده مرغه د ارزښتي او معنوي مبارزې پر ځای د بې مسئولیتی او تیارخوری فرهنګ حاکم شوی او تل تمه کېږي چې نور به راځي او د دوی مسئولیتونه به پرغاړه اخلي.
- له بلې خوا دې فرضیې، چې یوازې هغه څه ممکن دي چې زبر ځواکونه يې غواړي او هر څه د زبر ځواکونو له لوري سنجول شوي او پلان شوي او موږ هیڅ نه شو کولی، یو ډول يې د خلکو سیاسي اراده فلج کړې او د پیاوړو سیاسي ګوندونو د جوړېدو مخه يې نیولې ده.
- د دې تر څنګ د پرله پسې جګړو او راز راز یرغلونو له کبله د ولس تر منځ د نفاق بېلابېل تخمونه شیندل شوي او د شک او بې باوری فرهنګ يې دود کړی او پر یوه ملي محور راټولېدل يې ډېر سخت کړي دي.

پدې توګه که څه هم په افغانستان کې د لویو سیاسي ګوندونو جوړېدل له ډېرو ننګونو سره مخ دي، خو ملي محور هوډ لري چې له یوې خوا به د لوړو ملي اهدافو لپاره منظمه مبارزه کوي او له بلې خوا به په موازي توګه د ملي او معنوي ارزښتونو، ملي یووالي او تفاهم د احیأ لپاره د یوې دقیقې ستراتیژۍ له مخې کار کوي او ژمن دی چې د یوه لوی ملي سیاسي ګوند تشه به ډکوي.

**دعوت میډیا: تاسو د یوه مدني او فرهنګي فعال په توګه افغانستان کې د مدني او فرهنګي فعالیتونو نن او راتلونکی څنګه وینئ او که فکر کوئ دې ډول فعالیتونو ته اوس په هېواد کې ځای نشته؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** شاوخوا دوه کاله وړاندې طالبانو زه استخباراتو ته احضار کړی وم، د اداري د رئیس لومړی خبره دا وه چې یو نظامي اشغال دی او بل فکري اشغال، نظامي اشغال مو مات کړ خو فکري اشغال لا هم دوام لري، او فکري اشغال یعنې همدا سیاسي ګوندونه او مدني ټولنې. همدې ته ورته خبره مې له یوه بل طالب چارواکي څخه هم واورېده، چې وسله وال مخالفین دومره خطرناک نه دي، ځکه چې یا به وځپل شي او یا به هم معامله ورسره وشي، خو اصلي خطرناک فکري مخالفین دي. د مدني او فرهنګي فعالیتونو په اړه د طالبانو اصلي برداشت او طرز فکر همدا دی او په ټول توان هڅه کوي چې مخه يې ونیسي. سیاسي ګوندونه او مدني ټولنې لغو شوې او د عدلیې په وزارت کې د همدې برخې ریاست له منځه لاړ، پر سیاسي او مدني فعالیتونو، غونډو، اعتراضونو کلک بندیز ولګېد او پر رسنیو هم جدي کنټرول او سانسور وضع شو. دوی نه یوازې د مدني فعالیتونو مخه نیسي، بلکې په مجموع کې د هر ډول متفاوت فکر او نظر مخه نیسي، تر دې چې ځینې يې غیر طالب ته حتی د مشورې او پوښتنې اجازه هم نه ورکوي.



که څه هم د طالبانو له دې پالیسیو سره د سیاسي او مدني فعالیتونو پر وړاندې جدي خنډونه او ستونزې رامنځته شوې، خو دوی نه شي کولای چې په بشپړه توګه يې مخه ونیسي. د جمهوریت په دوره کې پر ډېرو نیمګړتیاوو سربېره یوه پیاوړې مدني ټولنه او د مدني فعالیتونو قوي

فرهنګ او دود رامنځته شو، په زرګونو مدني بنسټونه او په سلګونو رسنۍ جوړې شوې، که څه هم دغه دود تر یوه حده د پیاوړو سیاسي ګوندونو مخه هم ونیوله او د سیاسي او ټولنیز ژوند د ډېرو نورو برخو په څېر له فساد څخه خوندي پاتې نه شو، خو په مجموع کې یې د ولس له ویښتیا، عامه پوهاوي، داوطلبانه کارونو او متشکلو فعالیتونو له پراختیا سره ډېره مرسته وکړه. باید ووایم، چې مدني ټولنه کومه کفري یا کاملاً پردۍ پدیده نه ده، بلکې ټولو هغو غیر دولتي او غیر انتفاعي داوطلبانه فعالیتونو ته وایي، چې د خیر، ښېګڼې، خدمت، ویښتیا، رفاه، عدالت او پرمختګ په موخه ترسره کېږي. پدې کې زموږ قومي شورا ګانې، دودیزې جرګې، مرکې او اشرونه هم راتلی شي.

زما په نظر مدني او سیاسي فعالیتونو به دوام وکړي، خو بڼې او تکتیکونه به یې بدل شي، د حضوري فعالیتونو پر ځای به مجازي فعالیتونه ډېر شي او د کور مېشته هېوادوالو په پرتله به بهر مېشته هېوادوال ( افغان ډیاسپورا) ډېر فعال شي.



**دعوت میډیا: اوس د یو سیاسي فعال په توګه د افغانستان نن او راتلونکې څنګه وینئ؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** په اوسنیو شرایطو کې له طالبانو څخه د افغانستان د خلکو توقعات ډېر لوړ نه دي، نسبي آزادي، د بشر د بنیادي حقونو رعایت او د ولس پر مخ له توپیر پرته د حکومت د غیرې پرانیستل او په لویو ملي مسئلو کې له ولس سره مشوره به له یوې خوا د ولس نسبي رضایت ترلاسه کړي او له بلې خوا به له سیمې او نړۍ سره د ښو اړیکو دروازې خلاصې کړي، خو که طالبان مطلق انحصار، استبداد او خپلې جهادي اجنډا ته دوام ورکړي، نو خامخا به هم له ولس سره او هم له نړۍ سره ټکر ته ځي. اوس د افغانستان د سیاسیونو او منوره طبقې پر غاړه ده، چې د داسې یوې ورځې لپاره څومره تیاری نیولی شي او څنګه یو ملي بدیل رامنځته کولی شي. له بده مرغه ملي ډلې او شخصیتونه د درې نیمو کلونو په تېرېدو سره لا هم په دې نه دي بریالي شوي چې یو پیاوړی پلټفورم یا اتحاد رامنځته کړي او علت یې هم تر ډېره ځانځاني او سلیقه یي اختلافات دي.

که ملي او روڼ اندي ډلې په نږدې وخت کې د ملي بدیل او محور په جوړولو بریالۍ نه شي او طالبان هم خپلو تندلارو تګلارو ته دوام ورکړي، نو لرې نه ده چې دوی به پخپله ځانونه راوپرځوي، ځکه چې همدا اوس طالبان هېڅ جدي او پیاوړي مخالفین نه لري، بلکې دوی پخپله د خپل نظام تر ټولو جدي دښمنان دي.

پدې حساب د افغانستان راتلونکی د اندېښنې وړ ګڼم، ځکه چې پخواني زورواکي او مافیا ډېره هڅه کوي، چې بیا د جنګ پروژې واخلي او که پخوا به یې د واک د وېش پر سر نانډرۍ وهلې، دا ځل د وطن د وېش لپاره لابي کوي. زه وېرېږم چې د طالبانو د سرټمبګۍ او د ملي ډلو د بې کفایتۍ له کبله به خدای مه کړه دا ځل افغانستان په داسې یوه غمیزه کې ښکېل شي، چې سلامت راوتل به ترې ګران او حتی ناشوني وي.

**دعوت میډیا: تاسو د نجونو پر مخ د ښوونځیو، پوهنتونونو او کار دروازې تړل څنګه وینئ؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** بشریت، مدنیت او اسلام ټول ښځو ته د زده کړو او کار حق ورکوي او د افغانستان د ملي ګټې اقتضأ ده چې نه یوازې ښځو ته دا حقونه ورکړل شي، بلکې ځانګړې توجه هم ورته وشي، ځکه چې همدا اوس هم افغانستان تر چاد وروسته دویم هېواد دی، چې د باسواده ښځو کچه پکې تر ټولو ټیټه ده. د نړۍ په کچه د باسواده ښځو اوسط سلنه ۸۲.۷ ده، حال دا چې دا سلنه په افغانستان کې ۲۲،٦ ده او په پرمختللې نړۍ کې او حتی زموږ په ځینو ګاونډیو هېوادونو لکه تاجیکستان، ازبکستان او ترکمنستان کې دا سلنه ۹۹ ته رسېږي. زه هغو دلایلو ته

نه ځم چې بشري حقونه او اسلام د ښځو د کار او زده کړې په اړه څه وايي، ځکه چې پدې اړه ډېرې ليکنې او بحثونه شوي او ما ته ډېر د تأسف ځاى ښکاري، چې موږ لا هم د داسې يوې موضوع د اثبات په اړه بحثونه کوو او خپل وخت او انرژي پرې ضايع کوو، چې په ټوله نړۍ کې يو مسلم او منل شوى حق او اصل ګڼل کېږي او حتى ډېر خلک يې تصور هم نه شي کولى چې يو دولت دې په لوى لاس د وطن لوڼې له زده کړې او کار څخه منع کړي. زه يوازې دا وايم، چې د افغانستان خلک اوس دومره ويښ شوي چې پر خپلو خويندو او لوڼو دا ډول جاهلانه او ظالمانه بنديزونه، نه شي منلى او د طالبانو له واکمنۍ سره د ولس او نړيوالې ټولنې د اختلاف او ټکر تر ټولو مهم ټکى همدا دى. يو وخت چې د پوهې کچه ټيټه وه، حکومت به ښوونځي جوړول خو خلکو به خپل بچيان ترې پټول، خو اوس چې خلک پوه شوي او ښوونځي غواړي، له بده مرغه واکمنان ځانونه پټوي. زما په اند که دا بنديزونه عمدي وي او يا له ناپوهۍ څخه، د افغانستان له ملي ګټو سره څرګنده دښمني ده. که د اسامه بن لادن موضوع د طالبانو د لومړي امارت د نسکورېدو لامل شوه، ښايي د ښځو د حقونو مسئله يې د دويم امارت د نسکورېدو لامل شي.

**دعوت میډیا: تاسو او ملګرو مو د نجونو پر مخ د ښوونځيو د پرانيستلو او حقونو لپاره غږ پورته کړى او کابل ته هم د يوه پلاوي په بڼه تللي وئ، د خپلو دغو هڅو او فعاليتونو څخه څومره راضي یاست او د نوو واکمنو نظر او وعدې څه وې؟ دغو ليدنو درته اميد پيدا کړ او که برعکس؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** څه کم دوه کاله کېږي چې موږ د نجونو د زده کړو ملي کمپاين پيل کړى او د نجونو د تعليمي حقونو لپاره د اعلاميو، مرکو، ليکنو، غونډو، ترلو او پرانيستي ليکونو او سوشل مېډيا له لارې خپل غږ پورته کړى دى. د کمپاين په ايکس ( ټويټر) سپېسونو کې څو ځلې له موږ څخه غوښتنه وشوه چې کابل ته لاړ شو او له چارواکو سره مخامخ موضوع مطرح کړو. همداسې مو وکړل او په تېر اپريل کې د يوې جرګه ګۍ په توګه کابل ته لاړو او هلته مو د طالبانو له اکثريت کليدي مشرانو او چارواکو سره وليدل. موږ په خپلو ليدنو کې نه يوازې د ښځو د تعليم او کار د حقونو مسايل مطرح کړل، بلکې د يو شمېر نورو ملي مسايلو، لکه د ملي ارادې د تمثيل له لارې د يوه ټولمنلي نظام د جوړېدو په اړه، د ملي ډيالوګ او ملي پخلاينې د اړتيا په اړه، د لويې جرګې، اساسي قانون، مسلکي حکومت او نورو مهمو موضوعاتو په اړه مو سپينې او جدي خبرې ورسره وکړې، البته ډېر تمرکز مو د نجونو د تعليم پر مسئلې و. اکثريت مشرانو د نجونو تعليم يو مشروع حق بللو او په عمومي توګه يې ډاډ راکولو چې پدې برخه کې به خپل کوشش کوي. ځينو مشرانو، لکه د کورنيو چارو وزير سراج الدين حقاني به د جدي کوشش ژمنه کوله او ځينو به يې بيا تر څنګ د امير د اطاعت او د نظام د مصلحت خبره هم کوله. د هيله مندۍ خبره دا وه، چې اکثريت مشران يې د امير د پرېکړې خلاف او د حل لارې په فکر کې وو، خو د ناهيلۍ خبره دا وه، چې د امير پر وړاندې يې د درېدو جرئت نه درلود او داسې ښکارېده چې د امارت واک او اراده يوازې د يوه کس يا وړې ډلې له خوا يرغمل شوې ده. که څه هم موږ د طالبانو د مشرتابه ترمنځ د نجونو د تعليم او د ښځو د حقونو په برخه کې يو جدي تحرک رامنځته کړ، خو پر نتايجو قضاوت وکړو، زموږ تر سفر وروسته پر ښځو باندې نور بنديزونه هم ولګېدل او حتى له طبي زده کړو څخه هم منع شول. زما په نظر په کابل کې د طالب مشرانو عذر او استدلال قطعاً د توجيه وړ نه دى. موږ په ډاګه ورته وويل، چې مصلحت په چوپتيا کې نه دى، بلکې تاسې په خپلو کې همغږي وکړئ او په يوه خوله يا خپل امير ته قناعت ورکړئ او يا يې د پرېکړې پر وړاندې ودرېږئ، ځکه چې همدا موضوع د ډېرو نورو جدي ستونزو لامل شوې او حتى ستاسو د امارت بقا يې له ګواښ سره مخ کړې ده.

په هر حال، يا به د دوى درک له موږ سره توپير لري، يا به يې له موږ سره په اصطلاح ډيپلوماسي کوله او يا به د چوکۍ مينې له دوى څخه د غږ پورته کولو جرئت سلب کړى و، ځکه چې زموږ د معلوماتو له مخې د لوړو زده کړو پخوانى وزير عبدالباقي حقاني له همدې کبله له وزارت څخه لرې

شو. د یادونې وړ ده، چې موږ هڅه وکړه په کندهار کې د طالبانو له مشر سره وګورو او مخامخ دا موضوع ورسره مطرح کړو، خو له بده مرغه بریالي نه شو.

**دعوت میډیا: تاسو د یوه ډاکتر په توګه د ښوونځیو، لوړو زده کړو او کار بندیز تأثیر په رواني لحاظ پر ښځینه قشر څنګه وینئ؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** له کومې ورځې چې طالبان واکمنۍ ته رسېدلي، د دوی ډېرې فرمانونه او احکام پر ښځو د فشار او بندیزونو په اړه وو، لکه د کار، تعلیم، تفریح، سفر او حتی خبرو بندیز. ډېرې ښځې فکر کوي چې طالب یعنې د ښځو دښمن، او ځینې ښځې بیا داسې انګېري، چې ښایي اسلام به په رښتیا یوازې د سړیو لپاره نازل شوی وي. د افغانستان یوه مشهور دیني عالم ما ته وویل، چې د طالبانو له واکمنۍ راهیسې په افغانانو کې له اسلام څخه د ګرځېدو پیښې ډېرې زیاتې شوې دي. په مجموع کې د بې ارزښتۍ او د بې عدالتۍ احساس، د راتلونکي په اړه ناهیلي، د ژوند د هدف له لاسه ورکول او د یوې مینځې او اسیرې په توګه د ځان لیدل ډېرې ښځې له ژور خپګان او ډېپرېشن او Apathy ( له ژوند سره بې میلي) سره مخامخ کړې دي او دغو ستونزو پخپل وار بیا پر کورنیو او ټولنې ژوره اغېزه کړې ده. یو زیات شمېر ښځې افغانستان ته د یوه لوی زندان او حتی دوزخ په سترګه ګوري او د پراخو مهاجرتونو یو مهم لامل د ښځو همدا احساس دی.

**دعوت میډیا: ستاسو په نظر طالبان ولې د نجونو د تعلیم او کار مخالفت کوي؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** په وروسته پاتې ټولنو کې چې د پوهې عمومي کچه ټیټه او نرواکي مسلطه وي، معمولاً د نجونو تعلیم او له کوره بهر د ښځو کار ته په بده سترګه کتل کېږي. شاوخوا یوه پېړۍ وړاندې د افغانستان په کلیوالي سیمو کې حتی د هلکانو له تعلیم سره مخالفت کېده، نجونې خو پر ځای پرېږده. د دې تر څنګ په جنګ اخته هېوادونو کې هم د نجونو له تعلیم سره لېوالتیا کمه وي. د طالبانو یو شمېر مشران چې د هېواد په ډېرو وروسته پاتې سیمو او یا ترلو مدرسو او جوماتونو کې لوی شوي او ټول ژوند یې سروکار له مدرسو او یا له جګړو سره و، د ښځو د تعلیم په اړه ډېر تیاره او مخالف فکر لري. هغه طالب مشران چې له مدرسو راووتل او په ښارونو کې واوسېدل او یا یې هم ځینو بهرنیو هېوادونو ته سفرونه وکړل، د ښځو پر وړاندې نسبتاً پراخ فکر لري، خو هغوی چې پخپلو نرواکه او ترلو جزیرو کې ایسار پاتې دي، لا هم ښځو ته د انسان په سترګه نه ګوري. که څه هم دوی پوهېږي چې اسلام د ښځو له تعلیم او کار سره مخالفت نه لري او په همدې دلیل د ښځو له حقونو څخه په زغرده انکار هم نه شي کولی، خو بیا خپل مدرسه یي ذهنیت او سلیقه د حکومت پر پالیسیو تپي. له بده مرغه د طالبانو مشر شیخ هبت الله او ورسره تړلې کړۍ یې په همداسې فکري او



سلیقه یي جال کې نښتي دي او دا نه شي زغملی چې د دوی په واکمنۍ کې دې ښځې له کوره بهر ووځي، ولو که د تعلیم او نفقې لپاره هم وي.

**دعوت میډیا: تاسو د جمهوریت پر مهال د هېواد د ننه وئ او هلته مو کار، مدني او سیاسي فعالیت کاوه، د وطن حالات او پېښې له ډېر پخوا څخه له نږدې څارئ، ستاسو په نظر څه باعث شول، څه وشول او علت یې څه و چې د نظام کمپله په څو اوونیو کې ورټوله شوه؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** د جمهوریت د سقوط ګڼ عوامل دي او تفصیلي بحث ته اړتیا لري، خو زه په لنډو دومره ووایم چې د سقوط عوامل له هماغه پیل څخه د بن کنفرانس کې رامنځته شول. د ملي دولت جوړونې او پخلاینې له بهیر څخه د طالبانو او اسلامي حزب حذف کول، د قوم او تنظیم پر بنسټ د واک وېش، د زورواکو، قومي ټیکه دارانو او مافیا په لاسو کې د سیاسي واک یرغمل پاتې کېدل، د فساد ترویج، د افغانانو د سایکالوژۍ له پامه غورځول او پاکستان ته لوبې مجال ورکول، ځینې هغه عوامل وو، چې له هماغه پیله یې د جمهوریت د سقوط زمینه برابروله.

داسې ښکاري چې امریکاپه ۲۰۱۱ کال کې دې پایلې ته رسېدلې وه، چې افغانستان نه شي ساتلی او د وتلو پرېکړه یې کړې وه، خو د دولتي او سیاسي مشرانو زړونو تر پایه دا نه منله چې امریکایان به وځي او دوی به پر میدان پرېږدي. له بده مرغه د جمهوریت په شل کلنه دوره کې له ډېرو امکاناتو سربېره ملي بنسټونه او پر خپلو پښو ولاړ ملي پوځ جوړ نه شو او تر پایه په پردیو مرستو تکیه و.

کله چې په امریکا کې د ۲۰۲۰ کال ټاکنې رانږدې شوې، داسې ښکاري چې ټرامپ غوښتل چې د یوې لاسته راوړنې په توګه له طالبانو سره په عاجله توګه توافق ته ورسېږي. له یوې خوا امریکایانو د سولې خبرې په ډېرې بې مسؤلیتۍ ترسره کړې، د افغانستان حکومت یې بیخي له پامه وغورځاوه او له طالبانو سره یې مخامخ او دوه په دوه خبرې پیل کړې. امریکایانو طالبانو ته داسې سیګنالونه ورکړل، چې له کوم جدي قید او شرط پرته وځي او راتلونکی حکومت به د طالبانو وي او کومې ژمنې چې له طالبانو اخیستل کېدې، هغه د یوه دولت مسؤلیتونه وو. بل لوري حکومت ته داسې اشارې کېدلې چې نظام به سقوط کوي او دوی به ۶۰ زره داسې کسان چې تر ګواښ لاندې دي، له افغانستان څخه وباسي او حتی په وروستیو کې د ځینو مهمو قطعاتو د پوځیانو ایستل پیل هم شول. پدې توګه د طالبانو روحیه ډېره لوړه شوه او د حکومت لوري ته انګېزه له منځه لاړه او وسله والو ځواکونو خپله روحیه وبایلله او د یوه نه پائیدونکي حکومت لپاره قرباني نوره حماقت ګڼل کېده.

بل لوري ته د ډاکتر اشرف غني ټیم تر پایه باور نه کولو، چې امریکایان به یې پر میدان پرېږدي، د سولې خبرې سمې مدیریت نه شوې، د سولې په اړه او د جمهوریت د بقا لپاره اجماع رامنځته نه شوه او دوه سرې حکومت ترپایه سرخوږی پاتې شو او سره له دې چې ټول پوهېدل چې په ماته ښېرې کې سپاره دي، خو بیا هم اتفاق او همکاري رامنځته نه شوه.



سره له دې چې امریکې په ناویلې توګه خپله ماته منلې وه او عملاً یې د وتلو هوډ کړی و، خو بیا هم د جمهوریت مشران حاضر نه وو چې نوې واقعیتونه ومني، بلکې تر پایه یې هڅه کوله چې طالبانو ته د یو څو چوکیو په ورکولو قناعت ورکړي او په جمهوریت کې یې مدغم کړي. نظامي پالیسي د نامجربو خلکو په لاس کې وه او داسې ښکارېده چې ولسمشر غني له عیني واقعیتونو نه خبرېده او یا یې منلو ته چمتو نه و. لنډه دا چې هغه حکومت چې له پردیو سره راغلی و، له پردیو سره بېرته لاړ.

**دعوت میډیا: د جمهوریت له سقوط وروسته په لکونو تعلیم یافته افغانان له هېواده ووتل، د دې تعلیم کړو د**

**وتلو علت او تأثير به د افغانستان پر نن او راتلونکي څه وي؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** کله چې د طالبانو لومړی امارت نسکور شو او په افغانستان کې د بیارغاونې لپاره نړیوالې مرستې پیل شوې، نو یوه لویه ستونزه د کډرونو او تعلیم یافته خلکو تشه وه، تر دې چې حتی د ښوونځیو د ښوونکو لپاره به په ولایتونو کې د دولسم فارغین نه پیدا کېدل، په نورو سکتورونو کې وضعیت تر دې هم ډېر ناوړه و او په همدې دلیل به د پاکستان په ګډون د نړۍ له نورو سیمو څخه کډرونه استخدام کېدل. د نیمګړتیاوو سربېره د جمهوریت یوه لاسته راوړنه د لکونو کډرونو روزل و، چې له بده مرغه لکه خومره چې په زحمت او لګښت سره دا کډرونه وروزل شول، هماغومره په اسانۍ او وړیا له لاسه ووتل او لا هم وځي.

د طالبانو له خوا د واک، امتیازاتو او فرصتونو انحصار؛ د پوهې، مسلک او تخصص بې ارزښته کېدل؛ د بشري حقونو او مدني آزادیو تر پښو لاندې کېدل؛ د سیاسي، اقتصادي او ټولنیز مصئونیت له منځه تلل؛ پراخه بېکاري او د راتلونکي په اړه اندېښنې او ناهیلي هغه مهم عوامل دي، چې له هېواد څخه د کډرونو وتل هڅوي.

د کډرونو وتل به د افغانستان اقتصاد، ثبات او پرمختګ ته سخت زیان ورسوي او هېواد به مو د پردیو کډرونو او مرستو محتاج وي او تر کومه چې د عصري علومو په اړه د طالبانو پالیسیو ته ګورم، ما ته نه ښکاري چې موږ به په لنډ وخت کې خپله کدري اړتیا پوره کړو. د ښځو په برخه کې به کدري تشه بې سارې وي، ځکه چې له یوې خوا ډېرې ښځینه کډرونه وتلي او یا په وتلو دي او له بلې خوا په هېواد کې د ننه هم له زده کړو څخه محرومې شوې دي، نو لرې نه ده چې پدې برخه کې، مخصوصاً د روغتیا په سکتور کې به موږ له یوه ژور بحران سره مخامخ شو.

**دعوت میډیا: که وکتل شي، په افغانستان کې هېڅ یو لوی ملي، سیاسي او افغانستان شموله حرکت نشته، څه باید وشي تر څو ډېر افغانان په یوه حرکت یایوه ټغر راغونډ شي؟ او که راغونډ نه شي، څه به وشي؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** رښتیا هم له یوې خوا په افغانستان کې د طالبانو استبدادي، انحصاري او ارتجاعي نظام دی او بل خوا پخواني زورواکي او قومي ټېکه داران هڅه کوي چې بیا د جنګ پروژې واخلي او پدې منځ کې د یوه ملي بدیل ځای تش دی او په همدې دلیل ولس هم لار ورکه کړې ده او د یوې بلې جګړې، زورواکۍ او انارشۍ له وېرې انتظار او د اوسني وضعیت زغم ته ترجېح ورکوي. که څه هم د یوه




لوی ملي سیاسي حرکت د جوړښت لپاره بالقوه کافي ظرفیتونه شته، خو د ځانځانۍ او سلیقه یي اختلافاتو له کبله د دغې تشې په ډکولو نه دي بریالي شوي. زما په اند ټول هغه ملي عناصر چې د ملت ارادې ته درناوی لري او پر ملي یووالي، ټولنیز عدالت، مدني آزادۍ او د ولسواکۍ پر بنیادي ارزښتونو باور لري او غواړي په سوله ییز ډول د انحصار او استبداد پر ځای د ملي ارادې تمثیل ته زمینه برابره کړي، باید د یوه لوی ملي چتر د جوړېدو لپاره سلا مشورې او توافق وکړي. زما له نظره د یوه داسې حرکت د بریالیتوب لپاره څو خبرې مهمې دي:

- د دې حرکت د اصولو، تشکیلاتو، او د کار او پرېکړو د میکانېزم په اړه باید له پیل څخه وضاحت او موافقه موجوده وي؛

- د اشتراک د ټکو له برجسته کولو سره باید د اختلاف پر احتمالي ټکو هم بحث وشي او په اړه یې مخکې له مخکې توافق رامنځته شي؛
- د دې لپاره چې د شخصیت محورۍ، انحصار او پټو معاملو مخه نیول شوې وي او د یوه پیاوړي سېستم لپاره زمینه جوړه شي، رهبري باید جمعي او مسئولیتونه انتخابي او دوراني وي؛
- له پخوانیو زورواکو او مافیایي کړیو سره او همداراز له هغو ډلو سره چې جګړه غواړي او پر ملي هویت او ارزښتونو باور نه لري، باید له ګډ کار څخه ډډه وشي. د دوی موجودیت به د حرکت اعتبار ته جدي زیان ورسوي. همداراز د حرکت په رهبرۍ کې باید له هغو پخوانیو چارواکو څخه هم ډډه وشي چې په تېرو سیاستونو کې یې کلیدي مسئولیتونه لرل؛
- حرکت باید له هر ډول قومي، ژبني، سمتي او مذهبي تبعیض څخه وساتل شي او خپل بشپړ استقلالیت وساتي. نړیوالو سره دې د افغانستان د ملي ګټو پر بنسټ رغنده اړیکې جوړې شي، خو زموږ د نجات نسخې، زموږ پرېکړې، زموږ طرحې باید کاملاً افغاني وي او د تطبیق واک یې هم په بشپړه توګه د افغانانو ولس په لاس کې وي.
- د حرکت اړیکې، طرحې، معاملې او د تمویل منابع باید کاملاً څرګندې او شفافې وي، د حرکت له غړو او ولس سره باید په منظم ډول معلومات شریک شي او له هر ډول پټو معاملو کاملاً ډډه وشي.

که چېرې داسې یو ملي حرکت رامنځته شي، زه ډاډه یم چې ډېر ژر به د ولس پراخ ملاتړ او د نړیوالې ټولنې حمایت ترلاسه کړي. اما که ملي ډلې او شخصیتونه همداسې په نفاق او افتراق کې شکېل وي، یا به طالبي استبداد همداسې د ولس ستونی نیولی وي او یا به د پخوانیو زورواکو او مافیا له برکته د یوې بلې غمیزې شاهدان اوسو.

**دعوت میډیا: د طالبانو ډېری توکمیز مخالفین د حکومت له قومي انحصاره شکایت کوي، تاسو په دې اړه څه وایاست چې طالبانو واک یوازې پښتنو ته او که خپلو همفکره طالبانو ته ورکړی دی؟ که په بل ډول خپله پوښتنه مطرح کړم، ایا طالبان په رښتیا د پښتون قوم استازېتوب کوي که نه؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** که څه هم د طالبانو په ترکیب کې نور قومونه هم شته، خو پدې کې شک نشته چې د طالبانو غورځنګ لومړی د افغانستان له جنوب لوېدیځ څخه سر راپورته کړ او اکثریت غړي یې هم پښتانه دي. له بده مرغه په وروستیو څو لسیزو کې اکثریت تنظیمونه یا ګوندونه چې منځته راغلي، د یوه قوم عنصر پکې غالب وي، لکه د نظار شورا، د دوستم جنبش ملي، د مزاري وحدت ملي او داسې نور. خو تاریخي تجربو ثابته کړې، چې دوی پر خپلو قومونو تجارت کړی او تر ټولو زیات زیان یې هم خپلو قومونو ته اړولی دی.



طالبان که څه هم اکثریت یې پښتانه دي، خو قومي اجنډا نه لري بلکې اجنډا یې ایډیالوژیکه ده او پدې اجنډا کې له طالبانو پرته نور هېڅوک نه ځایېږي او حتی هغه پښتانه ملایان هم نه مني، چې د دوی د غورځنګ غړي نه وو. د طالبانو په راتګ سره په ډېری پښتون مېشته سیمو کې د دوی پر وړاندې اعتراضونه وشول او د ملي بیرغ ننګه وشوه، چې په سختۍ سره وځپل شول. همداراز موږ په همدې سیمو کې د ډېرو نیونو او مرموزو وژنو شاهدان هم یو. د دې تر څنګ اکثریت پښتون روڼ اندو د طالبانو د سیاستونو او انحصاري واکمنۍ کلک مخالفت کړی او لکه د بل هر قوم په څېر، پښتون روښانفکره هم ځان د طالبانو په حکومت کې نه ویني او د پردي په سترګه ورته کتل کېږي.

له بده مرغه قوم پاله ډلو او اشخاصو لکه پخوا يې چې قومي نفاق ته لمن وهلې، اوس هم هڅه کوي چې طالبان پر پښتنو وتپې او د خپل قومي تجارت لپاره بازار پیدا کړي. لنډه دا چې طالبان نه یوازې د پښتنو استازېتوب نه کوي، بلکې تر ټولو زیات زیان یې هم پښتنو ته رسېږي.



**دعوت میډیا: د طالبانو په حکومت کې ټول مهم پوستونه د ملایانو په لاس کې دي، مسلکي او متخصص قشر څنډې ته شوی او یو شمېر یې له هېواده بهر تللي دي. پداسې حال کې د افغانستان پرمختګ څنګه وینئ او د نوو واکمنو دا ډول کړنې د مسلکي او پوهو قشر سره څنګه وینئ؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** د طالبانو انحصارطلبي ګڼ عواقب لري:

- د قران پاک دا حکم چې کار خپل اهل ته وسپارئ، نقض کېږي. ملایان او طالبان جوامع الکمالات نه دي، چې په ټولو کارونو پوه شي. نن سبا ژوند او علم ډېر اختصاصي شوی او په هره برخه کې کلونو زده کړې او تخصص ته اړتیا ده. نا اهلو ته د کار سپارلو نتایج ټولو ته ځرګند دي.
- ټولنیز عدالت تر پښو لاندې کېږي. یو چا ۱۸ کاله یا شل کاله تحصیل کړی او په یوه مسلک کې یې ماسټري او ډوکتورا اخیستې او یو عمر یې کار او تجربه پکې کړې ده، هغه له پامه غورځي او یوازې د تنظیمي او خپلوۍ اړیکو له مخې داسې کسانو ته دنده سپارل کېږي، چې اصلاً پر هغه لار نه وي تللي.
- متخصص او مسلکي کدرونه اړ کېږي چې د مناسب کار او مسلک په لټه او د ډاډمنې راتلونکې په هیله مهاجرت ته مخه کړي.
- زده کړې، تخصص او مسلک خپل ارزښت له لاسه ورکوي او خلک د روزۍ ډاډمنه او آسانه لار لټوي.
- له یوې خوا د پوهو او مسلکي کدرونو مهاجرت، له بلې خوا د نویو کدرونو د روزنې کموالی او تر څنګ یې غیر مسلکي خلکو ته د دندو سپارل د هېواد متوازن انکشاف، پرمختګ او تر څنګ یې سیاسي او ټولنیز ثبات ته سخت زیان رسوی او افغانستان د کدري ظرفیت له مخې د پردیو محتاج ګرځي.

**دعوت میډیا: د طالبانو ډېری توکمیز مخالفین د حکومت له قومي انحصاره شکایت کوي او هڅه کوي چې د بهرنیو استخباراتو په مرسته پیسې او وسلې ترلاسه کړي، تر څو په هېواد کې د ننه ناامني رامنځته کړي. تاسو په دې اړه څه فکر کوئ؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** زما د معلوماتو له مخې یوازې د طالبانو توکمیز مخالفین نه، بلکې په مجموع کې پخواني زورواکي، مافیا او قومي ټېکه داران هڅه کوي، چې د واک، ځواک او شخصي ګټو لپاره د جنګ پروژې واخلي او په افغانستان کې یوې بلې جګړې ته لمن ووهي. زما په اند افغانستان نور د جګړو تحمل نه لري او نه هم جګړه کومه پایله لري، بلکې جګړه هغه ناکامه نسخه ده چې یوازې بایلل پکې شته او ګټل پکې نشته. طبیعي خبره ده، چې جګړه به په پردیو پیسو او وسلو کېږي او له پردیو پیسو او وسلو سره به پردي شرطونه، پردي لاسونه ، پردي اهداف او استخبارات تړلي وي. څرنګه چې دا جګړې د یوه ملي زعامت له لوري نه رهبري کېږي، نو بیا به قومي، مذهبي

او تنظیمي جګړو، پردیو دسیسو او پردي اشغال ته زمینه برابروي. موږ ۴۵ کاله پرله پسې د جګړو، کرکې، دښمنۍ او تربګنۍ نسخې تجربه کړې دي او له بدمرغیو یې تر اوسه هم نه یو خلاص شوي. که ۴۵ کاله جګړه کولی شو، آیا نه شو کولی چې یو څو کاله سوله ییزې مبارزې ته چانس ورکړو. که څه هم زه په قطعي توګه د جګړې مخالف یم او پر سوله ییزه مبارزه، اصلاح او بدلون باور لرم، خو که فرضاً جګړه وروستی آپشن وي، تر هغې وړاندې نور ډېر آپشنونه دي چې باید کار ورباندې وشي. آیا موږ پدې بریالي شوي یو، چې تر یو ملي چتر لاندې راټول شو او یو ملي بدیل رامنځته کړو؟ موږ چې غواړو خلکو ته وسلې ورکړې او د سر په بیه یې جنګ ته راوباسو، آیا یو زر تنه سوله ییزو لاریونونو ته راایستلی شو؟ آیا تر جګړې مخکې موږ د اعتصابونو او مدني مقاومتونو لارې آزمایلې دي؟ لنډه دا چې آیا موږ د ولس دومره باور او ملاتړ ترلاسه کړی، چې دوی مو خپل استازي او خپل ناجي وګڼي.

که څه هم د زغم، مدني مقاومت او سوله ییزې مبارزې لار به اوږده وي، خو ستونزه په بنیادي توګه حل کوي او هېواد مو په رښتینې توګه له بحران او بې ثباتۍ څخه ژغوري؛ حال دا چې جګړې ته د حل د لنډې لارې په سترګه کتل کېږي، خو تجربو ثابته کړې چې د هرې جګړې پای، د یوې بلې جګړې او غمیزې پیل وي، ځکه چې زموږ جګړې پردۍ وي، اهداف پردي وي او واک پردی وي.

زما په نظر نور د دې وخت رارسېدلی، چې له زغم نه کار واخلو، مینې، تفاهم او یووالي ته موقع ورکړو او د مدني مقاومت، سوله ییز بدلون او سمون له لارې زورواکۍ، استبداد، انحصار، تشدد، افراطیت او جګړو ته د تل لپاره د پای ټکی کېږدو.

### دعوت میډیا: د سیمې او بهرنیو هېوادونو سره د افغانستان اړیکې څنګه ارزوئ؟

**ډاکټر خوشال روهي:** د سیمې له هېوادونو سره د طالبانو اړیکې نسبتاً ښې دي او زما په نظر پدې کې څو فکتورونه رول لري:

لومړی، د جمهوریت تر سقوط مخکې ما ته د طالبانو په پالیسۍ کې یو مثبت بدلون ښکارېده، دوی هڅه کوله چې د بېلابېلو عواملو له مخې خپله تکیه د پاکستان پر ملاتړ کمه کړي او نورې متبادلې لارې او ملاتړي پیدا کړي او پدې لړ کې بریالي شول، چې د ایران ملاتړ ترلاسه کړي او له روسیې او چین سره اړیکې جوړې کړي او د دوی احتمالي اندېښنو ته ځواب ووایي او ډاډ ورکړي. د دې تر څنګ په قطر کې له دفتر څخه هم دوی ښه ګټه واخېسته او له یو شمېر عربي هېوادونو او ترکیې سره یې روابط جوړ کړل. زما په نظر څومره چې د جمهوریت په وروستیو کې د دولت ډیپلوماسي کمزورې او حتی ناکامه وه، د طالبانو پالیسي د سیمې په کچه همدومره فعاله او بریالۍ وه.



تر واکمنۍ وروسته هم طالبانو خپلې فعالې ډیپلوماسۍ ته دوام ورکړ او له ازبکستان، ترکمنستان او قزاقستان سره یې نسبتاً ښې اړیکې جوړې کړې او یو بل مهم ګام چې دوی واخېست، له هندوستان سره د اړیکو جوړول و. تر کومه چې زه معلومات لرم، له هماغه پیل څخه دوی هڅه وکړه چې هندوستان ته د ډاډ او حسن نیت پیغام واستوي. د دې برعکس له پاکستان سره اړیکې کړکېچنې شوې، چې پر عواملو او څرنګوالي یې له بحث څخه دلته تېرېږم او له

تاجېکستان سره هم تر اوسه لازم باور او اعتماد نه دی رامنځته شوی.

دوهم دلیل یې دا دی، چې د سیمې هېوادونه په افغانستان کې له یوې بلې جګړې او بحران څخه پدې وېرېږي چې شايي د سیمه ییزو او نړیوالو لوبو ډګر وګرځي او جګړه، ترهګري او افراطیت د دوی لمن هم ونیسي.

درېیم، پدې دلیل چې د سیمې هېوادونه د افغانستان په ثبات کې خپلې اقتصادي ګټې ویني، د افغانستان تجارتي دهلېز ته اړتیا لري او د افغانستان په معدني زېرمو کې لوی پوټانشیل ګوري.

څلورم دا چې د سیمې د هېوادونو تر منځ د همکارۍ یو ډول سیمه ییز بلاک رامنځته شوی، چې ګټې یې له یو بل سره تړلې دي او د بېلابېلو تړونونو لکه شانګهای، اېکو، همګټي هېوادونه، سارک او نورو له لارې یې د همکارۍ مزي سره غځولي او پدې کې د افغانستان نه ګډون یو ډول خنډ کېدای شي.



پنځم، د سیمې هېوادونه که څه هم په افغانستان کې د ځینو لره کیو له ګډون سره لېوالتیا لري او په اړه یې ټینګار کوي، خو د ولسواکۍ ارزښتونه، بشري حقونه او مدني آزادۍ د دوی لپاره د اړیکو پر وړاندې خنډ نه بلل کېږي، ځکه چې د سیمې اکثریت هېوادونه پخپله همدا ستونزې لري. البته اسلامي افراطیت او جهادي ترهګري د دوی لپاره د اندېښنې وړ موضوعات دي چې په کلکه یې ځاري.

د لوېدیزې نړۍ په اړه باید ووایم، چې که څه هم په افغانستان کې د جګړې مخالفه ده او تر اوسه یې د طالبانو له وسله والو مخالفینو او حتی سیاسي مخالفینو له ملاتړ سره علاقمندي نه ده ښودلې او د دې لپاره چې افغانستان په یوه بشري بحران کې ښکېل نه شي او یا په بشپړه توګه د روس، چین او ایران بلاک ته ورګډ نه شي، هڅه کوي چې د تعامل لارې خلاصې وساتي او د بشري مرستو له لارې د افغانستان له اقتصاد سره مرسته وکړي. ترهګري، پراخ مهاجرتونه او مخدره مواد د دې هېوادونو مهمې اندېښنې دي، خو د بشري حقونو ځینې افراطي سرغړونې مخصوصاً د ښځو د حقونو په برخه کې به دوی ته اجازه ورنه کړي، چې د طالبانو امارت په رسمیت وپېژني. که څه هم یو شمېر عربي هېوادونه په ځانګړې توګه قطر او امارات او همداراز ترکیه په افغانستان کې د نفوذ او روابطو د پراختیا هڅه کوي، خو تر ډېره یې دریځ له لوېدیزې نړۍ سره همغږی دی.

په ټولیز ډول د سیمې او نړۍ اړیکې له طالبانو سره ډېرې آسیب پذیره دي او هر وخت امکان لري، چې د طالبانو له لوري د ځینو تېروتنو له کبله او یا هم پدې هېوادونو کې د سیاسي بدلونونو له کبله دا اړیکې ډېرې کړکېچنې شي او موجوده طلایي فرصتونه له لاسه وځي.

**دعوت میډیا: آیا د طالبانو اداره د دې وړتیا لري، چې د پاکستان له کړکیچن وضعیت څخه د افغانستان په ګټه کار واخلي؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** تېره نیمه پېړۍ موږ د پاکستان له اړخه ډېر درانه زیانونه لیدلي او لا هم ډېر ګواښونه متوجه دي. که څه هم پاکستان بریالی شوی، چې افغانستان پر خپلو پښو درېدو ته پرې نږدي او خپل سیاسي او استخباراتي نفوذ ولري، خو د دوی دا هیله چې په افغانستان کې یو لاسپوڅی حکومت ولري او د ډیورنډ کرښه پرې رسمي کړي، نه یوازې په ناهیلۍ بدله شوې، بلکې اوس د خپلو هغو سیاستونو له عواقبو سره لاس و ګرېوان دی چې دوی د افغانستان په اړه درلودل او کومه پانګونه چې دوی په اور او وینو کې کړې وه، سود یې د اور او وینې په بڼه بېرته اخلي.

پدې کې شک نشته، چې پاکستان د خپل لنډ تاریخ له یوه ژور سیاسي، ټولنیز او اقتصادي بحران څخه تېرېږي او خطرناکه بې ثباتي تجربه کوي، خو دا هم باید په پام کې ونیسو چې د طالبانو امارت لا هم خپلې پښې نه دي ټینګې

کړي او لاتر اوسه يې نه ملي مشروعيت ترلاسه کړی او نه هم نړيوال مشروعيت. بل لوري ته پاکستان هم د داعش او پخوانيو تنظيمونو په څېر د فشار او بې ثباتۍ وسايل په لاس کې لري او کولی شي د طالبانو پر ضد له امريکې سره کوم جوړجاړي ته ورسېږي او د ځانګړو پروژو له لارې د طالبانو واکمني له ننګونو سره مخامخ کړي.

زما په نظر دا ډېره مهمه ده، چې د طالبانو حکومت د پاکستان تر قوماندې لاندې نه دی، خو دا هم د افغانستان په خير نه ګڼم چې له پاکستان سره براعلی تقابل او دښمنۍ ته لاړ شي. طالبان بايد تر هر ډول سيمه ييز تقابل مخکې د خپل نظام مشروعيت ته توجه وکړي، د خپل ولس رضايت او ملاتړ ترلاسه کړي او د نړيوالو مشروع انديښنې رفع کړي. که په پاکستان کې د کړکېچ عوامل طبيعي جريان ته پرېښودل شي او د افغانستان ملي داعيه په ډېر هنر او تدبير سره تعقيب شي، دا به سمدستي زموږ په ګټه وي.

**دعوت ميډيا: په بهر کې افغانان په عمومي ډول خواره واره دي، ستونزه چېرته ده، ولې افغانان لکه نور قومونه يو ځای کېدلی نه شي؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** تېره نيمه پېړۍ په افغانستان کې ډېر ژور بحرانونه او درنې جګړې تېرې شوې او پوځي، استخباراتي، ايډيالوژيکو او فرهنګي يرغلونو او استبدادي، انحصاري او افراطي نظامونو په ولس کې سياسي او ټولنيز اختلافات زېږولې او د بې باورۍ، تشدد او ځانځانۍ فرهنګ د دې لامل شوی چې د زغم، يو بل منلو او تفاهم دروازې وتړل شي. زما په نظر له دومره ژورو بحرانونو سره دا ستونزې کاملاً طبيعي دي، زما د اټکل له مخې که څېنې نور هېوادونه له دومره اوږدو جګړو او سترو يرغلونو سره مخ شوي وای، ښايي خپل ملي حاکميت او جغرافيايي موجوديت او وحدت يې د تل لپاره له لاسه ورکړی وای. يقيناً چې ستونزې شته، خو که افغان نخبه ګان له تدبير او درايت څخه کار واخلي، دا ستونزې دومره ژورې نه دي چې حل نه شي. پدې برخه کې تر ټولو اغېزناکه لار د ملي ډيالوګ ده. که څه هم پدې برخه کې خورې ورې هڅې ليدل کېږي، خو امېد دی چې دا هڅې منظمې او منسجمې شي. معمولاً تر اوږدو شخړو وروسته د سولې، ملي پخلاينې او يووالي لپاره د ملي ډيالوګ بهير ته اړتيا وي. دا بهير په يو څو غونډو او کنفرانسونو کې نه خلاصه کېږي، بلکې يو اوږدمهاله بهير وي او ټول اړخونه او مهمې ستونزې رانغاړي. هيله ده چې بهر مېشته افغانان هم د خبرو اترو له لارې د خپلو مشترکاتو او ګډو ملي ګټو پر بنسټ تفاهم او يووالي ته سره ورسېږي او د خپل هېواد پر وړاندې خپل ملي مسئوليت ترسره کړي.

**دعوت ميډيا: بهر مېشتي افغانان د خپل هېواد او خلکو لپاره څه کولی شي او څه بايد وکړي؟**



**ډاکټر خوشال روهي:** مهاجرتونه که له ځان سره ډېرې ستونزې او کړاوونه لري، خو تر څنګ يې د مدنيتونو او ټولنو په پرمختګ کې هم ډېره ونډه لري او ډېر مدنيتونه د همدې مهاجرتونو په نتيجه کې منځته راغلي دي. مهاجرين که له يوې خوا د خپل ټاټوبي زده کړې او تجربې له ځان سره راوړي، له بلې خوا د بقا او ښه ژوند لپاره مجبور دي په نوي ټاټوبي کې له راحت زون څخه راووځي، زحمت وباسي، علم او مسلکونه زده کړي او کاروبار ته مخه کړي. هغو مهاجرينو چې خپل معنوي او فرهنګي ارزښتونه ساتلي او له خپلو خلکو سره يې اړيکې پاللې، له خپل هېواد سره يې هم ډېره مرسته کړې، لکه د يهودو ډياسپورا. افغانانو هم چې دا نيمه پېړۍ پخپل هېواد کې د بدمرغيو او جګړو له کبله مهاجرتونو ته مخه کړې، پوهې، مهارتونه او مسلکونه زده کړي او ښې پانګې يې لاسته راوړې دي او يو شمېر يې د کوربه هېوادونو سياسي سېستمونو ته هم ورننوتي دي. که چېرې په افغانستان کې ملي دولتونه او يا لږ ترلږه مسئول دولتونه واکمن وي، کولای شي د افغان ډياسپورا له ظرفيتونو څخه د هېواد په خير ډېره ګټه واخلي. څرنګه چې په وروستيو کې د

افغانستان زیاتره نخبه ګان او کدرونه له هېواده وتلي، زما په اند افغان ډیاسپورا باید د ایډیال دولتونو په انتظار لاس تر زنې پاتې نه شي، بلکې پدې سختو ورځو کې د خپلو هېوادوالو لاسنیوی وکړي. موږ دې ته اړتیا لرو، چې له سیاستونو او توپیرونو ورهاخوا د افغان ډیاسپورا داسې ټولنې او شبکې جوړې کړو، چې په بې پرې توګه د هېواد ملي ګټې او اړتیاوې تشخیص کړي، پدې برخو کې طرحې او پلانونه جوړ کړي او د افغان ډیاسپورا له ظرفیتونو څخه د استفادې زمینه برابره کړي. کېدای شي په هېواد کې د ننه نظامونه زموږ په خوښه نه وي، خو موږ کولی شو په هغو برخو کې مرسته وکړو، چې هېواد مو پخپلو پښو ودرېږي او د ایډیال نظام لپاره لاره اواره شي. د ډیاسپورا نېټورکونه کولی شي د اړتیا او امکاناتو په پام کې نیولو سره د ډیاسپورا له علمي، تخنیکي، اقتصادي او حتی فرهنګي او سپورتي ظرفیتونو څخه د وطن د خیر لپاره د عملي طرحو په چوکاټ کې کار واخلي.




اوس مهال چې د هېواد ګڼ شمېر ملي، سیاسي او ټولنیز شخصیتونه له هېواده بهر راوتلي، د ملي ګټو او ارزښتونو پر بنسټ کولی شي بلکې مسئولیت لري چې یو لوی ملي - سیاسي پلټفورم رامنځته کړي، چې په هېواد کې د اصلاح او سوله ییز بدلون له لارې د تلپاتې سولې، ثبات، خپلواکۍ، پرمختګ او سوکالۍ لپاره خپل ملي رسالت ادا کړي.

**دعوت میډیا: په پای کې د دعوت رسنیز مرکز او دعوت مجلې په اړه راسره خپل نظر شریک کړئ، ځکه د دعوت ۳٦ مه کالیزه ده، ستاسو ارزونه د دعوت مجلې او دعوت رسنیز مرکز په اړه څه ده؟**

**ډاکټر خوشال روهي:** لومړی خو بزرګ صیب تاسو او ستاسو همکارانو ته د دعوت د ۳٦مې کالیزې لپاره د زړه له کومې مبارکي وایم، مننه کوم او د الله ج له درباره ډېر ډېر اجرونه درته غواړم. زه پوهېږم، چې ۳٦ کاله په تشو لاسونو د یوې ملي رسنۍ چلول څومره سخت وي. له یوې خوا د بچیانو لپاره د نفقې ګټل او بیا د بچیانو وخت د یوې ملي رسنۍ چلولو ته وقفول، او له بلې خوا د هېواد په ډېرو کړکېچنو حالاتو کې، چې ډېرې رسنۍ پکې وشوئېدې، د ملي ګټو او ارزښتونو په پام کې نیول او د ملي یووالي لپاره هڅې ډېر سخت کار دی. د ویاړ او خوشحالۍ خبره دا ده، چې دعوت نه یوازې تر ننه پورې خپل مزل ته دوام ورکړی، بلکې له مجلې څخه یې خپل فعالیتونه تر یوه رسنیز مرکز پورې غځولي او تر څنګ یې د باارزښته کتابونو خپرول هم پیل کړي دي. که څه هم د جمهوریت پر مهال رسنیو ته ډېره آزادي ورکړل شوه او د ودې ښه فرصتونه یې ترلاسه کړل، خو له بده مرغه یو شمېر رسنیو تر ملي ګټو شخصي، تنظیمي او قومي ګټو ته لومړیتوب ورکړ او نه یوازې ملي ګټې او ملي ارزښتونه یې ونه پالل، بلکې ډېر زیان یې هم ورته ورساوه او همدا اوس هم یو شمېر جلاوطنه رسنیو ملي نفاق ته کار ویلی دی. همدغو ستونزو ته په پام سره د دعوت په څېر ملي رسنیو ته ډېره جدي اړتیا ده او زما هیله دا ده، چې تاسې په لوړ همت، کلک هوډ او پراخې حوصلې دغه ملي رسالت ته همداسې دوام ورکړئ او له ملي شخصیتونو څخه مې هیله ده، چې دعوت ته لبیک ووایي او هېڅ راز مرسته ترې ونه سپموي. همداراز هیله ده چې د ډیجیټل انقلاب پدې پېر کې چې رسنیز پرمختګونه ډېر چټک او هېښوونکي دي، دعوت وکولای شي د افغان ملت غږ تر هر چا پورې ډېر چټک، لوړ او په امانتدارۍ سره ورسوي.

ډېره مننه

مننه له تاسې



# چرا پاکستان به تکرار و بی خیال بر افغانستان حمله میکند؟



دوکتور محمد عثمان تره کی

در مدت ۲۰ سال اشغال قوای ائتلاف به رهبری امریکا فیر دوامدار راکت های پاکستان به کنر و پکتیا بر مبنای تفاهم با امریکا صورت میگرفت : قصد پاکستان و امریکا تضعیف پوتانسیل انسانی مقاومت مسلح در دو سوی خط دیورند بود. عملیات ضرب عصب پاکستان در پشتونخوأ متمم راکت پرانی های آنکشور در صفحات جنوب افغانستان بود.

با ظهور طالبان به مثابه حاکمان افغانستان فصل نوی در مناسبات دو کشور افغانستان و پاکستان کشوده شد. مناسبات دیپلوماتیک روی جبر جغرافیایی میان دو کشور برقرار گردید، اما داغ زخم های به جا مانده از کمک لوژستیک و سیاسی پاکستان به قصد دوام اشغال افغانستان، مانع گردید که رابطه دو کشور مسیر طبعی را طی کند.

پاکستان در مدت سه سالیکه در افغانستان طالبان حکومت را بدست گرفته اند، چندین بار کامپ های مهاجرین پښتونخوأ را به بهانه موجودیت تی تی پی مورد حمله قرار داده است. در نتیجه این حملات صد ها مردم ملکی به شمول زنان و اطفال تلف شده اند.

حمله اخیر طیارات جت پاکستان در ولسوالی برمل پکتیا یک روز پس ازان به وقوع پیوست که کابل در ۲۳ دسامبر از یک هیأت پاکستانی به ریاست محمد صادق خان پذیرایی کرد.

سوال اینست که چرا پاکستان بدون رعایت اصول حسن همجواری و احترام به قوانین بین المللی و منشور ملل متحد، افغانستان را به شیوه سیستماتیک و بی هراس هدف حمله قرار میدهد. آنهم در حالیکه سیم خار دار به قصد جلوگیری از رفت و آمد گروه های مسلح وجود دارد و تی تی پی عملیات خود را در داخل پاکستان سازمان میدهد.

دلایل مختلفی درین رابطه میتواند وجود داشته باشد. از جمله:

۱ـ عدم توازن قوأی جنگی میان دو کشور

۲ـ انزوای دیپلوماتیک افغانستان و فقدان کشور حامی و دوست در سطح منطقه و جهان

۳ـ این واقعیت که افغانستان به دلیل انزوای دیپلوماتیک صدای اعتراض و احتجاج خود را در سازمان ملل متحد بلند کرده نمیتواند

۴ ـ نقش فوج و استخبارات پاکستان در تعیین زمامداران دوره جهاد و داشتن تصور یک کشور تحت الحمایه از افغانستان نزد پاکستان.

بهر حال ! طالبان تا زمانیکه حکومتداری خود را مجهز به ضابطه های حقوقی قبول شده در دنیا نساخته اند یعنی از یک قوت ملیشیایی بیک جمع با صلاحیت حکومتداری تبدیل نشده اند، نمیتوانند جلو تکرار تجاوزات خارجی را بگیرند.

تدارک قوای ضد هوایی در برابر تجاوز پاکستان ایجاب خرید تجهیزات لازم را میکند. آنهم متقاضی داشتن پول گزاف است. ازینکه بگذریم هیچ کشوری حاضر نخواهد بود به نظامی اسلحه بفروشد که رسمیت بین المللی ندارد و احتمال استعمال آن بر ضد کشور های دوست فروشنده موجود باشد.

خرید اسلحه از هر کشوری که باشد، الزاماً افغانستان را شامل قطب بندی های موجود در جهان مینماید.

عجالتاً طالبان به جواب تجاوز پاکستان چند وسیله در دسترس دارند :

ـ خریداری سلاح برای بازسازی قوای هوایی از هندوستان، امریکا یا اتحادیه اروپا به اقساط طویل المدت.

ـ جواب تجاوز با تجاوز. یعنی تقویت پوتانسیل جنگی تمام گروه های مخالف حکومت پاکستان در داخل پاکستان.

- تشکیل یک واحد ملیشیایی در دو سوی خط دیورند به هدف تخریب سیم های خار دار.

ـ فیر هدفمند چند راکت به سوی قوای سرحدی پاکستان.

این تدابیر به احتمال قوی جنگ را تشدید میکند و پروسه تجزیه پاکستان ( این غده سرطانی در منطقه ) را تسریع میبخشد.

۲۰۲۴/۱۲/۲۵

# اوسني فرصتونه بیساري دي خو تلپاتې نه دي



عبدالوحید وحید

په نړیواله او سیمه ییزه کچه د سترو اقتصادي، سیاسي او ستراتیژیکو بدلونونو رامنځته کیدل، په سیمه کې انرژۍ ته د اړتیا د کچې لوړیدل او د پریمانه د سرچینو شتون او ځینې نورو ملحوظاتو له امله نړیوالې ټولنې ته د افغانستان جغرافیایي موقعیت اهمیت زیات شوی، ددغه هېواد له خاورې څخه د سوداګریزو او ترانزیتي موخو لپاره د ګټو پورته کولو او په افغانستان کې د پرتو ارزښتناکو اقتصادي زیرمو را ایستلو ته د حرص له امله افغانستان ته بېساري فرصتونه او امکانات برابر شوي دي.

له همدغو فرصتونو څخه د ګټه اخیستنې لپاره اوسنی حکومت د ملت غوښتنو ته د غوږ نیولو، کار اهل ته د سپارلو، د تنګ او عقده مند ذهنیت پرځای د ملي ذهنیت خپلولو افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور ګڼلو، له نرۍ سره په اقتصادي برخه کې د هېواد د نښلوونکو پروژو پلي کولو ته د ملا تړلو او په وړاندې یې پراته خنډونه له منځه وړولو په نتیجه کې ستر مثبت بدلون او د هېواد پرمختګ ته لاره هواره کړي.

دغه کړنې به افغانستان د ناامنیو له دلدل څخه د همېش لپاره وباسي، سیاسي انزوا ته به د ګډو ګټو په چوکاټ کې د پای ټکی کېږدي، په ګاونډیو هیوادونو کې د افغان ګډونوالو ځوروونکي حالت ته به مثبت بدلون ورکړي او له هېواد څخه د ځوانانو او علمي کادرونو د وتلو د بهیر مخنیوی به وکړي.

امریکا په افغانستان کې د نظامي ځواک او دیپلوماتیک حضور پرته د B پلان له مخې خپله ژوره ښکیلتیا ساتلې او پاللې ده. دغه شان ښکیلتیا که څه هم فرصتونه رامنځته کوي خو په سیمه کې رقابتونو ته لاره هم پرانیزي او حساسیتونه هم راپاروي. دغه رقابتي سره جګړه اوس هم دوام لري. په سیمه ییزه او نړیواله کچه رامنځته شوي رقابتونه د افغانستان لخوا د فعالې او انډولیزې کاري دیپلوماسي درلودلو په صورت کې زموږ هېواد ته د پرمختګونو لپاره فرصتونه برابر وی، خو په معیارونو باندي د ولاړو تګلارو د نشتون او د رقابتونو ترمنځ د انډول نه ساتلو په صورت کې افغانستان ته خورا جدي ستونځې او ننګونې هم رامنځته کولای شي.

### حکومتي نیمګړتیاوې:

د موجود حاکمیت مشرانو ته خپلو ځینو ورتیاو، لکه د هېواد په جغرافیه باندي بشپړ تسلط، د واک د جزیرو ختمیدل او د امنیت ساتلو په برخه کې ژمن بشري ځواک د مثبتو بدلونو رامنځته کولو لپاره هم فرصتونه برابروي او هم یې د مسئولیتونو کچه لوړوي. د ولس او نړیوالې ټولنې فشار کچه نوره هم لوړیږي. دواړه خواوې غواړي له طالب مشرتابه سره تعامل وکړي، خو دَ ااا مشرتابه هم باید له بحران څخه د هېواد د ایستلو لپاره د ولس او نړیوالې ټولنې تعامل ته مثبت غبرګون وښیي.

که موجوده حاکمیت په دغه هکله غوږ او رغنده ګامونه پورته نکړي، د سیاسي انزوا حالت او بندیزونه به دوام مومي، د نړیوالو اقتصادي پروژو د پلي کولو لپاره داسې نورې بدیل انتخابونه شته چې د افغانستان اوسنی جیوستراتیژیک او جیوپولیتیک ارزښت کم کړي په متبادلو لارو کار پیل کړي او پراته فرصتونه زموږ له لاسه ووزي. که ااا د خپل ولس چیغې او غوښتنې بې اهمیته ګڼي، بلکې د خپلو ملګرو ملاتړو او خواخوږو څخه هم مشورو ته هم غوږ نه نیسي، د دوهم پوړ مشران د روباټانو دنده په مخ وړي نو ادا د حکومتولي تر ټولو ناوړه بڼه ده او پایلې یې یقیناً بوږنوونکې دي.

ځیني مشران د خطرناکو پایلو د مخنیوي او ډیری د خپلو امتیازاتو د خوندیتوب لپاره په نظام کې د نیمګړتیاو په وړاندې چوپه خوله دي چې په اوږدمهاله توګه دین هېواد او ولس ته سخت زیان اړوي. په راتلونکې کې زموږ ویاړلی ټولنیز جوړښت له منځه وړي، هېواد د جهالت تورتمونو ته بیايي، پردیو ته مو احتیاج کچه لوړوي او تر ټولو ستر زیان یې دادی چې د سیکولریزم پلویان زیاتوي،

**په پردیو مرستو متکي اپوزیسیون:**

د افغانستان سیاسي واکمني د نظامونو د نسکوریدو، په ځانګړې ډول د پردیو یرغلونو او د لاسوهنو له امله واک ته د رسیدو عادي بهیر پریښود. د نظامي ځواک او پردیو لخوا یرغمل وګرزیده. کله د افغانستان د عیني واقعیتونو کلتوري ځانګړتیاو او ټولنیزو شاخصونو په پیچلتیاو باندې ناخبره افرادو ته واک وسپارل شو او کله هم د جګړو په ډګر کې راپورته شوې جنګسالاران او پردیو ګټو ته ژمن افراد د هېواد په جغرافیه باندې حاکمان شول.

اوسنی سیاست مو د خپلو ورونو د وژلو په موخه له پردیو څخه د مرستو په نوم د وسلو او پیسو په ترلاسه کولو، یا هم یو ځل بیا په افغانستان باندې د پردیو لخوا د تحمیل شویو حاکمانو د راتپلو په هڅو باندې راڅرخیږي. سیاستوال مو خپل ولس ته د مخامخ کیدو او له خلکو څخه د مشورو غوښتنو پرځای د پردیو په دروازو کې د خپلو ستونځو په هکله د شکایتونو په کولو باندې تمرکز کوي. هغه سیاستوال بریالی ګڼل کېږي چې پردی ورته د ملاتړ داړ ورکړي.

قرباني ته د پردیو بچیانو په وړاندې کولو لپاره، د پردیو ګټو لپاره په پردي لګښت او پردي نوښت د نیابتي جګړو مجنونان د تېرو څو لسیزو ناکامه او تباهي رامنځته کوونکو جګړو له بدو او بوږنوونکو پایلو څخه د زده کړو همت نه لري. یا هم پوهیږي چې افغانان د مختلفو عواملو پربنسټ په اسانه غولیدای او جګړو ته تشویق کیدای شي، نو په حکومت باندې د فشار لپاره د ولس له ځوانانو څخه ابزاري ګټه پورته کوي.

له نیکه مرغه نړیواله ټولنه تېرو ترخو تجربو ته په کتو د طالبانو د بدیل د نشتون او په افغانستان کې د جګړو په نتیجه کې د لاسته راوړنو نه ترلاسه کولو له امله نه یوازې داچې په افغانستان کې د جګړو ملاتړ نه کوي بلکې هراړخیزې هڅې کوي چې موجوده حکومتي مشران سمون او بدلون ته وهڅوي. خومره به ښه وای چې د ااا مشرانو د خپلو دیني او ملي ارزښتونو په چوکاټ کې د خپل ولس غوښتنو او د نړیوالې ټولنې ملحوظاتو ته د مثبت غبرګون ښودلو په موخه د خپلو اړتیاوو لپاره جامع پلان وړاندې کړی وای او همدغه کار لپاره یې په کور د ننه د مشورو بهیر پیل کړی وای.

**پایله :**

په تېرو پنځو لسیزو کې د افغانستان شخړو ته د حل لارو موندلو ترعنوان لاندې د پردیو لخوا ترسره شویو ټولو ترونونو، نوښتونو او حل لارو منفی پایلې مو تجربه کړې. ایا تېر تاریخ ته په کتو اوس ددې وخت نه دی چې په خپل کور کې له خپلو ورونو سره د سوله ییزو نوښتونو له لارې په خپل غولي کې د خپل راتلونکي په هکله مشورو ته ملا وتړو؟

اړینه نه ده چې معلوم الحال جنایتکاران او د فساد له امله د ولس ترمنځ منفورې څېرې په مشورتي بهیر کې ګډون ولري. موږ په کور د ننه او بهر ډېر پاک سپیڅلي، ملي ګټو ته ژمن، د سیمې او نړۍ په حالاتو او تحولاتو باندې اګاه کادرونه لرو چې له موجوده بحراني حالت څخه د هېواد د ایستلو په تړاو ورڅخه مشوره وغوښتل شي

د تېرو پنځو لسیزو بدلونونو ته په کتو ویلای شو چې د سمون او بدلون لپاره هر ډول مبارزه که په سر کې څومره هم سوچه او نګه وي خو چې قیادت یې په بهرني هیواد کې اوسیږي او یا هم داچې د خپلو ولسونو د مبارزې د اصالت او سپیڅلتیا ساتلو ظرفیت ونلري، د وخت په تېرېدو او په پردۍ خاوره کې د مختلفو استخباراتي لوبو په کړلیچونو او ګردابونو کې خپل اصالت له لاسه ورکوي، د وخت د جبر او د ستونځو د توپاني څپو له اغیزو لاندې راځي او خپل اصلي رنګ بدلوي.

څومره به ښه وای چې په خپل غولي مو د خپلو ستونځو د حل په موخه د سمون او بدلون رامنځته کولو لپاره له سیاسي بهیر څخه د امتیازاتو د وېش اجندا د تل لپاره ایستلې او په حاکمه ډله باندې مو د مشروع نظام د رامنځته کولو او اساسي قانون د تسوید تصویب او توشیح په تړاو فشار راوړی وای .جګړه او دَ حاکمیت نسکورول له شک پرته نه د هېواد په ګټه ده، نه اسانه کړنه ده او نه هم د ولس غوښتنه ده. ومولیدل چې د نسکوریدو او د امتیازاتو د وېش تړونونو خورا بدې پایلې درلودې.





# حملات هوایی پاکستان در شرق افغانستان:
# حرکتی حساب‌شده با دو هدف

## احمد فواد ارسلا

حملات هوایی اخیر پاکستان در شرق افغانستان که جان ۴۶ نفر، عمدتاً زنان و کودکان، را گرفت، با محکومیت و بررسی گسترده‌ای مواجه شده است. اگرچه پاکستان اغلب این اقدامات را با بهانه مبارزه با تروریسم توجیه می‌کند، این حادثه به نظر می‌رسد که بیانگر یک نقشه عمیق‌تر و حساب‌شده‌تر باشد. با تجزیه و تحلیل نیت پنهان، آشکار می‌شود که پاکستان به دنبال دستیابی به دو هدف استراتژیک است: سرزنش مشکلات داخلی خود به نیروهای خارجی و بهره‌برداری از سیاست خارجی ایالات متحده به نفع خود.

**انحراف از ناکامی‌های داخلی**

یکی از اهداف اصلی پاکستان از این حملات هوایی، نشان دادن ناتوانی خود در اداره تهدیدات تحریک طالبان پاکستان(TTP) ، که به عنوان طالبان پاکستانی نیز شناخته می‌شود، به نیروهای خارجی است TTP . که شورش خود را در داخل پاکستان تشدید کرده است، ضعف‌های دستگاه امنیتی پاکستان و استراتژی‌های ضد تروریسم متناقض آن را آشکار کرده است. پاکستان با انجام عملیات نظامی در خاک افغانستان، تلاش می‌کند چلنج های امنیتی داخلی خود را به خارج منتقل کند و سرزنش را بر دوش افغانستان، بخصوص رژیم طالبان، بیاندازد. این تاکتیک دو هدف را دنبال می‌کند. در داخل، توجه‌ها را از ناتوانی پاکستان در پرداختن به ریشه‌های افراط‌گرایی، مانند بی‌ثباتی اقتصادی، فقدان حکومت‌داری و رادیکالیزم منحرف می‌کند. در سطح بین‌المللی، روایتی ایجاد می‌کند که پاکستان را قربانی تروریسم مرزی نشان می‌دهد و بدین ترتیب اقدامات تهاجمی خود را در دیدگاه قدرت‌های جهانی توجیه می‌کند. با این حال، این طرزتوجیه نادیده می‌گیرد که سیاست‌های خود پاکستان، از جمله حمایت تاریخی آن از گروه‌های افراطی، به طور قابل توجهی به بی‌ثباتی کنونی کمک کرده است.

**شکل‌دهی به سیاست خارجی ایالات متحده**

زمان‌بندی این حملات هوایی به صورت خاص قابل توجه است، زیرا در دوره‌ای انتقالی برای سیاست خارجی ایالات متحده رخ می‌دهد. با توجه به اینکه انتظار می‌رود دولت جدید ایالات متحده استراتژی خود را در جنوب آسیا بازنگری کند، اقدامات پاکستان می‌تواند به عنوان تلاشی برای نشان دادن خود به عنوان یک هم‌پیمان غیرقابل جایگزین تلقی شود. پاکستان با تشدید تصادمات در منطقه، می‌خواهد اهمیت استراتژیک خود را برجسته کند و خود را به عنوان یک بازیگر حیاتی در مبارزه با تروریسم نشان دهد.

از نظر تاریخی، پاکستان از نزدیکی جغرافیایی خود به افغانستان و نفوذ بر گروه‌های شبه‌نظامی مختلف استفاده کرده است تا سیاست‌های مطلوب و کمک‌های مالی از ایالات متحده

را به دست آورد. این حملات هوایی یادآور این است که پاکستان همچنان یک سهام‌دار کلیدی در ثبات - یا بی‌ثباتی - منطقه است. پاکستان با ایجاد حس فوریت، امیدوار است تصمیمات سیاستی دولت بعدی ایالات متحده را به نفع خود تحت تأثیر قرار دهد و حمایت اقتصادی و نظامی مستمر را تضمین کند.

**هزینه انسانی محاسبات استراتژیک**

اگرچه نیات پاکستان ممکن است ریشه در ملاحظات استراتژیک داشته باشد، اما هزینه انسانی این حملات هوایی را نمی‌توان نادیده گرفت. مرگ غیرنظامیان بی‌گناه، از جمله زنان و کودکان، عواقب ویرانگر استفاده از نیروی نظامی به عنوان ابزاری برای مانورهایجیوپلتیکی را برجسته می‌کند. چنین اقداماتی نه تنها اعتبار پاکستان را تضعیف می‌کند، بلکه خطر بی‌ثباتی بیشتر منطقه را نیز به همراه دارد.

علاوه بر این، این حملات هوایی رابطه پاکستان با دولت طالبان افغانستان را تضعیف می‌کند که پیش از این نیز اسلام‌آباد را به نقض حاکمیت افغانستان متهم کرده است. این بی‌اعتمادی فزاینده، هرگونه امیدواری برای همکاری منطقه‌ای را که برای پرداختن به مشکلات وچلنج های مشترک مانند تروریسم و توسعه اقتصادی ضروری است، تضعیف می‌کند.

**نتیجه‌گیری**

حملات هوایی پاکستان در شرق افغانستان نشان‌دهنده یک استراتژی حساب‌شده برای دستیابی به دو هدف است: انحراف از ناکامی‌های داخلی در تأمین امنیت و شکل‌دهی به سیاست خارجی ایالات متحده به نفع خود. با این حال، این طرز فکر وطرزالعمل پر از خطر است. پاکستان با بیرونی‌سازی مشکلات خود و انجام تجاوزات مرزی، نه تنها ثبات منطقه‌ای را به خطر می‌اندازد، بلکه استندردهای دوگانه خود در مبارزه با تروریسم را نیز آشکار می‌سازد. برای ایالات متحده و دیگر قدرت‌های جهانی، ضروری است که این تکتیک‌ها را بشناسند و با دیدی انتقادی به اقدامات پاکستان نگاه کنند. تنها با پاسخگو نگه‌داشتن پاکستان و تقویت همکاری منطقه‌ای واقعی می‌توان صلح و ثبات پایدار را در جنوب آسیا محقق کرد.


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړې کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډیرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکي پته DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:

NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month. Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

# احمد حسین الشرع (ابو محمد الجولاني) ته لیک

پاکیزه آرزو

ښاغلی الجولاني السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

هیله ده تاسو او ستاسې ښایستې سوریې به اوس د هوساینې سا اخیستې وي، اوسنی او راتلونکي نسلونه به مو د جابر فرعوني حاکمانو له وحشته په امان وي.

ښاغلی الجولاني! زه یوه افغانه ښځه یم یعنې یوه افغانه لور، یوه افغانه خور او یوه افغانه مېرمنه یم. زه تاسو ته له افغانستان څخه نه له کاناډا څخه دا لیک لیکم. ښایي تاسو به دا وواياست ولې لیک له کاناډا څخه لیکې، ته خو افغانه یې او باید په افغانستان کې وای؟ هو؛ زه افغانه یم خو په افغانستان کې نه یم ځکه په افغانستان کې چې اسلامي امارت حاکم شو او د اسلامي حاکمیت سرتېري مجاهدین راغلل، زه د ماسترۍ دورې د لومړي کال محصله وم او زه هم لکه میلیونونه افغانان او سوریایان د جابر حاکمیت له ډاره له هېواده ووتم او له دې وتلو سره درې کاله کېږي چې زما افغانې وطنوالې بې تعلیمه په کور کې بندې او د کار حق ترې اخیستل شوی دی. ما او لکونو نورو افغانانو د طالبانو له ډاره هجرت وکړ خو د اسلامي مجاهدینو په وینا وتښتېدم، ځکه وتښتېدم چې په افغانه ټولنه کې ما ته نور ځای نه و او په دې تاسو بهتره پوهېږئ چې ولې ځای نه و ځکه تاسو په خپلې وروستۍ مرکې کې د افغانستان مثال ورکړ او ومو ویل چې: «سوریه به هېڅکله افغانستان غوندې نه شي او نه به داسې حکومت ولري لکه د طالبانو. ځکه د سورېې او افغانستان د خلکو تر منځ ډېر توپیر دی. د سورېې د خلکو فکر، فرهنګ او حکومت د سورېې په تاریخ پورې تړلی او افغانستان یوه قبیلوي ټولنه لري او داسې ګومان نه کوو چې سوریه دې د افغانستان غوندې نظام ولري.»

دا چې ته هم یو اسلامي مجاهد یې او د القاعده مشهورې ډلې غړیتوب دې لرل/لرې او القاعده هغه ډله وه چې مشر یې اسامه بن الادن په افغانستان کې مېشت و او د ۲۰۰۱ ز کال د سپتمبر په ۱۱مه نېټه یې د امریکا د متحده ایالتونو تجارتي برجونه په وحشت ناک ډول په نښه کړل او زرګونه بې ګناه امریکایان یې ووژل. هغې حملې امریکا ته دا موقع ورکړه چې په افغانستان کې د جهاد په نوم شل کلن وحشت ته لاره جوړه کړي نورو جزیاتو باندې تاسو خپله بهتره پوهېږئ...

زه خوشاله په دې یم چې د یوې سخت دریځې جهادي ډلې غړیتوب لرې خو په فکري لحاظ ډېر متمدن ښکارې او دا روڼ اندې او متمدنتوب هم ستا په ظاهر او هم ستا په باطن کې ښکاري. زه درته خوشاله یم چې حداقل طالبانو غوندې نه یې له سخت دریځې سره عصري تمدن هم منې او تر ټولو ښه دا چې د عربې ټولنې د پخوانیو رواجونو برخلاف چې نجونې به یې ژوندۍ خښولې او اوسنۍ ټولنه چې ښځې د حجاب په نوم قیدې دې ته هغه رواجونه مردود ګڼې، ښځو ته درناوی کوې او د ښځو تعلیم حلال درته ښکاري. ستا له دې ښه فکر او نېکو احساساتو څخه د یوې ښځې په توګه زه مننه کوم او تاسو ته درناوی وړاندې کوم.



تاسو په وروستۍ مرکې کې وویل: « نه غواړئ سوریه لکه افغانستان داسې شي.» زه ستا خبرې کټ مټ نه راخلم او یوازې مفهوم یې بیانوم ځکه ساده ژبه د تفاهم ښه مرجع ده. کله چې په همدې مرکې کې له تاسو د افغانستان او د سورېې د مقایسې او خبریال له تاسو پوښتنه کوې: « د سورېې په فرهنګ کې د ښځو تعلیم، کار او ان د شرابو څښل درته د منلو وړ دي؟» تاسو ځواب کې وویل: « هو، زه د ښځو د تعلیم پلوی یم او بیا مو د سورېې د یوه پوهنتون مثال ورکړ چې ۸ کاله کېږي هلته

نجونې زده کړې کوي او د نجونو د ګډون برخه تر ۶۰ سلنه لوړه ده.»

دا هم د خوشالۍ خبر دی چې د سوریې په وحشي حاکمیت کې پوهنتون او ښوونځي تړلي نه و او د هلکانو تر څنګ نجونو هم تعلیم کاوه. زه د نړۍ په هر ګوټ کې د نجونو او ښځو په ښه ژوند خوشالېږم ځکه موږ افغاني ښځې او نارینه ۴۶ کاله کېږي د اسلامي جهاد په نوم د قدرت طلبۍ د وحشي جګړو ښکار یو او دا جهاد لکه ستاسو د سوریې جهاد په رحمت نه په عذاب باندې اوښتی دی او په ځانګړې ډول ښځې د دې جهاد سخت دریځې له ژونده زړه توري کړې دي.

تاسو پوهېږئ؟ ۴۶ کاله پخوا د پخواني شوروي اتحاد په خلاف د جهاد پیل له پوهنتون څخه وشو او د هغه وخت اسلامي مجاهدینو چې د امریکې او ټولې نړۍ مالي او معنوي ملاتړ یې لرل خپل جهاد یې د نجونو پر مخ په تیزاب شیندلو پیل کړ ځکه د دوی په باور د ښځو تعلیم په اسلام کې حرام دی خو جالبه دا ده چې تاسو د یوه عرب په توګه چې قرآنکریم هم په عربي ژبه او عربي پیغمبر نازل شوی د ښځو تعلیم حلال ګڼئ؟ زه مسلمانه یم او ښه دینداره مسلمانه یم اما تر اوسه په دې نه یم پوه شوې چې د عربو مجاهدینو ته د ښځو تعلیم حلال ښکاري او د افغانستان مجاهدینو ته ولې مباح او حرام ښکاري؟ زه هېڅ نه پوهېږم دا څرنګه دین دی چې عربو ته هر څه پکې حلال دي او افغانانو ته هر څه پکې حرام دي؟

زه پوهېږم، زما په دې پوښتنه به ته وخاندې، ښايي ملنډې درته ښکاري شي. ښايي طالبان د کفر فتوا ورکړي او زما د مرګ جواز صادر کړي خو ایا زما پوښتنه ناسمه ده؟

ته به ووایې هو، ناسمه ده. ځکه د اسلام په مبارک دین کې د ښځو تعلیم مباح او حرام نه دی. الله (ج) په لومړنۍ سورت کې د تعلیم ارزښت بیان کړی او پیغمبر (ص) په خپل حدیث کې فرمایلي: « تعلیم په نر او ښځې فرض دی.»

ښايي ستاسو ځواب به ماته دا وي چې دا د اسلام یا د عربو رواج نه دی چې ښځې دې تعلیم نه کوي، دا د افغانستان د قبیلوي ټولنې ستونزه ده. هو؛ رښتیا ستاسو له قبیلوي مقایسې رایاده شوه. تاسو په خپلې مرکې کې وویل: « افغانستان یوه قبیلوي ټولنه لري.» په دې برخه کې نه یوازې زه بلکې ۴۰ میلیونه افغانان درڅخه خفه شول او هم درته په قهر دي ځکه تا یوه داسې ډله چې نه په اسلام او نه په افغانیت باور لري د ټول افغانستان له وګړو او تاریخ سره دې مقایسه کړل، سوریه دې لوړه او افغانستان دې په نړیواله کچه توهین کړ.

زه غواړم تاته یوه مشوره درکړم، لومړۍ خو افغانستان په اوس مهال کې قبیلوي ټولنه نه لري ځکه افغانستان جمهوریتي نظامونه تجربه کړي دي او په میلیونونه افغانان تعلیم یافته دي نو افغانستان قبیلوي ټولنه نه ده. دا چې طالبان قبیلوي چلند کوي دا قبیلوي چلند دوی ته هدایت شوی او دا هدایت د هغه چا لخوا ورته شوی چې دوی یې په ۱۵ ورځو کې قدرت ته ورسول.

زه غواړم تاسو ته ووایم، ټول افغانستان طالبان نه دي، افغانستان ۵۰۰۰ کلن تاریخ لري. د آریانا نوم به دې حتمن اورېدلی، آریانا یعني لرغونی افغانستان چې پلازمینه یې« بخدي» اوسنی بلخ و. په اریانا کې « ویدي» او د «اوستا» تمدن د بشر له لومړنیو پرمختللي تمدونو څخه و چې په بشري تاریخ کې یې پرتله د روم او یونان له تمدونو سره کېږي.

زه نه غواړم تاته ۵۰۰۰ کلن تاریخ تشریح کړم خو تاسو ته د یوې افغانې په صفت مشوره درکوم چې بل ځل چې د افغانستان په هکله خبرې کوې زموږ تاریخ، فرهنګ او خلکو ته توهین مه کوه او دا په یاد ولره چې ټول افغانان طالبان نه دي.

کله چې د افغانستان په هکله غږېږې، لږه مطالعه کوه، ډېر لرې مه ځه، لنډ ۱۰۴ کاله وړاندې د افغانستان تاریخ ولوله. پوهېږې؟ سل کاله وړاندې افغانستان له انګریزي ښکېلاک څخه خپله آزادي واخیسته، یو ځوان او روڼ اندی پاچا غازي امان الله خان د افغانستان پاچا شو. د پاچا ښکلې او روڼ اندې ملکه ثریا نومېده. پوهېږې! ثریا څوک وه او چېرته زېږېدلې وه، چېرته یې تعلیم کړی و، نبکه یې څوک و؟ پوهېږم په دې برخه کې معلومات نه لرې.

د افغانستان د پخوانۍ ملکې ثریا مور اسماء رسمیه نومېده چې د سوریې د حلب اوسېدونکې وه. د ثریا نیکه شیخ محمد صالح الفتال نومېده چې دمشق د اموي جومات مؤذن (اذان کوونکی) و. ملکه ثریا چې یوه عصري او روڼ اندي افغانه ښځه وه په دمشق کې زېږېدلې او همالته لویه شوې وه.

ملکه ثریا مې ځکه درته یاده کړه چې ملکې ثریا په افغانستان کې په لومړي ځل د نجونو ښوونځي پرانېستل، د جبري حجاب په خلاف یې مبارزه پیل کړه او په لومړي ځل یې په تاریخ کې ۱۰۰ کاله وړاندې افغانې نجونې ترکیې ته د طبي زده کړو د حاصلولو لپاره ولېږلې او افغانستان یې له قبیلوي سیستم څخه وایسته.

پوهېږې! له ملکې ثریا سره څه وشول؟ هغه ثریا چې د سوریې په اسلامي ټولنه کې لویه شوې وه او نیکه یې موذن و، د اسلامي شریعت په نوم، یوه تیاره فکره ډله ملایان راولاړل شول او په پاچا او ملکې یې د کفر فتوا ورکړه ځکه هغوئ د عصري افغانستان د جوړولو بنسټ کېښود. همدې تیاره فکرې ډلې روڼ اندي ملکه ثریا او باچا غازي امان الله خان له هېواده وشړل او په ځای یې یو نالوستی، معیوب ملا چې په «بچه سقاو» مشهور و د اسلامي حکومت په نوم په افغانستان کې حاکم کړ.

«بچه سقاو» چې پاچا شو، لومړني فرمان یې د نجونو د ښوونځیو د بندو په اړه صادر کړ او ښځې یې لکه نن چې طالبانو د شریعت او اسلام په نوم په کور کې بندیوانې کړې دي، کټ مټ دا ظلم «بچه سقاو» هم کړی و او ښځې یې د اسلامي شریعت په نوم له ټولنې محوه او په کور کې بندیوانې کړې.

د دې لنډو تاریخي څرګندونو څخه مې موخه دا وه چې تا په ډېرو لنډو ټکو کې د یوه ستر هېواد په هکله لنډ قضاوت وکړ. افغانستان لا سل کاله وړاندې تعلیم یافته نجونې لرلې، افغانستان ښوونځی او پوهنتونونه لرل او افغانستان په نړیوالې ټولنې کې لوړ وقار او حیثیت لره. په ټوله اسلامي نړۍ کې د یوه متمدن او ازاد هېواد په توګه په رسمیت پېژندل کېده او افغانستان د آریانا د «ویدي» او «اوستایي» تمدن په ګام روان و خو جهادي ډلو د اسلامي شریعت په نوم زموږ آریایي تمدن محوه کړ او نن یې نتیجه تاسې هم ګورې چې د اسلامي شریعت په نوم کوم ظلم او ناروا نه ده چې نه کېږي. نه یوازې افغانستان، تاسې په سوریه کې د اسد رژیم او د اسلامي جهاد په نوم ، القاعده، داعش، طالبان او سلو نورو جهادي ډلو د شریعت په نوم کوم ظلمونه دي چې کړي یې نه دي. انسانان یې په تارونو حلال کړل، ژوندي یې خښ کړل، ژوندي یې وسوځول او اندامونه یې ټوټې ټوټې کړل. دا ټول قتلونه د اسلامي او عربي قوانینو په نوم شوي دي چې په دې وحشت کې د افغانستان فرهنګ او قبیلوي سیستم هېڅ رول نه لري. موخه مې دا ده هغه حکومت یعنې د طالبانو په شان حکومت چې ته یې په سوریه کې غواړې د افغانستان د قبیلوي سیستم زېږنده نه دی، د عربي فرهنګ او د اسلامي شریعت زېږنده دی چې حتی د ښځو انساني حیثت هم مباح شوي، فرض علم هم مباح شوی او مباح عربي کلیمه ده، افغاني کلیمه نه ده.

ښاغلی الجولاني! طالبان چې هر جبر کوي د شرعي احادیثو او ایتونو په حواله یې کوي او په عربي ژبه یې بیانوي. د افغانستان له فرهنګ سره تړوا نه لري ځکه په افغاني فرهنګ کې ښځه ځان ته حیثت لري چې تاریخ پرې ګواه دی. په افغاني فرهنګ کې د ښځې حیثیت دا و چې ښځو په یوې « پلو نیونه» لویې لویې جګړې درولې ځکه د ښځې تیکري په افغاني فرهنګي کې په سپېڅلتیا منل کېده.

همداسې زرګونه نور مثالونه هم دي چې له آریایي تمدن څخه پیل و او په اوسني افغانستان کې هم پلي کېده خو د عربي رواجونو په نوم افغان فرهنک محوه شو او ښځې لکه د عربي جهالت دوره ژوندۍ په کور کې بندې دي یعنې په ګور کې بندي دي.

زه غواړم تاسو ته دا ووایم چې ستاسو مطالعه ډېره کمه ده چې د افغانستان ټول تاریخ او فرهنګ په یوې طالباني ډلې خلاصه کوئ او مخامخ توهین هم کوئ.

تاسو لکه د پاکستان ناخبره پخواني صدراعظم عمران خان خپل فکر په افغانستان تحمیلوئ. عمران خان چې اوس یو بې وسه زنداني دی، د طالبانو په راتګ یې خوله خوږه کړې وه او د ښځو د تعلیم بندیز یې د افغاني فرهنګ زېږنده بللې وه خو دی خبر

نه و چې سل کاله وړاندې چې پاکستان اصلا وجود نه لره، افغانو نجونو طب لوسته، انجنيري يې لوسته، پيلوټي يې کوله او سندرې يې ويلې. خو تاسو او عمران خان ته طالبان د افغانستان فرهنګ ښکاري. ستاسو د معلوماتو لپاره بايد ووايم چې طالبان ځان د عربي فرهنګ استازي ګڼي او هره ناروا د شريعت په نوم کوي. په دې ناروا کې د افغاني فرهنګ هيڅ رول نه شته ځکه « د ښځو تعليم مباح دی» او مباح عربي کليمه ده.

ښاغلی الجولاني! زه له تاسو څخه هيله کوم چې که ستاسو په ټولنه کې حرام شراب حلال دي، نو زما په ټولنه کې حلال تعليم ولې د شريعت په نوم مباح دي؟ تاسو کولای شې پوښتنه وکړې چې طالبانو د ښځو تعليم د افغاني فرهنګ يا قبيلوي سيستم په نوم بند کړی که يې د شريعت په نوم؟

راتلونکې کې چې مرکې کوئ د يوه هېواد له تاريخ څخه ځان خبروه او هغه کتابونه مه لوله چې انګريزانو ليکلې ځکه انګريزانو د روڼ اندی امان الله خان واکمني رنګه کړه او نالوستی معيوب بچه سقاو يې د غچ په دود حاکم کړ، کټ مټ داسې لکه درې کاله وړاندې چې يو روښانه جمهوريت رنګ شو او طالبان حاکم شول. هم سقاو او هم طالبان هر څه چې کوي د شريعت په نوم يې کوي، د افغاني درونډ فرهنګ او د افغانستان د تاريخ هيڅ رول پکې نه شته.

افغانستان ۵۰۰۰ کلن تاريخ لري او شريعت ۱۴۰۰ سوه کاله تاريخ لري، نو زما د هېواد تاريخ هم د سوريې او هم دې شريعت تر تاريخ ډېر زيات عمر لري.

خبرې لنډوم ځکه تر ما ته په هر څه بهتره پوهېږې. په اخر کې يوه هيله درنه کوم، ستاسې په فتحې زموږ د هېواد طالبان ډېر خوښ و، جشنونه يې جوړ کړل او خولې يې سره خوږې کړې نو دا چې ستا مشر اسامه بن الادن هم په افغانستان کې طالبان خپل اتل مني او ستاسې اسلامي او جهادي مشترکات او د فتحې مرجعه هم يوه ده نو هيله مې دا ده چې تاسو خپل جهادي يارانو (طالبان) ته ووایاست چې زما په هېواد کې، زما تر رهبرې لاندې شريعت نافذ دی خو حرام نايت کلپ او شراب پکې حلال دي او ستاسې په افغانه ټولنه کې شريعت نافذ دی خو د ښځو حلال تعليم پکې مباح دی ولې؟ له خپلو جهادي يارانو هيله وکړه چې حلال شيان دې نه مباح کوي او بيا تعليم خو فرض عين دی بايد حلال وي.

زه دا هيله له تا ځکه کوم چې موږ افغانې ښځې او نجونې د الله ج له درباره څخه هم نعوذ باالله د ناهيلۍ احساس کوو ځکه زموږ واکداران او مالکان طالبان دي. زموږ ښځو هر واک دوی سره دی، ان د لباس انتخاب هم دوی کوي او هر يو ځلور ښځې په کور لري. موږ افغانې ښځې او نجونې نااميده يو او له خپلو يارانو يعنې ځمکني خدايانو طالبانو څخه هيله وکړه چې موږ ښځو ته حداقل د انسان په سترګه وګوري، موږ د الله ( ج) بندګانې يو، هغه خلق کړې او پيدا کړې يو، نو ښځه انسان يو! د انساني حق او اشرفيت راکړئ، باقي حقونه به خپله واخلو.

بيا وايم، زه ځکه دا هيله له تاسو څخه کوم چې په اسلامي امارتي ټولنه کې حاکم مجاهدين خدايان دي، تاسو او طالبان د جهاد ګډ تار لرئ، نو خپلو جهادي يارانو او ځکمني خدايانو څخه هيله وکړه چې ښځو ته انساني حقونه ورکړي.

يوه جالبه درته وکړم؟ اسلامي جهادونو زموږ ادبيات هم تغير کړي، زموږ په ادبياتو کې يوه شعر دی او دا شعر يوه صوفي شاعر رحمن بابا ويلی و:

چې الله درسره مل نه وي رحمانه

که لښکرې درسره وي يک تنها يې

خو اوس دا شعر ځمکني خدايانو ته دا ډول اوښتی:

چې امريکا درسره مل نه وي جانانه

د کابل او د دمشق نيول مشکل دي

نو ځکه له تا هيله کوم چې خپلو جهادي يارانو طالبانو ته ووايه چې د افغانستان په ښځينه قشر رحم وکړئ، زموږ ځمکني خدايانو! او بل ځل د افغانستان توهين هم مه کوه ځکه افغانستان ۵۰۰۰ کلن تاريخ لري او ټول افغانستان طالبان نه دي.

درنښت

د اسلامي نړۍ يوه مسلمانه خو له تعليم او انساني حق څخه محرومه ښځه انسان، افغانه ښځه!

کاناډا، ۱۹/۱۲/۲۰۲۴

# آیا حل معضلهٔ افغانستان تجزیه طلبی است؟



داکتر نوراحمد خالدی

## مقدمه

اخیرا یکتعداد از دوستان تقاضا کردند تا در مورد توطعهٔ تجزیهٔ افغانستان که در برنامهٔ تلویزیونی محترمه سجیه کامرانی توسط شحصی بنام فرید یونس به آن اشاره شد تبصره نمایم. در آن برنامه فرید یونس اظهار میدارد که در افغانستان "پشتونیستها" در قدرت هستند و پیشنهاد میکند که اگردر افغانستان یک نظام دموکراسی اسلامی که در آن حقوق مردم، بشمول حق تعلیم و تحصیل زنان تضمین گردد، ایجاد نشود این کشور باید تجزیه گردد. به نظر فرید یونس همانطوریکه کشورهای هند، اتحادشوروی، چکوسلواکیا، یوگوسلاویا، سودان و غیره را قدرتهای خارجی تجزیه کردند، افغانستان نیز به کمک ملل متحد و یا توسط امریکا تجزیه می گردد و اظهار داشت که یک تعداد افراد برای تحقق این پلان کار میکنند.
آیا راه حل معضلهٔ افغانستان تجزیهٔ کشور است؟

طوریکه میدانیم طالبان در پانزدهم اگست سال 2021م یکبار دیگر قدرت مطلق را در افغانستان بدست گرفته نظامی را که امارت اسلامی میدانند برای بار دوم تشکیل کردند.
نظام موجودهٔ امارت اسلامی طالبان در جهان امروزی یک رژیم منحصر به فرد بنیاد گرای مذهبی متکی به ارزشهای فرهنگ دهاتی قرون وسطایی است که زیر شعار تطبیق شریعت یک رژیم اپارتاید جنسیتی، انحصاری و تمامیت خواه ملاها را در افغانستان ایجاد کرده کشور را بدون قانون با فرمان یک شخص، که هویت او بر مردم افغانستان مشخص نیست، اداره میکنند.
بی جهت نیست که این رژیم را، با وجود سه سال بودن در قدرت مطلق بالای تمام قلمرو افغانستان، هیچ دولت خارجی و یا سازمان های بین المللی و منطقوی و سازمان همکاریهای ممالک اسلامی به عنوان دولت مشروع قانونی افغانستان برسمیت نشناخته اند.
اما فراری شدن عناصر ضد ملی و فاسد زمان جمهوری، ختم تبلیغات ضد ملی تجزیه طلبی و تفرقهٔ قومی در مطبوعات و رسانه های داخلی به رژیم طالبان مشروعیت داخلی نمی بخشد. بعد از گذشت سه سال رژیم طالبان هیچ کوششی برای کسب مشروعیت از مردم افغانستان از طریق تشکیل یک لویه جرگهٔ عنعنوی به هدف تسوید، مباحثه، تصویب و انفاذ یک قانون اساسی که در آن نوعیت نظام دولتی، وظایف و تشکیلات دولت و حقوق و وجایب اتباع تعریف می گردند انجام نداده است. از این رهگذر نظام موجودهٔ امارت اسلامی طالبان همچنان به مثابهٔ یک "رژیم"غیر مشروع باقی مانده که قدرت را بزور تفنگ بدست آورده از مردم افغانستان کسب مشروعیت نکرده و منافع ملی افغانستان و رفاه مردم افغانستان را تآمین کرده نمیتواند.
دیدگاه افرادی مانند فرید یونس که به صراحت خودرا افغان و تبعهٔ افغانستان نمیداند و بر عکس خودرا یک "امریکایی مسلمان" معرفی میکند نه یک "امریکایی افغان الاصل" برای انتخاب نظام و آیندهٔ افغانستان ارزش تبصره ندارد. اما از

آنجایی که تعداد زیادی به اینگونه نظریات گرایش دارند این موضوع را مورد بررسی قرار میدهم.

فرید یونس و افرادی مانند او به عوض آنکه راههای تحقق ایجاد یک نظام مشروع، متکی به قانون را در افغانستان به هدف تامین منافع ملی و رفاه تمام مردم ساکن افغانستان جستجو نمایند، عامل بدبختیهای افغانستان را قوم پشتون و رهبران پشتون تبار دانسته به بیراههٔ قومپرستی رجوع میکنند اما چون قدرت تغییر اوضاع را در قوم خود نمی بینند راه حل را هم در مداخلهٔ خارجیها جستجو میکنند! این افراد آنقدر در خندق قومپرستی غرق اند که دیده نمی توانند معضلهٔ افغانستان، نه تنها امروزبلکه در صد سال اخیر، اختلافات قومی، زبانی و مذهبی میان مردم نبوده بلکه مبارزهٔ تاریخی میان ترقی و ارتجاع است. همچنانکه در نیروهای مترقی افراد همه اقوام کشور شامل اند به همان پیمانه در عناصر ارتجاعی نیز افراد همه اقوام کشور شامل اند. تبعیض جنسیتی طالبان همچنانکه در مناطق تاجیک نشین حکمفرماست به مراتب شدید تر در مناطق پشتون نشین تطبیق میگردد. در بیش از چهل سال بی ثباتی افغانستان مناطق پشتون نشین بیشترین صدمه ها را متحمل شده اند و حتی در بیست سال دوران حاکمیت جمهوری اسلامی کمترین ثروت و پیشرفت متوجه این مناطق بوده است.

بنابر آن مقابله با ارتجاع طالبانی به اتحاد تمام نیروهای ضد رتجاعی اعم از پشتون، تاجیک، ترکتبار، هزاره و غیره نیاز دارد. درک این واقعیت حکم میکند از طرح شعارهای تفرقه افگنانه ضد پشتون، ضد زبان پشتو، ضد افغان و افغانستان باید خودداری کرد.

بیش از چهل سال است افغانستان دستخوش توفان جنگ و بی ثباتی سیاسی میباشد. هیچ کشوری در جهان امروز این مدت طولانی ناآرامی را تجربه نکرده است. بسیاری از قدرتهای منطقوی و جهانی در بحران افغانستان به نحوی و به درجاتی سهیم شده و در وخامت آن نقش بازی کرده اند. در این مدت کشور تخریب شده، بیش از دو ملیون کشته داده و ملیونها زخمی و معیوب شده اند و ملیونها خانواده از هم پاشیده، مهاجر و پراگنده در دور جهان شده اند وجلو پیشرفت اقتصادی و اجتماعی کشور گرفته شده زیرساختهای کشور تخریب شدند. نخست کشور مورد هجوم یک ایدیولوژی موریانه خورده از شمال قرار گرفت که در وطن اصلی آن اتحاد شوروی سبب کساد، فقر و استیلای دیکتاتوری یک حزبی شده بود که مداخله آن در افغانستان در نهایت سبب فروپاشی آن از داخل گردید. در عین زمان از جانب شرق و جنوب افغانستان مورد هجوم سیاه ترین عناصر ارتجاع مذهبی قرون وسطایی ضد پیشرفت و ترقی قرار گرفت و از جانب غرب، کشور در معرض بدترین هجوم فرهنگی ناسیونالیستهای فارس واقع شد که هدف آن تضعیف نهادهای وحدت ملی و هویت ملی افغانستان بود.

اما با وجود همه این ضربات هنوزهم افغانستان پابرجاست! چگونه این امکان دارد؟ در مقایسه دیدیم که باوزیدن کمترین بادها بسیاری از کشورهای مصنوعی از هم پاشیدند و به چندین کشور مبدل شدند ویا در حال تجزیه هستند. چه شدند اتحاد شوروی، چکوسلواکیا، یوگوسلاویا، سودان، عراق و امثالهم که با یک ضربه پارچه پارچه شدند؟ برخلاف ادعای فرید یونس عامل اصلی تجزیهٔ این کشورها قدرت های خارجی، امریکا و ملل متحد، نبوده بلکه عوامل داخلی محرکهٔ اصلی آن بوده است. در مقابل چه چیزی سنگهای تهداب افغانستان را در نزدیک به سه صد سال گذشته باهم مزج کرده و پیوند داده که هنوزهم پابرجاست؟ چه عناصری همزیستی برادرانهء شانزده قوم متشکلهء آن را با فرهنگها ومذاهب متفاوت آنها با همدیگر ناگذیر ساخته که باوجود دسیسه های بیشمار دشمنان خارجی و منافقین داخلی باهم در جنگ نیستند، و مذاهب در مقابل هم قرار نگرفته اند؟

برای آنکه این بی ثباتی و جنگ چهل ساله ناشی از اختلافات عقیدتی، مداخلات خارجی، دسایس قدرت طلبانه محلی، و حرص ثروت اندوزی و انحصار قدرت مشتی جنگسالار است نه اختلافات قومی و مذهبی مردم که بدون توجه به این دسایس همچنان در کنار هم زندگی میکنند. تاریخ مشترک سه صد ساله اقوام این مملکت را بهم پیوند داده و یک فرهنگ و هویت مشخص ملی ایجاد کرده که دلیل سخت جانی و بقای آن است! این سخت جانی نشان میدهد که ملت افغانستان وجود دارد، پابرجاست و در آینده هم موجود خواهد بود! روزی دوباره این سرزمین که در جهان آنرا افغانستان مینامند و مردم آنرا افغان

میگویند آرامش و ثبات خودرا باز خواهد یافت و روسیاهی به آنانی باقی خواهد ماند که در روزهای سخت به آن پشت پا زدند و به دشمنان این کشور پیوستند!

در سال ۲۰۱۳م خبرنگاری از ریچارد ارمیتاژ معاون وزارت خارجه امریکا در زمان جورج دبلیو بوش و طراح پلان حمله به افغانستان در سال ۲۰۰۱م پرسید که هرگاه فردا با رییس جمهور اوبامه برای صرف نان چاشت دعوت گردی در مورد آینده افغانستان و پاکستان به رییس جمهور چه مشوره خواهی داد؟

ارمیتاژ پاسخ داد میگویم: "جناب رییس جمهور، من مطمن هستم که بیست و پنج سال بعد از امروز یک کشوری موجود خواهد بود به نام افغانستان با بیش و کم همین حدود جغرافیایی و همین ملت. اما در مورد پاکستان بسیار مطمن نیستم".

تفاوتهای قابل ملاحظهء تاریخی میان مردم این سرزمین و مردم فارس و هندوستان موجود بود که به بانیان دولت افغانستان امکان ایجاد یک کشور مستقل را بر قسمتهایی از امپراطوریهای صفوی و مغولی فراهم کرد. این تفاوتهای مذهبی، زبانی، قومی، و فرهنگی در طول سه صد سال سبب تشکل یک هویت مستقل ملی برای مردم افغانستان شده است که با هویت ملی مردم ایران متفاوت است. با آنکه زبان متداول فارسی در ایران همان زبان دری افغانستان بوده اما در حقیقت فرزند زبان دری متداول در افغانستان است که در طول صدها سال انکشاف مستقلانه مشخصات مربوط به خودرا کسب کرده اند. اگر در ایران کتاب رمان یک نویسندهء افغان را که بزبان دری نوشته شده به فارسی مروج در ایران ترجمه و چاپ میکنند، اگر در ایران فلم رابعهء بلخی بزبان دری ساخت افغانستان را بزبان فارسی مروج درایران دوبله میکنند همه نشاندهندهء موجودیت تفاوتهای عمیق زبانی و فرهنگی در میان همزبانان این دوکشور است. بنابر آن کوشش در جهت زدودن شاخصهای هویت مستقل ملی مردم افغانستان مانند زبان دری و مصطلحات اداری و ملی آن و تبدیل آن به فرهنگ متداول ایرانی برای اکثریت مردم افغانستان قابل قبول نیست. این هجوم فرهنگی با صرف ملیونها دالر توسط رژیم آخوندی ایران بالای رسانه های ما و با خریدن چهره های سیاسی و فرهنگی کشور ما اعمال میشود. بازگشت هزاران هموطن هزارهء ما از ایران به این هجوم فرهنگی سهولت لازم فراهم کرده است. ایران کشور برادر و دوست افغانستان است و بهتر است این دو کشور همچنان مستقل برادر و دوست باقی بمانند.

جبران نبی زاده چند سال قبل در فیسبوک نوشته بود که:

"مفهوم قومپرستی ونژاد پرستی قبل از هر چیز اشاره به یک رابطه (قدرت نابرابر) دارد، یعنی وقتی گروهی از انسانها به دلایل تاریخی، به خاطر (نژاد) یا (قومیت)شان سهم بیشتری از نهادهای قدرت و منابع ثروت را در انحصار گرفتند و به سبب آن بر سایر اقوام برتری و تسلط دارند. نژادپرستی بدون (ساختار قدرت) و پیشینه تاریخی مفهوم اجتماعی ندارد و چیزی جز یک (احساس)تلخ و ناگوار نیست. حساسیت قومی/نژادی زمانی اعتبار دارد که در واکنش به یک ساختار قدرت تبعیض آمیز یا در طی یک تاریخ مبارزاتی علیه نژادپرتسی بوجود آمده باشند. حساسیت های قومی امروز در افغانستان از هیچ کدام از این ویژگی ها برخوردار نیستند. در افغانستان (حساسیت قومی) یک مقوله واهی و حتی وارداتی/تقلیدی است. در کشور ما هیچ گروهی نیست که در یک روند تاریخی بر اساس (قومیت) یا (نژاد)اش سهم بیشتری از ارکان قدرت یا منابع ثروت را در اختیار خود گرفته باشد و بر سایر اقوام برتری و تسلط پیدا کرده باشد. نهادهای سیاسی، نظامی، بازارهای اقتصادی و رسانه های جمعی در انحصار هیچ قوم و نژاد خاصی نیست. و در تاریخ افغانستان هیچ سابقه برده داری و استعمارگری و نسل کشی قومی وجود ندارد.

باید از کسانی که امروز برعلیه قومپرستی قوم(پشتون) برخاسته اند و اعتراض میکنند پرسید که این (دشمن فرضی) کجاست؟ این قوم تخیلی پشتون در کدام منطقه جغرافیایی کشور سکونت دارد؟ کدام منابع ثروت را از آن خود کرده؟ تاریخ استعمارگری/برده داری/ نسل کشی آن چیست؟"

اگر کسانی از حاکمیت تاریخی پشتونها در این سرزمین ناراضی اند باید این حاکمیت را در زمینه های مشخص تاریخی آن ارزیابی کنند نه بر اساس برداشتهای مجرد جوامع دموکراتیک قرن بیست و یکم. شیوهء دولت داری حاکمان پشتون این سرزمین تفاوتی از همطرازان زمان خود در هندوستان، ایران، ترکیهء عثمانی و بخارا نداشت. اگر در افغانستان احیاناً یک امیر برادر خودرا کشته و یا کور کرده است در مقابل در فارس نادر شاه افشار پسر خودرا کشت. در ایران شاه اسمعیل صفوی

به درباریان خود حکم کرد که هرکسی اورا دوست دارد گوشت جسد مردهٔ شیبک خان ازبک را بخورد! درباریان هم چیزی از جسد بر جا نگذاشتند! شاهان زندیه باز ماندگان خاندان افشاررا قتل عام کردند و متعاقب آنها قاجارها تمام بازماندگان خاندان سلطنتی زندیه را از تیغ کشیدند. در عهد صفویه شاهزادگان را در میان صدها زن حرمسرا و خواجه ها بزرگ میکردند تا افراد ضعیف النفسی بار آیند و خیال سلطنت بسر شان نزند. در هندوستان اورنگزیب پدر خود شاه جهان را خلع و زندانی کرد و برادر خود داره را اعدام نمود. در ترکیهء عثمانی رسم بر آن بود که سلطان جدید به مجرد جلوس بر تخت تمام برادران خودرا اعدام میکرد تا رقیبی برایش نماند.

باآنکه در طول سلطنت محمد ظاهر شاه به تدریج و بخصوص بعد از انفاذ قانون اساسی دموکراتیک سال 1964م قدرت مطلقه سلطنت از میان رفت و چهره های سیاسی متنفذ اقوام مختلف شامل حکومت شدند بشمول دوکتور محمد یوسف صدراعظم، داکتر عبدالواحد سرابی، یعقوب لعلی، محمد خان جلاللر و سایرین، با کودتای هفتم ثور سال ۱۳۵۷هجری شمسی سلسلهء حاکمهء عنعنوی در این کشور برهم خورد و بخصوص با مداخلهء مستقیم نظامی امریکا در سال 2001م در بر انداختن امارت مذهبی طالبان و سپردن قدرت به شورای نظارامروز در قلهء رهبری سیاسی و نظامی کشور سلسلهء حاکمهء عنعنوی نقش مطلقه ندارند. اگر کسانی دوران بیش از چهل سال پادشاهی محمد ظاهرشاه را فاشیستی قلمداد میکنند نه معنی فاشیزم را میدانند و نه از تاریخ چیزی میدانند.

بعد از سقوط حکومت طالبان در اثر مداخلهء مستقیم قوای امریکایی در سال 2001م با آنکه حامد کرزئ پشتون تبار به حیث رییس جمهور معرفی شد اما در عمل قدرت اصلی در اختیار تاجیکهای جمعیتی و شورای نظاری بود. بیاد بیاوریم که احمد ضیآ مسعود به حیث معاون اول رییس جمهور، خلیلی معاون دوم، فهیم قسیم وزیر دفاع، عبدالله عبدلله وزیر خارجه و قانونی رییس پارلمان بودند. این نقش انحصاری قدرت دولتی در طول سالهای 2001 تا 2014 توأم با تبلیغات زهر آگین و نادرست وخلاف دانش عوام از ترکیب قومی نفوس کشور، برای فعالین سیاسی تاجیک تبار این توهم را ببار آورد که نقش حاکمهٔ آنها در دولت ناشی از ترکیب قومی نفوس کشور نیز است! این توهم نادرست بدون تعقل لازم این امیدواری کاذب را نیز ببار آورد که میتوانند در یک انتخابات پشتونها را از قدرت دولتی برای همیشه تجرید کنند. اما نتایج چهار انتخابات ریاست جمهوری پیهم، این تخیلات را نقش بر آب کرد. در یک جامعهء عنعنوی مانند افغانستان که وابستگیهای قومی، حتی در میان روشنفکران، محک انتخاب مردم است در صورت مقابله نهایی یک کاندید پشتون در مقابل یک کاندید غیر پشتون هیچ کاندید غیر پشتون نمیتواند در یک انتخابات آزاد، عادلانه و شفاف مقام ریاست جمهوری را از آن خود سازد. این یک وضعیت عادلانه و مطلوب نیست اما واقعیت ارقام نفوس، ساختمان دموگرافیکی و قومی کشور در کنار کم سوادی مردم چنین شرایط را ببار آورده و قومگرایی تنظیمهای جهادی هفتگانه و هشتگانه درطول سالهای 1978-2001م به این وضعیت نقش تعیین کننده داده است.

## هویت ملی افغان

فارسیوانها (تاجیکها) در افغانستان پشتونها را "افغان" خطاب میکردند و وطن آنها را "افغانستان" می گفتند (سیف هروی، تاریخنامهٔ هرات). در حالیکه خود پشتونها خودرا پشتون و در جمع پشتانه (پختون، پختانه) خطاب میکردند. اسم افغانستان که یک کلمهء ترکیبی دری (افغان+ستان) به معنی وطن افغانها است به تدریج بالای این خطه بطور طبیعی رایج شد. اسمهای افغان و افغانستان از نظر تاریخی توسط فارسها، ترکتبارها و اعراب بالای پشتونها و حتی تمام مردم ساکن جنوب هندوکش بکار رفته و به مرور زمان آنچنان عام گردید که خود پشتونها که در هندوستان بنام پتانها معروف هستند، نیز از آن در معرفی خود استفاده کرده اند.

بنابر آن تعمیم اسم "افغانستان" و هویت ملی "افغان" نتیجهٔ تطبیق پالیسیهای ناسیونالیستی رهبران پشتون این سرزمین نمی باشد تا دلایل مخالفت در برابر آنها را توجیه نماید. هویت ملی افغان در طول تاریخ شکل گرفته و به مرور زمان معرف هرفرد این سرزمین، **با حفظ هویت قومی او**، میباشد و در سراسر جهان با همین نام مردم این سرزمین را چه تاجیک

باشند، چه هزاره، چه ترکمن و ازبک و چه پشتون و نورستانی و بلوچ می شناسند و خطاب میکنند.  بنا بر آن تسجیل این حقیقت در قانون اساسی 1964م و قانونهای اساسی مابعد کاملاً طبیعی بوده است که مشخصهٔ اساسی آن داشتن تابعیت کشور افغانستان است نه هویت قومی او. بنابر آن هویت ملی "افغان" وابسته به اسم کشور افغانستان بوده تمام مردم دنیا مارا به همین نام میشناسند. بکاربردن کلمات نآمانوس "افغانستانی" که معنی "مربوط بودن به وطن افغانها" است از یکطرف از لحاظ لغوی نادرست است از جانب دیگر در بهترین حالت خود به معنی مهاجر در وطن افغانها معنی میباشد.

هر دوی این دیدگاه‌ها منجر به درگیری‌هایی می‌شوند که تداوم یافتهعمیق‌تر می‌شوند و در نهایت از مرزهای ملی عبور می‌کنند . بنابراین لیبرالیسم باید خود را تنها به عنوان یک صدا در میان بسیاری از صداها بداند نه یگانه صدای مشروع بشریت . صرف نظر کردن از ادعای لیبرالیسم مبنی بر اقتدار اخلاقی جهانی، کلید ثبات و صلح جهانیاست زیرا لیبرالامپریالیسم با تلاش هایی برای استقرار هژمونی غرب در سیاستهای نظامی و اقتصاد، که همگی بر ادعای برتری اخلاقی ارزش های لیبرالی غربی استوار است، درهم آمیخته شده. همانطوریکه در عصر استعمار پنداشتهای برتری فرهنگی غربی زمینهٔ اخلاقی استعمارملتهای جهان را می ساخت. رئالیسم یا واقع گرایی نیز باید به گونه ای تجدید نظر شود که دیگر احترام به حاکمیت ملی و قدرت به عنوان توجیه اخلاقی مطلق برای اعمال دولت عمل نکند. **در عوض، یک نظام دولتی جدید باید پیش‌فرض فلسفی چندقطبی را اتخاذ کند، که در آن بی‌طرفی ارزش‌ها نتیجه نهایی است، و بنابراین حتی کشورهایی با نظام‌های ارزشی ناسازگار باید همزیستی را بیاموزند.** چنین تحولی چقدر محتمل است؟ میرزویف محتاط است و می گوید که این یک تحول بزرگ در نظام روابط بین الملل خواهد بود. اما یک سابقه تاریخی برای آن وجود دارد. در قرن هفدهم، در اروپا، رهبرانی که از نزدیک به یک قرن جنگ بی وقفه خسته شده بودند، تصمیم گرفتند که نقش ارزش های دینی را در امور بین المللی کاهش دهند. بنابر آن توقع آن است که آنچه واقع گرایان تمدنی خواستار آن هستند، در واقع یک معاهده جدید وستفالیا[iii] است که مانند سلف خود، به گسترش جنگ های ارزشی پایان می دهد.

میرزویف می‌گوید، هدف رئالیسم تمدنی این است که نظم چندقطبی را در عمل پیاده کند، و آن را به‌عنوان نماینده قطب‌های تمدنی متنوع، که هر کدام حوزه نفوذ فرهنگی و سیاسی خود را دارند، نهادینه کند. او می‌گوید برای رسیدن به آن جا، باید زبان سیاسی مسلط روابط بین‌الملل امروزی را عوض کنیم.

تلاش برای منزوی ساختن هر ملتی غیرمسئولانه و خطرناک تلقی می شود زیرا ساختار جامعه جهانی ما را می شکند. بنابراین، وظیفه مناسب دیپلمات‌ها را می‌توان به بهترین نحو به کار مشاور ازدواج تشبیه کرد، جایی که طلاق به سادگی یک گزینه نیست. پس چگونه بی طرفی در آن جا می گیرد؟ بی طرفی، با توجه به ارزش ها، به خوبی در چارچوب رئالیسم تمدنی قرار می گیرد. نظام دولت ملی مدرن تا حد زیادی مدیون این ایده است که در یک جامعه سالم، ارزش‌های دینی نه تنها باید از سیاست جدا نگه داشته شوند، بلکه باید از نظر اهمیت با آن رقابت کنند. این تصور باستانی که عمیق‌ترین ارزش‌های ما از سیاست سرچشمه نمی‌گیرد، بلکه فراتر از سیاست است، چیزی است که در نهایت به رهبران این امکان را می‌دهد که بی‌طرفی را با توجه به ارزش‌ها، حتی ارزش‌های دینی، به جای مبارزه تا سرحد مرگ بر سر آنها بپذیرند. این در نهایت منجر به صلح وستفالیا، پایان جنگ 30 ساله و متعاقب آن ظهور اروپا به عنوان یک نیروگاه جهانی برای سه قرن آینده شد.

اگر می‌خواهیم از رویارویی جهانی دیگر بر سر ارزش‌ها اجتناب کنیم، امروز شدیداً نیاز داریم که این نوع بی‌طرفی را دوباره بدست آوریم.



# په افغانستان کې د وړیا روغتیایي خدماتو نظریې او د وګړو د لګښتونو اندیښنې

**ډاکټر لمر**

په یوه جغرافیایي محدوده کې د یوې ټولنې د دولتي اداري مسؤلیت دی، چې خلکو ته د با کیفیته ژوند چاپیر برابر کړي، هر اړخیز ټولنیز خدمات وړاندي کړي، چې اتباع یې هوسا او صحي ژوند ولري او د فزیکي، روحي او پوهنیز ودې بشپړ امکانات ولري، چې د رواني، جسمي او میکروبي ناروغیو مخنیوی وشي او د ناروغي په ترڅ کې د وړیا روغتیایي خدماتو روغتیایي بیمه ولري، چې د روغتیایي خدماتو د لګښتونو، د لوړ کیفیت، مصؤن او صحي ژوند تضمین یې وشي او په صحي چاپیریال کې ژوند وکړي.

یو شمېر افغانان داسې انګېري، چې په افغانستان کې د ژوند پورتنۍ غوښتنې ټولې تضمین شوي دي او ګواکې روغتیایي خدمات په افغانستان کې وړیا دي، خو ټولو ته څرګنده ده، چې په افغانستان کې ۸۰ سلنه روغتیایي خدمات د شخصي کلینیکونو او روغتونونو لخوا تر سره کېږي او پاتې ۲۰ سلنه کې په دولتي کلینیکونو او روغتونونو کې روغتیایي خدمات خلکو ته وړاندې کېږي، مګر دا هم جوته ده، چې د ناروغ فامیل اړ دی، چې درمل، سیروم او د سیروم د تزریق سیستم، د ادرارو نلکۍ (Urine-catheter)، د ټپونو د پانسمان توکي، د عملیات ځیني څیزونه او داسې نور باید پخپله په پیسو واخلي، چې په افغانستان کې په دولتي کلینیکونو او روغتونونو کې هم یو معمول کار دی. یو شمېر ناروغان د خپلې تداوي لپاره بهرنیو ملکونو ته ځي، چې هلته هم د تداوي ټول لګښتونه پخپله پرې کوي.

له بده مرغه په دولتي سکتور کې لیه هم د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه او شهید سردار محمد داودخان په واکمنیو کې جوړشویو کلینیکونو او روغتونونو کې د خلکو تداوي تر سره کېږي، چې کله نا کله دغه درملنه نیمګړې او له مخاطرو سره غبرګه وي او د هغه مهال ټول تعمیرات وراسته او زاړه شوي دي، ځکه نو په افغانستان کې روغتیایي سیستم ته باید په جدي توګه پاملرنه وشي.

نن سبا د افغانستان نفوس له ۴۳ میلیونه اوښتی دی او تر (۴۳۳۷۲۹۰۲) اټکل کېږي، چې روغتیایي خدمات ۸۰ سلنه په شخصي روغتونونو کې وړاندې کېږي، چې افغان ملت یې له ډېرو ګواښونو سره مخامخ کړی دی، یو شمېر بېوزلي افغانان پرته له تداوي په کورونو کې مري، ځکه د روغتیایي خدماتو د لوړو لګښتونو وسه نه لري او د درملنې لپاره ډاکټر ته مراجعه نه کوي او یو شمېر نور بیا د بې وسې له کبله خپله تداوي د ډاکټر له سپارښت سره سمه تر پایه نه تر سره کوي.

په افغانستان کې د توبرکولوز پېښې ۱۵ سلنه وګړیو کې تشخیص شوې دي، خو په اطرافو کې خلک د متداومې درملنې، د ایزولېشن، سم خوراک وسه نه لري، نو درمل نیمګړي اخلي، چې د انتیبیوتیک په مقابل کې د رېزستنت پېښې او د توبرکولوز مخاطره په اتباعو کې لوړوي، چې دغه حالت له ډېرو لګښتونو سره هم مل وي، نو د پاملرنې وړ ستونزه ده.

نن سبا په افغانستان کې ګڼشمېر د درملو فابریکې (کارخانې) جوړې شوي دي، په هلمند کې د درملو یو فابریکه په ۲۳۰ میلیونو افغانیو تأسیس شوې ده. په کابل کې د زعفران فارما د درملجوړولو فابریکه، چې تر ۴۵ قلمه ادویه جات تولیدوي فعالیت کوي. په کندهار کې د مومند کلینیک هم د شاوخوا ۲۰۰ میلیونو ډالرو په لګښت څو کاله مخکې تأسیس شوی دی.

د کابل په دهبوري کې د ښاغلي زمان ګُل د یورولوژي کلینک له څو لسیزو راپر دېخوا د خلکو درملنه او د یورولوژي عملیاتونه

تر سره کوي. د موسی وردګ کلینیک یې زوی ته په میراث پاتې دی، نو د شخصي کلینیکونو شمېر ورځ تر بلې زیاتېږي او له خلکو سره د روغتیایي خدماتو د لګښتونو اندېښنې هم پیاوړې کېږي.

افغانستان ۳۴ ولایتونه او تخمیناً ٦۵۰ ولسوالۍ لري، نو په دغه ټولو جغرافیوي او دولتي واحدونو کې روغتیایي خدمات یا نه شته او یا هم ډېر ابتدایي دي. په یو شمېر سیمو کې ملایان او یو شمېر کوډګر د خلکو درملنه کوي او عادي خلک، چې په کوم درملتون او یا شخصي کلینیک کې یې شاګردي کړې وي، نو په لرې پاتو سیمو کې د ډاکټر پېښې کوي او خلک له مخاطرې سره سم یا نا سم تداوي کوي. په شبرغان کې د سرې غمیزې نه مخکې ٦ شخصي درملتونونه او یوه ډیپو فعاله وه، خو اوسمهال د درملتونونو شمېر له ۴۰ اوښتی دی او د دولتي ډیپو درک نه شته. روغتیایي مرستې په ملکي روغتون، د تفحصاتو، څارندویو او د استخباراتو په کلینیکونو کې خلکو ته وړاندې کېږي. زه د دغو ټولو پېښو ثبوت لرم او له ډېرو سره مخامخ شوی هم یم، ځکه بیا دې ته نغوته کوم، چې د افغانستان روغتیایي خدماتو ته په ځغرده پاملرنه وشي.

ټولو ته معلومه ده، چې په وروستیو ۵۰ کلونو کې افغانستان په جګړو کې ښکېل وو او د افغانستان اداري سکتور، تعلیم او تربیې او روغتیایي خدماتو ته چنداني پاملرنه نه ده شوې، مګر نوره هم ټکني شوې دي. وروسته له سرې غمیزې د ولایتونو تر منځ تګ را تګ له امنیتي ګواښونو سره مل وو، په ډېرو سیمو کې ګڼشمېر درملتونونه وتړل شول او له روغتونونو هم فني پرسونل وتښتېدو. په ۱۳٦۰ کال کې د سرپل ولایت سقوط وکړ او دولتي ټولې موسسې وسوځول شوې، مکتبونه او دولتي اداري له منځه یوړل شوې او روغتیایي موسسې هم تری تام او چوروچپاول شوې. په همدغه کال د شبرغان نیم ښار هم د مجاهدینو لخوا وسوځول شو او د فاریاب د درزاب ولسوالي هم سقوط شوه. په مزار شریف کې د قدوس کل او قوماندان زبیج اخوډب روان وو. په افغانستان کې دغه سیمې نسبي آرامې سیمې یادېدلې، مګر

د افغانستان جنوب، شرق او غرب کې ټول اداري موسسات لیه د روسانو د یرغل په لومړي کال کې دړې وړې شوې ول.

په ۱۳۷۱ کال د کابل ورانېدل او د کابل د خلکو تباه کېدل ټولو افغانانو د شنې غمیزې او کورنیو جنګونو په ترڅ کې ولیدل. د کابل ټولې او منجمله روغتیایي موسسې ونړېدلې او د هوسا انساني ژوند ته په ټول افغانستان کې د پای ټکی کېښودل شو، چې له بده مرغه د امریکایانو او لوېدیزوالو له یرغل سره په شلو کلونو کې له ۳ تر ۴ تیرلیونو ډالرو له لګولو سره هم د افغانستان د روغتیایي خدماتو سیستم و نه رغول شو، چې نن هم له ۸۰ سلنه ډېر خدمات شخصي کلینیکونه وړاندې کوي، چې یو شمېر بیا انګېرنه کوي، چې ګواکې هر څه اوسمهال مافیایي کرکټر خپل کړی دی.

روغتیایي سیستم فني خلکو ته ضرورت لري. روغتیایي خدمات په ټولو ملکونو کې په یوه کچه نه دي، خوپه روغتیایي خدماتو کې یو شمېر ستندردونه موجود دي، چې په دې برخه کې باید هڅه وشي، چې خلک په بشپړه توګه د دغو ستندردونو په رڼا کې روغتیایي مرستې تر لاسه کړي او دې ته اړ نه شي چې پردیو ملکونو ته د تداوي لپاره ولاړ شي.

له افغانانو سره تل د روغتیایي لګښتونو وهم موجود دی، ځکه نه شي کولی د خپلې تداوي پیسې تیارې کړي، نو یا به خپل کور یا مځکه خرڅوي او یا به پیسې په پور اخلي، چې دا پخپله ګڼشمېر ټولنیز او کورني ګواښونه رامنځ ته کوي. تاسو ته به د افغانستان په پېښو کې یوه زړه بوږنوونکې پېښه د دارلمجانین د ناروغانو په یاد وي، چې یو صاحبمنصب ګڼشمېر د دارلمجانین ناروغان له تېغه تېر کړي وو، چې سردار محمد داود خان وروسته خبر شوی وو او په دې اړه یې د څېړنو کمیسیون جوړ کړی وو، خو د سرې غمیزې له کودتا سره دغه پېښه ونه څېړل شوه او له هېره وایستل شو، نو افغانستان د کانترستونو مملکت دي، ځکه په هره برخه کې باید په صداقت ګامونه پورته شي او پر دغه ملت زړه وسوځول شي.

آیا ټول ملکونه کولی شي په عامه توګه ټول روغتیایي خدمات په فني بڼه خلکو ته وړاندې کړي، طبیعي خبره ده چې نه! ځکه یو

شمېر مملکتونه د روغتیایي چارو لپاره ښه فني پرسونل لري او ځانګړې بودیجه یې ورته اختصاص کړې وي او خلک یې روغتیايي بیمه لري او کلینیکونه او روغتونونه یې ښه مُجهز دي، مګر په نورو کې حتی ابتدایي روغتیايي خدمات هم نه شته.
داسې ویل کېږي، چې د هند ډاکټران د نورو په پرتله ښه دي، خو د هند طبیبان له پېړی راهیسې په سابقه شوروي، اوسنۍ روسیې، بېلاروسیې، قزاقستان او د شوروي نور سابقه جمهوریتونو او پخپله هند او غربي هېوادونو کې تحصیل کوي، خو زما په ګومان د هند طبابت هم د عامو خلکو لپاره کوم ځانګړی پروګرام نه لري او ډېر ضعیف ټکي لري، چې په دې اړه به د یوې پېښې معلومات وړاندې شي.
په ۲۰۱۲ م کال یو افغان، چې د (Inguinalhernia) تکلیف یې درلودلو او په افغانستان کې یې ځواب ورکړی وو، چې دلته نه شي عملیات کېدلی، خو فامیل یې د تداوي لپاره هند ته بوولی وو. په ډهلي کې په هندي-امریکايي کومپلکس روغتون کې د (Inguinalhernia) عملیات یې ورته تر سره کړی وو. له عملیاته ورسته بله ورځ یې مغزي سکته کړې وه، چې خبرې یې نه شوی کولی او ښی لاس او پښه یې فلج شوي وو.
د نا سمې اداري، د درملنې د پورتوکولو له نه لرلو سره د مغزي سکتې تشخیص وروسته له څو ساعتونو شوی وو او د وینې د رقیقېدو درمل (Heparin) هم په روغتون کې نه ول، چې ډاکټر هم وروسته له څو ساعتونو روغتون ته راغلی وو، نو د هیپارین درمل ډېر وروسته ورکړل شوي وو، چې په دغه موده کې یې د مغزي سکتې اختلاطات نور هم ژور شوي وو، چې د طبي پرسونل او ډاکټرانو بې غوري ته نغوته کوي. همدا ډول یې (CT&MRI) هم ډېر وروسته ورته کړې وو. وروسته له ٦ ساعتو یې ناروغ بیا عملیات کړی وو، چې د مغزو د ډیکومپرېشن په اړوند یې (Leftcarniotomy) تر سره کړې وه، چې ناروغ بیا هم څو ځله عملیات شوی وو. د ناروغ درملنه په هند کې تر ۴ میاشتو اوږده شوې وه، چې وروسته له دغه مودې، هندي-امریکايي کومپلکس روغتون د ناروغ فامیل ته د ۳ لکو ډالرو چېک ورکړی وو، چې د روغتون بانکشمېرې ته یې ورټرانسفر کړي.

د ناروغ دوسیه هغه مهال په نیدرلند کې د روغتیا کمپنۍ ته د تحقیق لپاره راواستول شوه. د ناروغ دوسیه وڅېړل شوه، چې د نیروسرجن، نیورولوژیست، د داخله متخصص او د رګونو د جراحي د متخصص لکېل شوی نظر او د روغتیا کمپنۍ حقوقي پرېکړه هندي-امریکايي کومپلکس روغتون ته واستول شوه، چې هندي روغتونه ته دا په ډاګه شوې وه، چې وروسته د (Inguinalherinia) له عملیاته د ناروغ مغزي سکته د ډاکټرانو له بېغوري رامنځ ته شوې ده، ځکه وروسته له عملیاته د ایمبولېزیشن د وقایع په اړه هېڅ تدابیر نه و نیول شوي، د مغزي سکتې تشخیص ډېر وروسته تر سره شوی وو، د هیپارین درمل په روغتون کې موجود نه وو او وروسته له څوساعتونو ناروغ ته د وینې د رقیقېدو درمل ورکړل شوی وو، چې د درمل کچه هم په پام کې نه وه نیول شوې. څېړنو دا ښودلې ده، چې د مغزو د پراخ اینفرکشن (سکتې) په ترځ کې د (Leftcarniotomy) تر سره کول ښه عاقبت (Prognosis) نه لري، ځکه نو مخکې له کرانیوتومي باید د متخصصینو په یو کونسیلیوم کې دغه حالت څېړل شوی وه او پرېکړه شوې وی، چې آیا دغه عملیات تر سره شي یا نه ؟ ځکه نو کېدلی شوی، چې د نورو عملیاتونو او لګښتونو مخنیوی شوی وی.
وروسته له څلورو میاشتو د هندي روغتون تداوي نتیجه ورنه کړه او ناروغ له پراخې مغزي سکتې سره په فلج حالت کې باید بیرته افغانستان ته انتقال شوی وی. هغه مهال په هند کې د افغانستان سفیر ښاغلی ابدالي وو، چې له ښاغلي ابدالي سره د روغتیا د کمپني لخوا تلیفوني خبرې وشوې، مګر ښاغلي ابدالي وویل، چې د افغانستان سفارت له دا ډول پېښو سره تجربه نه لري او افغانستان ته د ناروغ د انتقال کومه ځانګړې بودیجه هم نه لري.
غبرګ له هندي-امریکايي کومپلکس روغتون سره هم خبرې رواني وې. وروسته له حقوقي تضمینه، چې هندي-امریکايي کومپلکس روغتون به محکمې ته نه معرفي کېږي، نو هوکړه وشوه، چې امریکايي-هندي کومپلکس روغتون باید د ناروغ ټول روغتیايي لګښتونه، افغانستان ته د ناروغ د انتقال او په الوتکه

کې د مراقب ډاکټر د تګ او بېرته راتګ لګښتونه پرې کړي، چې په دې ډول ناروغ له هنده افغانستان ته انتقال شو. د ناروغ فامیل د هندي روغتون له قضایي مسؤلیت سره علاقه نه درلوده او د روغتون د محکمې غوښتونکي نه ول. له بده مرغه ناروغ وروسته له څو میاشتو له ډېرو کړاونو سره په حق ورسېد او په خپله پلرنۍ هضیره کې خاورو ته وسپار شو، انا لله و انا الیه راجعون، ارواېې ښاده!

په نړۍ کې په پنځو لومړیو هېوادونوکې هغه ملکونه شمېرل کېږي، چې خپلو وګړو ته یې له ۹۰ سلنې ډېر روغتیایي خدمات تضمین کړي دي، چې هغه مملکتونه اروپايي ملکونه دي.

۱ – آندورا (Andorra)، چې تر ۹۵ ٪ روغتیایي خدمات یې تضمین کړي دي.

۲ – آیسلند (Iceland)، چې ۹۴تر ٪ روغتیایي خدمات یې تضمین کړي دي.

۳ – سویس (Switzerland)، چې تر ۹۲ ٪ روغتیایي خدمات یې تضمین کړي دي.

۴ – سویډن (Sweden)، چې تر ۹۰ ٪ روغتیایي خدمات یې تضمین کړي دي.

۵ – ناروې (Norway)، چې دغه ملک هم تر ۹۰ ٪ روغتیایي خدمات تضمین کړي دي.

په نیدرلند کې روغتیایي خدمات د ایویدنت بېس پر بنسټ تر سره کېږي. طبیبان یې ښه روزل کېږي او د نړۍ معاصرو علمي څېړنو ته د (Pub Med, Medline...) په چوکاټ کې لاس رسي لري او ډاکټران یې د نړیوالو روغتیایي انجمنونو غړي دي، چې په نړیوال علمي ډګر کې د نیدرلند څېړنې ډېرې د پام وړ دي، چې له امریکا، کاناډا، آسترالیا، انګلیستان او یو شمېر نورو پرمختللو هېوادونو سره په علمي څېړنو کې په پراخه پیمانه برخه اخلي. د نیدرلند متخصصین هم په ٦ کلنې پروګرام کې په ټولو تخصصونو کې له ډېرې لوړې کچې سره فارغېږي. د عُمراوږدوالی په نیدرلند کې د نرانو لپاره ۸۳ او د ښځو لپاره ۸۴ کلونه دی، چې د جرمني ۸۱ کلونه او د انګلیستان ۸۲ کلونه تخمین شوي دي، نو د نیدرلند خلک د نورو په پرتله اوږد عُمر کوي، مګر د لیختنشتین خلک تر ۸۷-۸۸ کلونو او د هسپانیا خلک تر ۸۷ کلونو پورې ژوند کوي، مګر طبابت یې له نیدرلند



سره نه شي مقایسه کېدلی او له بل پلوه په نیدرلند کې تر ۱۵ سلنه خلک له نورو ملکونو ورمهاجر شوي دي، نو کېدی شي د عُمر په احصائیه یې تأثیر کړی وي.

په نړۍ کې د مړینو سبب په لوړه کچه د زړه او د رګونو د ناروغیو له کبله دی. په نیدرلند کې د (-PTCA (Percutaneous transluminal coronary Angioplasty تخنیک په میتود د زړه د رګونو (Angioplasty) او (Stenting) تر سره کېږي او د ( TAVI-Transcatheter Aortic Valve (Implantation یا د ( TMVR-Transcatheter Mitral (Valve Replacement په تخنیک د زړه والونو تداوي په لوړه کچه تر سره کوي. په نیدرلند کې د زړه او صدري جراحي ۱۵ مرکزونه موجود دي، چې په کال کې تر ۲۰۰۰۰ د زړه او سږیو عملیاتونه تر سره کوي. د اریتمیا په برخه کې د (-PVA (Pulmonary Vein Ablation تخنیک پرته له مخاطرې په عامه توګه تر سره کېږي. باید یاده شی، چې په دې کچه بل په هېڅ مملکت کې په عامه توګه روغتیایي خدمات نه وړاندې کېږي. امریکا او انګلیستان په څېړنیزه برخه کې پراخ لګښتونه کوي، مګر د نیدرلند څېړنې د لوړ اعتبار وړ دي. امریکا په لویو ښارونو کې لوی روغتیایي مراکز لري، مګر عام خلک یې یا بیمه نه لري او یا هم دغو مراکزو ته لاس رسي نه لري، خو په نیدرلند کې شاه او ګدا په یو روغتون کې تداوي کېږي.

د کیوبا د مملکت ګڼشمېر خلک د هغو غلامانو نوي پښتونه تشکیلوي، چې په ۱۸ او نولسمه پېړۍ کې له هند، سریلانکا،

اندونیزیا او نورو آسیایي ملکونو څخه کیوبا، سوریناما، انتیلیا او نرو وچو او ټاپوګانو ته راوړل شوي ول او د نیشکر په کښتوکر او د بورې په تولیداتو بوخت ول، چې په ۱۸۴۱ کال یوازې په کیوبا کې تر ۴۳۰۰۰۰ غلامان یا مري اوسېدل.

د کیوبا په اړه ویل کېږي، چې د روغتیایي خدماتو لپاره تر ۱۳ ٪ بودیجه هر کال ځانګړې کوي او خلک یې ټول دولتي بیمه لري، مګر په جرمني کې ۱۱ ٪ او په انګلیستان کې ۹ ٪ بودیجه د روغتیایي خدماتو لپاره اختصاص شوې ده، خو پوښتنه دا کېږي، چې کیوبا کوم روغتیایي خدمات په عامه توګه وړاندې کوي. له معلوماتو سره سم د کیوبا د خلکو معاشونه له ۱۰۰۰ تر ۱۵۰۰ پېسو، چې له ۶۰ تر ۹۰ ډالره کېږي او په اوسط توګه د خلکو معاشونه له ۴۰ تر ۵۰ ډالره دي، نو د دغه لږ معاش په درلودلو او مالیاتو په ورکولو به د روغتیایي خدماتو لوړ لګښتونه په بشپړه توګه پرې کړی شي او که روغتیایي خدمات په کیوبا کې هم ابتدایي کچه لري. داسې ویل کېږي، چې نئونتال مړینه په کیوبا کې د جرمني، نیدرلند، امریکا او نورو پرمختللو ملکونو په پرتله ټیټه دی، خو ګڼشمېر څېړونکي نغوته کوي، چې کیوبا د ماشومانو د مړینې په احصایه کې لاسوهنې کوي، ځکه د ماشومانو مرګومېر کم ښیي.

د کیوبا طبابت لیه په ۱۸۸۰ کلونو کې پیل شوی دی. دغه مملکت تل د امریکا مستقیمه او یا غیر مستقیمه مستعمره وه، خو په ۱۹۵۸ کال کې د (Batista) له تېښتې سره فیډل کاسترو د کیوبا د انقلابي سوسیالیستی دولت واکمن شو. په ۱۹۶۰ م کال د (Che Guevara) په ابتکار په کیوبا کې روغتیایي سیستم ملي او دولتي شو، چې ټولو خلکو هم دولتي روغتیایي بیمه تر لاسه کړه او تداوي یې وړیا شوه، مګر مسافرین او توریستان باید د سفر روغتیایي بیمه ولري، چې د کیوبا له وړیا روغتیایي خدماتو سؤاستفاده ونه شي، مګر باید یاده شي، چې ملګرو ملتونو د کیوبا د نفوس د کموالي په اړه خپله اندېښنه څرګنده کړې ده، ځکه د کیوبا نفوس کال پر کال کمېږي.

د کیوبا اقتصادي بنسټ توریزم، د مشروباتو، د تنباکو او سیګارو صادرات او د نیکل معادن تشکیلوي، خو دغه مملکت تل بهرني دونېشن ته اړ وو. د فیډل کاسترو له واکمنې مخکې په کیوبا کې تر ۳۰۰۰۰۰ (۳ لکو) ښځې په فحشا بوختې وې، ځکه سپینو امریکایانو په کیوبا کې د سبزینه ښځو د فحشا جزیره ځان ته جوړه کړې وه. فیډل کاسترو فحاشي په قانوني بڼه منعه کړه او دغه ۳۰۰۰۰۰ ښځې یې دې ته اړې کړې، چې په دولتي موسسو کې کار وکړي، چې ټولې په ټولنیزو کارونو کې وګومارل شوې.

په ۱۹۶۲ کال د شوروي اتحاد (روسیې) او امریکا اړیکې ترینګرې شوې او خورسچوف په کیوبا کې د اتومي وسلې د ځای پر ځای کولو ګواښ وکړ، خو دغه ترینګرتیا په دیپلوماتیکو هلو ځلو حل شوه، مګر کیوبا د شوروي اتحاد په غېږ کې پرېوته او په ۱۹۶۳ کال د امریکا ۳۵ رئیس جمهور (JF Kennedy) د اوسولد نومي لخوا ترور شو، چې د شوروي او امریکا اړیکې ترېنګرې پاتې شوې.

وروسته له دغه پېښې د کیوبا د ټولنیزو او نظامي لګښتونو لپاره روسیې راودانګل او د کیوبا ټول ټولنیز پروګرامونه یې پلې کړل. په نړۍ کې د ابتدایي زده کړو هدف د ټولو خلکو لپاره وټاکل شو، خو کیوبا د خپلو ټولو وګړو لپاره د لوړو زده کړو هدف وټاکه، چې د کیوبا تر څنګ په سوسیالیستی ملکونو او په تېره بیا په شوروي اتحاد کې د کیوبا وګړیو ته په پراخه پیمانه د وړیا لوړو زده کړو زمینه برابره شوه، چې هر کال به په لسهاوو زرو کیوبایانو په شوروي اتحاد او شرقي بلاک کې لوړې تحصیلات تر سره کول.

وروسته له ۱۹۹۱ کاله د ګوربچُف واکمني ختمه شوه او شوروي اتحاد هم ړنګ وړې شو، چې د کیوبا اقتصاد هم له مخاطرې سره مخامخ شو، نو د شوروي اتحاد ګاو شیري هم مړه شوه او نوره نه وه! کیوبا د امریکا او د امریکا پلوو د ټینګتو له کبله ځینې تغیرات په سیاسي سیستم کې راوستل او فیډل کاسترو هم ومړ، مګر بیا هم کیوبا تر ننه له ډېر کاوړي اقتصاد سره لاس او ګرېوان ده، چې سیکس-توریزم بیا خپله لمنه په کیوبا کې خپره کړې ده، چې د لمبادا تر څنګ د امریکا سپین پوستي او

يو شمېر سکسيست اروپايان په سبزينوو کيوباپانو باندې خپله تنده ماتوي او د کيوبا اقتصاد تقويه کوي.

په ۱۹۹۹ م کال فيډل کاسترو د وينزويلا په مرسته په هوانا کې د نورو طبي انستيتوتونو تر څنګ د لاتين امريکايي طبي پوهنتون (ELAM-Escuela Latinoamericana de Medicina) بنسټ کېښود، چې په لومړيو ۲۰ کلونو يعنې له ۱۹۹۹ تر ۲۰۱۹ پورې يې ۲۹۰۰۰ طبيبان فارغ کړل، چې د ۱۲۰ ملکونو وګړي ول، چې زياتر يې د کارګرانو او بزګرانو اولاده وه او په ۱۰۰ ايتنيکي ډلو پورې اړوند ول. نن سبا په کيوبا کې د هر ۱۰۰۰ تنو لپاره تقريباً پورې ډاکټران ګومارل شوي دي، چې په جرمني کې ۴،۶ او په انګليستان کې ۳،۶ ډاکټران د ۱۰۰۰ تنو لپاره روغتيايي خدمات وړاندې کوي، نو په کيوبا کې د ډاکټرانو ډېر شمېر په شوروي اتحاد کې د روزلشويو برخه به ډېره پياوړې وي او په پورتني لاتين-امريکايي پوهنتون کې هم د لوړ شمېر کدرونه روزل شوي دي.

په ترکيه کې هم روغتيايي خدمات د روغتيايي بيمې پر بنسټ تر سره کېږي، چې د ترکيې ټولنيزه بيمه د هر ترک او مهاجر په (ID Card) کارت کې راجستر ده، چې په دولتي او شخصي کلينيکونو او روغتونونو کې د روغتيايي خدماتو لګښتونه د روغتيايي بيمې لخوا پرې کېږي، ځکه پر وګړيو يې د لګښتونو فشار لږ او يا نه شته دی او د يو (ID Card) په مرسته ټول ټولنيز او روغتيايي خدمات تر لاسه کوي.

د ترکيې ټولنيزه بيمه کې د روغتيايي خدماتو بيمې تر څنګ د بيکارۍ بيمه، د تقاعد بيمه او د تصادفاتو او تصادماتو بيمه هم شامله ده، يعنې که يو څوک بېکاره شي، نو د بيکارۍ د بيمې لخوا ورسره د ژوند په عرصه کې نقدي مرسته کېږي او يا سوسيال معاش ورکول کېږي. هغه خلک چې تقاعد کېږي، نو خپل تقاعد هم د دغه ټولنيزې بيمې د تقاعد د بيمې له څانګې اخلي. د ناڅاپو پېښو او يا ټکر په ترڅ کې، چې يو څوک ناروغ او معيوب او يا معلول شي، نو هغوی هم خپل معاش (نقدي مرستې)له ټولنيزې بيمې څخه تر لاسه کوي.

د ترکيې روغتيايي خدمات هم له پرمختللو ملکونو سره د مقايسې وړ نه دي، ځکه نه قوي اقتصاد لري، نه هم تخنيکي امکانات او نه هم کافي فني پرسونل. په لويو ښارونو لکه استامبول، ايضمير، آنقرا، قونيا، اناتوليا او داسې نورو کې کېدی شي د لوړې کچې روغتيايي خدمات وړاندې شي، مګر دغه خدمات ډېر عام نه دي، خو د ستندرد روغتيايي خدماتو امکانات يې بيا ډېر ښه دي. له بل پلوه په ترکيه کې د اولادونو د پلانولو خدمات، د غاښونو د درملنې امکانات او د ايستېتيک




جراحي يې په پراخه پيمانه وده کړې ده. د وېښتو د ترانسپلانټېشن لپاره له ټولې نړۍ خلک ورروان دي، ځکه هم يې خدمات په لوړه کچه دي، هم يې له عملياتو وروسته د مراقبت شرايط ښه دي او د وېښتو تداوي يې د اروپا په پرتله ارزانه تماميږي.

راځم د افغانستان روغتيايي سيستم ته، چې د روغتيايي خدماتو تر څنګ طبي زده کړو، تخصصي پروګرامونو او علمي څېړنو ته هم نغوته کوي. د مقايسې په بڼه بايد ياده شی، چې نيدرلند د تخميناً ۱۸ ميليونو وګړو لپاره په ۸ پوهنتونونو کې د طبي زدکړو پوهنځي لري او تقريباً په ۶۴ روغتونو کې د تخصصي پروګرامونو امکانات لري، چې په جرمني کې د ۸۵ ميليونو وګړو لپاره ۳۶ پوهنتونونه لري او ګڼشمېر روغتونونه يې تخصصي پروګرامونو ته وقف کړي دي.

په افغانستان کې له ۴۳ میلیونو ډېرو اتباعو لپاره له ۲۰۰ زیات دولتي او شخصي پوهنځي او طبي مکتبونه شته دي، چې روغتیايي کادرونه روزي، مګر زه به د افغانستان کې د طبیبانو او متخصصینو په راجستر لنډ مکس وکړم. ټولو ته څرګنده ده، چې د افغانستان طبي ډیپلومونه له ستونزو سره مخامخ دي، چې په ډېرو ملکونو کې یې یا نه مني او یا هم تېروتنې پکې پیدا کېږي. په بهرنیو ملکونو کې ما ګڼشمېر افغان ډاکټران لیدلي دي، چې دیبلوم لري، مګر هېڅ موسسه یې نه مني، چې یو علت یې د راجستر مسئله ده، بل یې د پوهنځي د رئیس لاسلیک دی او بله ستونزه یې د تخلص او نوم راجستر دی، چې د وزارت داخلې له اسنادو سره سر نه لګوي. د شمسي او میلادي کلونو د توپیر مغایرت یې بله ستونزه ده، خو تر ټولو غوره مسئله د طبي پوهنځي د کوریکولوم برخه ده، چې مضامین یې په ټولو پوهنځیو کې یو او بل ته ورته نه دي، ځکه نو د افغاني دیپلوم د راجستر او منلو مشکلات یې رامنځ ته کړي دي.

د تخصصي پروګرام هم اساسي ستونزې پورته یاد شوي ټکي دي، خو په دې برخه کې هم د تخصصي پروګرام کوریکولوم په هر پوهنتون او روغتون کې بل ډول دی او د تداوي، عملیاتونو، تشخیصي میتودونو، ایتیک او کمونیکېشن برخې یې هم په اسنادونو کې په بشپړه توګه نه دي درج شوي، راجستر شمېره یې به وروستیو ۵۰ کلونو کې له یوې مرجې څخه نه ده صادر شوې، هرې سیمې له خپلې خوښې سره یو راجستر شمېره په اسنادونو ورټومبلې ده، له بده مرغه د افغانستان او یو شمېر نورو ملکونو تخصصي پروګرامونه په نیدرلنډ، جرمني او یو شمېر نورو ملکونو کې نه منل کېږي، ځکه دغه ستونزې ته باید پاملرنه وشي او په نړیواله کچه ټولمنلې تخصصي پروګرام باید په افغانستان کې هم پلې شي.

د افغانستان د روغتیایي خدماتو په اړه باید یاده شي، چې لومړی باید د افغانستان ټول خلک په ثبت-احوالاتو کې راجستر شي او الکترونیکي پېژندپاڼه (ID Card) تر لاسه کړي. د الکترونیکي پېژندپاڼې (ID Card) پر بنسټ تورکیې ته ورته ټولنیزه بیمه، چې په هغې کې د روغتیا خدماتو، د تقاعد معاش، د بیکارۍ معاش او د تراوما په ترڅ کې د معیوبیت په اړه د معاش تضمین وي، رامنځ ته شي او دېتابېس یې په (ID Card) کې جوړ شي. دغه پورته ټولنیزه بیمه باید په پېژندپاڼې کې یو ځای په ډېټابېس کې راجستر شي، چې د اضافي مصارفو او اداري انارشي




مخنیوی وشي. د ټولنیزې بېمې، چې د روغتیایي خدماتو بیمه هم پکې شامله ده، باید د مملکت د مالیاتو پر بنسټ یې د لګښتونو تضمین رامنځ ته شي.

د افغانستان ټولنه یوه ډېره ځوانه ټولنه ده، چې اوسط عُمر په افغانستان کې ۱۷ کاله تخمین شوی دی او د نفوس ډېروالی یې په کال کې ۲،۸۸ ٪ اټکل شوی دی، چې د افغانستان نفوس هر کال زیاتېږي، خو په روستیو ۷۰ کلونو کې د ماشومانو د زېږولو پرومیلاژ راښکته شوی، چې د ماشومانو د زېږېد شمېر د ۱۹۸۰ کال په پرتله له ۷،٦ تر ۴،۸ ماشومه راښکته شوی دی، نو روغتیایي لګښتونه زیاتره وروسته له ۴۵ کلنۍ زیاتېږي او د عُمر له اوږدوالي سره نور هم ډېرېږي، په افغانستان کې اوسط د عُمراوږدوالی تر ٦۴،۷ کلونو پورې دی. پا پای کې بیا یادونه کوم، چې د افغان ولس لپاره د روغتیایي خدماتو بیمه د مالیاتو پر بنسټ د ټولنیزې بیمې په اډانه کې د (ID Card) کارټ په راجستر کې تضمین شي.

و من الله التوفیق

# په بدوي د ښځو ورکړه؛ ناوړه دود



لیکوال: مولوی رحمت الله اندړ

دود یا رواج، چې په عربي ژبه کې ورته (عُرف) ویل کېږي، په لغت کې د پېژندلو په معنی ده او په اصطلاح کې هغه معلومه او پېژندل شوې چاره ده، چې عام خلک یې په معاملاتو کې کاروي، یا د عامو خلکو تر منځ په ټولنیزه توګه رائجه وي.

د اصول فقه علماء د عُرف تعریف داسې کوي: هغه دود او غوره پېژندل شوې وینا او چاره ده، چې د اسلامي شریعت خلاف نه وي، اکثر یا یوه ډله خلک پرې روږدي وي، سالم عقل یې منی او ملاتړ یې کوي) .۱(

له عادت سره یې توپیر دا دی، چې هر عرف عادت دی، خو هر عادت عرف نه دی، ځکه د یوه یا دوو تنو عادت ته عرف نه ویل کېږي.

دود په انساني تاریخ کې له اوله تر اوسه لوړ حیثیت او مقام لری، ډېری وخت د وګړو تر منځ شخړې او ستونزې د هغې ټولنې د دودنو په مټ هوارېږي او له منځه ځي، ټولې انساني ټولنې ځانګړې دودونه لري او همدغه دودونه یې د کلتور یوه لویه برخه وي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ غړی استاذ حبیب الله رفیع وایي: کلتور د یوه قوم دود دستور، مذهب، عقیده، موسیقي او د هغوی ټولنیز ژوند دی.

دا چې کلتور څنګه جوړ او را منځ ته شي، ډاکتر راج ولي شاه خټک وایي: کله چې یو قام د خپلو ضرورتونو پوره کولو لپاره لارې چارې جوړې کړي؛ نو کلتور په وجود کې راشي.

همدغه لارې چارې اصلاً دودونه دي او دودونه بیا هغه ټولنیز قراردادونه دي، چې د ټولنې د وګړو له خوا ټاکل کېږي.

اسلام، چې تر ټولو اسماني ادیانو جامع او شامل دین دی، د خپل وخت له ټولو دودونو سره یې ټکر و نه کړ. هغه دودونه، چې د انساني ټولنې بقا پکې نغښتې وه او په ګټه یې وو، تایید یې کړل او پر عملي کولو یې ټینګار وکړ.

دیت په عربي ټولنه کې تر اسلام له مخه دود و، اسلام نه یواځې تایید کړ؛ بلکې د قتل خطاء په صورت کې یې مسلمانانو ته امر وکړ، چې دیت ورکړي.

الله تعالی فرمایلي دي: «وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ أَنْ يَقْتُلَ مُؤْمِنًا إِلَّا خَطَأً وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ» النساء/ ۹۲.

بلې خوا ته یې پر هغو دودونو د بطلان خط کش کړ، چې انساني ټولنې ته یې زیان اړولی وو.

قمار او سود هم په عربي ټولنه کې تر اسلام له مخه دود وو، خو چې ټولنې ته یې زیان اړولی وو او له امله یې ټولنه له کړاوونو او بدختیو سره مخ وه، اسلامي شریعت تحریم کړل او ویې فرمایل:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ» المائدة/ ۹۰.

همدارنګه څلورو مشهورو امامانو په فقهي مسائلو کې عرف ته زیات اعتبار ورکړی دی؛ بلکې ځینې یې په عرف ثابتې کړې دي.

حنفي فقهاء وایي: «الثابت بالعرف کالثابت بالنص) «۲(

په عرف باندې ثابت داسې دی لکه په نص چې ثابت وي.

شافعي فقهاء وایي: «و ما لیس له حد شرعا و لا لغة یُرجع فیه الی العُرف)«۳(

هغه شی چې په شریعت او لغت کې تعریف ونه لري، د تعریف په اړه یې عرف ته مراجعه کېږي.

مالکي فقهاء وایي: «والعمل بالعرف أصل من أصول المذهب) «۴(

په عرف عمل کول د مالکي مذهب له اصولو څخه یو اصل دی.

حنبلي فقهاء وایي: « ما ورد به الشرع مطلقا رجع فیه الی العرف) «۵(

په شریعت کې چې یو شی مطلق وي، په اړه یې عرف ته مراجعه کېږي.

افغانی ټولنه هم د نورو بشري ټولنو په څېر ځانګړي دودونه لري، چې ښه او بد دواړه را نغاړي، موږ باید د نورو ټولنو په څېر غوره دودونو ته په ټولنه کې وده ورکړو او له هغو دودونو سره مخه ښه

وکړو او له ټولنې یې د تل لپاره ریښې وباسو، چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې دي او په ټولنه کې ناخوالې را منځ ته کوي.

ښځه په بدو کې ورکول یو بد دود دی، څنګه یې مخه ډب کولای شو؟ لومړی باید دا روښانه کړو، چې ولې بد دود دی؟ وروسته به د دې ناوړه دود د مخنیوي پر لارو چارو او لاملونو بحث وکړو.

په بدو کې د ښځو ورکړه بدیو ته د پای ټکی نه ږدي؛ بلکې په ټولنه کې بلا زیاتې ناخوالې را منځ ته کوي، نوره هم ټولنه له کړاوونو او ستونزو سره مخ کوي، ځکه د یوې بدې چارې مخه په بله بده چاره نه نیوله کېږي او وینه په وینه نه مینځل کېږي.

د مقتول کورنۍ ته د قاتل کورنۍ په بدو کې نجلۍ ورکوي او خلک فکر کوي، چې دښمني یې په دوستۍ بدله شوه، ګردسره نه ده بدله شوې، دا په اصل کې یو بل جنایت وشو او په ټولنه کې قتل او قتال ته نوره هم لار هواره شوه، قاتل و هڅول شو، چې بېغمه خپل قتلونه کوه، ستا د دې سترې ګناه او جرم سزا بل څوک ګالي، که شمېرلې یې درته ووایم؛ نو په بدو کې د نجونو ورکړه لاندې ناخوالې زېږوي:

۱ـ قاتل هیڅ سزا نه ګالي، بلکې قتل ته نور هم هڅېږي.

۲ـ د اسلامي شریعت او اساسي قانون پر بنسټ جرم فردي دی او بل فرد ته سرایت نه کوي، خو په دې ناوړه دود کې اسلامي شریعت او اساسي قانون دواړه تر پښو لاندې کېږي، د مجرم پر ځای یو بل بې ګناه انسان ته سزا ورکول کېږي.

۳ د یوه بېګناه انسان ټول ژوند لولپه کېږي، ځکه هغې نجلۍ ته چې په بدو کې ورکړ شوې ده، د خپل خسر په کورنۍ کې د یوې دښمنې په سترګه کتل کېږي او د دښمن په څېر چلن ورسره کېږي، هره ورځ رټل کېږي، پېغور ورکول کېږي او ان چې په نه خبره وهل کېږي.

۴ـ د یوه معصوم انسان د ژوند په ټولو غوټیو هیلو خاورې اوړې او تاند ارمانونه یې تروړل کېږي، هره پېغله په زړه کې ناوېتوب ته هوسېږي، غواړي، چې د نورو پېغلو په څېر په برم او عزت واده شي، د ژوند غوره ملګرې ولري، په واده کې یې چمبې ووهل شي، ګډا او اتڼ وشي، د واده د شپې نکریزې یې په لاس کېښول شي، هم د پلار له کوره په خوښۍ ولاړه شي او هم د خسر په کور کې په عزت او درنښت قدم کېږدي او د ژوند دغه رنګینې شېبې په خپلو سترګو ووینې، خو دغه بد مرغه دود له دې معصومې پېغلې دغه ټولې خوښۍ نه یواځې په نه څه اخلي؛ بلکې له یوه دوزخي ژوند سره یې د ژوند تر وروستیو شېبو لاس او ګرېوان پرېږدي.

۵ـ نجلۍ له خپلې خوښې پرته ودېږي، هغه د خپل ټول ژوند د ملګري په اړه نه پوښتل کېږي او جبري نکاح يې کېږي، چې دلته یو ځل بیا اسلامي شریعت تر پښو لاندې کېږي او د ستر لارښود لارښوونې له پامه غورځي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «لا تُنكح الأيم حتى تُستأمر ولا البكر حتى تُستأذن» (٦) کونډې دې د هغې له مشورې او پیغلې دې د هغې له اجازې پرته په نکاح نه ورکول کېږي.

له ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی وایي: « أن جارية بكراً أتت رسول الله صلى الله عليه وسلم فذكرت أن أباها زوّجها وهي كارهة، فخيَّرها النبى صلى الله عليه وسلم» (٧) یوه پیغله نجلۍ رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته ویې ویل، چې پلار یې د هغې له خوښې پرته چا ته په نکاح ورکړې ده؛ نو رسول الله صلی الله علیه وسلم هغې ته اختیار وکړ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم، چې کله خپله نازولې لور فاطمه رضی الله عنها د خپل تره زوی حضرت علی رضی الله عنه ته ور په نکاح کوله؛ نو ویې پوښتله او ورته ویې فرمایل: «ان عليا يذكرك» (٨) علی ستا یادونه کوي، ستر لارښود خپله لور په دې پوهوي، چې ستا نکاح ستا له اجازې پرته نه تړل کېږي، ته د خپل راتلونکې ژوند په اړه بشپړ واک لرې، د منلو او نه منلو پرېکړه ستا په لاس کې ده، خو زموږ خور او لور د همدغه شوم دود له امله له خپلو دیني حقوقو محرومېږي.

٦ـ نجلۍ له روحي پلوه ځورېږي او طبیعي ده، چې اولادونه یې هم په اروايي ناروغیو اخته کېږي، مخکې مې یادونه وکړه، چې په بدو کې ورکړ شوې نجلۍ ته د خسر کور سم دوزخ وي، له کوچنې تر لویه هر څوک یې رټي، په سپکه سترګه ورته ګوري او ان چې وهي او ټکوي یې، اولادونه یې له مور سره دا تاو تریخوالې په سترګو ویني، همدغه تاو تریخوالي د ماشوم پر اروا بده اغېزه کوي، ځکه ماشوم له مور سره بې کچې مینه لري، د مور ځورول یې په حقیقت کې د ماشوم ځورول دي او د هغه پر اروا وار دي او دا د همدې ناوړه دود اغېز دی، چې ټولنې ته د یوه سالم نسل پر ځای له اروايي پلوه ناروغ نسل راځي، چې د ټولنې ستونزې نورې هم پېچلې کوي.

۷ـ یوه وړه کورنۍ/ مېره او مېرمن د یوې بشپړې انساني ټولنې اساسي خښته ده، ځکه له همدغې وړې کورنۍ څخه خېل قوم او قبیله جوړېږي، له همدې امله اسلامي شریعت د نکاح مسله زیاته څېړلې او رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې اړه زیاتې لارښوونې کړې، د مسلمانانو ازلي دښمن ابلیس هم د مېړه او ښځې تر منځ تاوتریخوالې، کرکه او بېلوالې تر ټولو غټه لاس ته راوړنه بللې. له جابر رضی الله عنه څخه روایت دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: « إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ ثُمَّ يَبْعَث سراياه يَفْتِنُونَ النَّاسَ فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ

مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا فَيَقُولُ مَا صَنَعْتَ شَيْئًا قَالَ ثُمَّ يَجِيءُ أَحَدُهُمْ فَيَقُولُ مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ امْرَأَتِهِ قَالَ فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ نَعَمْ أَنْتَ»(۹) ابلیس خپل عرش پر اوبو ږدي او د شیطانانو ډلې لېږي، چې خلک په شر او فتنه واړوي، تر ټولو لوی فتنه اچوونکی ابلیس ته لوړ مقام لري؛ نو یو شیطان راغی او ویې ویل: ما دا دا کار وکړ، مانا خلک مې په غلا، زنا او قمار اخته کړل، ابلیس جواب ورکړ، هیڅ دې نه دي کړي، چې اخیر کې یو شیطان راغی او ورته ویې ویل: ما یو تن تر هغه پرېنښود، چې د ده او مېرمنې تر منځ مې یې بیلتون وا نه چاوه، ابلیس همدغه شیطان په غېږ کې ونیو او ورته ویې ویل: ته د ابلیس اصلي بچی یې، تا تر ټولو غوره چاره سر ته رسولې. دا ځکه لویه لاس ته راوړنه ده، چې د یوې ټولنې بنسټ یې نړولی دی.

موږ د هغې نکاح په اړه، چې د یوه خپل، قوم او قبیلې اساس او د یوې انسانې ټولنې بنسټیزه خښته بلل کېږي، څومره بې تفاوته یو، هیڅ د نکاح شرعي آداب په پام کې نه نیسو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر لارښوونو ګام اړوو، د دوو انسانانو د ژوند په اړه په پټو سترګو پرېکړه کوو، په لوی لاس یوه کورنۍ د یوې دښمنۍ پر ځای پر بله دښمنۍ اړوو، موږ داسې انګیرو، چې دښمنۍ مو په دوستۍ بدله کړه؛ خو په حقیقت کې مو یوه دښمنۍ پر دوو دښمنیو بدله کړه، ستونزه مو د هوارېدو پر ځای نوره هم پېچلې کړه او دیوې کورنۍ، قوم او قبیلې اساس مو وران کړ.

که په لنډ ډول ووایم په بدو کې د ښځو ورکړه، له دیني پلوه ناروا ده، انساني او اساسي قانون یې نه مني، پربشري حقوقو تېری دی، انساني کرامت تر پښو لاندې کوي، د یوه بشري جنایت تداوم دی او په ټوله کې د شخړې د حل پر ځای لسګونه نورې شخړې رامنځ ته کول دي.

په ټولنه کې د دې ناوړه دود مخه څنګه ډب کولای او هغه لاملونه څنګه پیدا کولای شو، چې د غه ناوړه دود یې په ټولنه کې را منځ ته کړی او رائج کړی دی؟

له ښځو سره د ډېرو ناخوالو یو عمده لامل دا دی، چې زموږ د ټولنې ډېرې خلک، لوستي او نالوستي پر دې باور دي، چې ښځه دوهمه درجه انسان دی، عقل یې تر نارینه لږ دی، له فزیکي او جسماني پلوه تر نارینه کمزورې ده، په میراث کې یې برخه تر نارینه کمه ده، د یوې ښځې شاهدي نه قبلیږي، له چپې پښتۍ پیدا ده او داسې نور...

نه یواځې زموږ ټولنې ښځو ته خپل حقوق نه دي ورکړي، په نورو ټولنو کې هم ښځې ته په ډېره ټیټه سترګه کتل شوي دي. د ښځې په اړه د هندي ټولنې پخوانیو قوانینو په دې پرېکړه کړې وه چې،

« وبا، مرګ، جهنم، زهر، مار او اور تر ښځې غوره دي)«۱۰(

په دې ټولنه کې به کله داسې هم پیښه شوه، چې سړي به په قمار کې له خپلې شتمنۍ بایللو وروسته خپله ښځه په قمار کې بایلله او ګټونکی ته به یې ورکوله).۱۱(

عربي ټولنې تر اسلام له مخه خپلې لونې ښخولې، هیڅ د ژوند حق یې نه ورکاوه، له ښځو سره دې چلن د ښځې موقف او درجه په انساني ټولنه کې را ټیټه کړې وه، وخت په وخت د دې چلن د اصلاح او سمون هڅه شوې؛ خو له بده مرغه چې بیرته په یو او بل نامه له ښځو د هغوی حقوق اخیستل شوي دي.

دې باور، چې ښځه دوهمه درجه انسان دی، د ښځې د ژوند ټولې برخې په ټولنه کې اغېزمنې کړې دي، که لور وي، له ورور سره برابره نه ده، هغه حقوق، چې زوی یې لري، لور ته نه ورکول کېږي، که خور وي؛ نو د ورور تر لاس لاندې ده، خپلواکي نه لري، یواځې د ورور اوامرو ته به یې غوږ نیولی وي، که مېرمن وي؛ نو نه یواځې د خپل مېړه تر لاس لاندې وي، بلکې د هغې ټولې کورنۍ وینځه ده، ټول وخت یې د کور په چوپړ کې تېرېږي.

موږ د ښځې هغه حقوق چې، ښځه په ټولنه کې له نارینه سره سیالوي، په یوه او بله پلمه ترورلي دي، کله مو اسلام او کله مو د ټولنې کلتور ورته پلمه کړې وي.

د تعلیم حق ترې ترورل شوی، د تجارت حق ترې اخیستل شوی؛ بلکې مهر، چې مطلق د ښځې حق دی، هم نه ورکول کېږي، د روغتیا او صحت حق ورڅخه اخیستل شوی دی، که ناروغه شي او ښځینه ډاکټره نه وي؛ نو غیرتیان (!) یې نارینه ډاکټر ته نه بيايي...

ایا ښځه رښتیا هم دوهمه درجه انسان ده؟

په اسلامي شریعت کې مطلق انسان اشرف المخلوقات بلل شوی دی، د ښځې او نر توپیر پکې نه دی شوی، څنګه چې الله تعالی نارینه مخاطب کړي دي، همغسې یې ښځه هم مخاطبه کړې ده، ښځه هم د عباداتو اخلاقو، معاملاتو او نورو ارزښتونو په اړه د نارینه په څېر مکلفیت لري، جزا او حساب په دنیا او اخرت کې له دواړو سره یو ډول کېږي. الله تعالی فرمایلي دي:

»وحملها الانسان انه کان ظلوما جهولا» الاحزاب/۷۲

»خلق الانسان من عجل» الانبیاء/۳۷

»ان الانسان خلق هلوعا» المعارج/۱۹

»یا ایها الانسان ما غرک بربک الکریم» الانفطار/٦

»و بدأ خلق الانسان من طين» السجدة/۷

»ولقد خلقنا الانسان من سلالة من طين» المؤمنون/۱۲

»الزانية والزاني فاجلدو كل واحد منهما مائة جلدة» النور/۲

»والسارق و السارقة فاقطعوا ايديهما» المائدة/۳۸

»هن لباس لكم و انتم لباس لهن» البقرة/۱۸۷

او رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

»انما النساء شقائق الرجال» (۱۲) ښځكه، ښځی له سړو سره برابری دي.

قرآني او نبوی لارښوونی موږ ته دا را ښيي، چې د ښځی او نر تر منځ كومه برید بندی نشته، دواړه په انسانیت كی سره برابری دي، البته د ټولو انسانانو د غوره والی معیار له الله تعالی څخه وېره او تقوا ده، هر څوک چی له الله تعالی څخه زیات وېرېږی او زیات متقی وی، هماغه الله تعالی ته غوره انسان دی، نر وی او كه ښځه، الله تعالی فرمایلی دی: «ان اكرمكم عند الله اتقاكم» الحجر/۱۳.

اسلام د ټولو معاصرو ټولنو په خلاف ښځی ته درناوی وكړ، ښځه يې د جبر، حماقت، جهالت او ناوړه دودونو له هغو ځنځیرونو خلاصه كړه، چی تصور یې ممكن نه و، د مېرمنی په حیثیت یی د خپل مېړه لپاره ډاډ او سكون وګرځوله، د لور په حیثیت یې جنت ته د دخول سبب وګرځوله او د مور په توګه یې جنت د هغی تر قدمونو لاندی كړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغوی د زده كړی او تعلیم لپاره وخت ځانګړی كړ، د مسجد دروازه یې د دوی پر مخ خلاصه كړه، د جمعی او اخترو په لمنځونو كی یی د رسول الله صلی الله علیه وسلم خطبی واوریدی، ان چی د یو انسان په څېر یې ټول حقوق وركړل؛ بلكی له ځینی امتیازاتو یې هم برخمنه كړه.

د مېرمنی نفقه یې پر مېړه فرض كړه، د الله تعالی په لاره كی جګړه یې یواځی پر نارینه فرض كړه، ټول هغه مسئوولیتونه، چی سختی ګالل پكی حتمی وی، نارینه ته ور تر غاړه كړل، لنډه دا چی دواړو ته یې د هغوی د وسی او توان هومره مسئوولیت ور وسپارل.

د اسلام په لومړیو كی، په تېره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بختور پېر كی ښځه له خپلو ټولو حقوقو برخمنه وه او زموږ تر ټولنی څو برابره ازاده وه، هیڅكله یې ازادی له ګواښ سره نه ده مخ شوی، هغه خندونه چی د ښځو د ازادۍ مخی ته پراته وو او ښځی یی له خپلو حقوقو بی برخی كړی وی، اسلامی شریعت یو په بل پسی لری كړل، ښځی ته یې د خپل پلار، ورور، مېړه او ټولنی په وړاندی د خپلو حقوقو د غږ پورته كولو او تر لاسه كولو جرئت وركړ.

د ابی سعید الخدری رضی الله عنه حدیث د نبوی عصر یو وړوكی انځور دی، وګورئ، چی رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابه كرامو له ښځو سره څنګه چلن كړی دی !؟.

له ابی سعید الخدری رضی الله عنه څخه روایت دی وایی: موږ له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ناست وو، چی د صفوان بن المعطل مېرمنه راغله او ویی ویل: ای د الله رسوله! زه چی كله لمونځ كوم؛ نو مېړه می صفوان بن المعطل ما وهی او چی روژه ونیسم، راباندی ماتوی یی او خپله د سهار لمونځ په لمر ختو كی كوی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «فسأله عما قالت» پوښتنی یی جواب كړه؛ نو ویی ویل: ای د الله رسوله! دا چی زه یی په لمانځه وهم، هغه په لمانځه كی دوه سورتونه وایی او زه یی له دی راګرځوم. رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«لو كانت سورة واحدة لكفت الناس» كه یو سورة هم وی د ټولو خلكو لپاره بسنه كوی. او دا چی زه یی روژی ته نه پرېږدم، هغه ډېری ډېری روژی نیسی او زه ځوان یم، هومره زغم نه لرم، رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:«لا تصومنَّ امرأةٌ إلاّ بإذن زوجها» مېرمن دی هیڅكله د مېړه له اجازی پرته روژه نه نیسی او دا چی زه په لمر ختو كی لمونځ كوم، زموږ كورنۍ په دی چاره پېژندل شوی ده، چی همیشه په لمر ختو كی را ویښېږو، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: « اذا استیقظت فصلی» چی را بیدار شی؛ نو لمونځ كوه) .۱۳(

حدیث شریف ته په پام سره، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ټولنی ښځو ته څومره ازادي وركړي وه!؟ یوه مېرمن د رسول الله صلی الله علیه وسلم او ګڼو صحابه كرامو په وړاندی د خپل مېړه په حضور كی، پر هغه نیوكی كوی، دا چاره جسارت او بی حیایی نه بلل كېږی، نه یواځی نیوكی یی اورېدل كېږي؛ بلكی مېړه یی د هغی نیوكی په ورین تندی جوابوی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دواړو ترمنځ په نرمه لهجه پرېكړه كوی.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم په بختور پېر كی ښځو خپل حقوق په ډېره اسانۍ تر لاسه كول، ځكه هغوی ته یی د غږ پورته كولو جرئت وركړی وو، په واقعی ډول د اسلام لومړی پېر د ښځو د ازادۍ یو نه تكرارېدونكی پېر و. ورځ تر بلی د ښځو د ازادۍ مخی ته په یوه او بله پلمه دیوالونه ووهل شول.

ښځه د ستر او پر دی په نامه له علمی غونډو، د شعر او ادب له مجلسونو، له مسجد او خطبی، د اختر له لمنځونو، لنډه دا چی له ټولو هغو ځایونو، چی پوهه پكی تر لاسه كېږ را وګرځول شوه.

ښځی ته چی كومه ازادی او حقوق اسلام وركړی وو، بېرته د اسلام په نامه ځنی وترورل شول، ښځه په څلورو دیوالونو كی پاتی شوه او د ټولنې جبر پر دې قانع كړه، چې « ښځه یا د كور ده یا د ګور«

د بشر د حقوقو تش په نامه کمیسون هم په دې اړه هیڅ داسې موثر ګام نه دی اخیستی، چې د ښځو د حقوقو دفاع وکړي او په ټولنه کې د ښځو د حقوقو مخ ته پراته خنډونه لرې کړي

تر څو چې، ښځه په ټولنه کې له خپلو شرعي حقوقو بې برخې وي او د خپلو حقوقو د غوښتلو لپاره یې اواز اوچتول بې حیایي او شرم ګڼل کېږي، په بدو کې ورکول یې د ټولنیزو شخړو حل لاره وي، د غیرت په نامه یې ژوند له ګواښ سره مخ وي...

له خپل راتلونکې نسل څخه د پرمختګ طمعه مه لره، زموږ راتلونکی نسل به ورځ تر بلې د غلامۍ په ځنځیر تړل کېږي، ځکه مور یې د ازادۍ له نعمته بې برخې ده؛ نو زوی به یې ولې غلام نه وي؟

عدنان ابراهیم وایي:«عرب ولې تر پرون نن پرېوتي او ټیټ دي!؟ جواب دا دی، ځکه چې غلام دي او د مینځۍ زوی دي، زموږ میندې ازادې ښځې نه دي او ماشوم تر پلار له موره ډېره زده کړه کوي، ځکه پلار یې ډېرې وخت له کوره بهر وي، څنګه چې یې د مور شخصیت، قوت او ازادي وي، کټ مټ یې زوی ته انتقالېږي.»

د خپل وخت د مصر مفتي غوره عالم، محمد عبده وایي: «هغه خلک چې، خپلې مېرمنې وهي، باید په دې پوه شي چې، دوی ته به یې مېرمنې ازاد بچي نه؛ بلکې غلامان زېږوي، دا زموږ د انحطاط، ټیټوالي او پر غلامۍ د رضایت تر ټولو لوی لامل دی، مور د وینځو زامن یو، د ازادو ښځو زامن نه یو، نه د ازدۍ په روحیه روزل شوي یو او نه مو د ازادۍ مور شیدې رولې دي .» (۱۴)

حل لاره څه ده او څنګه د دې ناوړه دودونو او په تېره په بدو کې د ښځو د ورکړې مخنیوی کولای شو؟

۱ـ پوهه باید عامه شي، په ځانګړي ډول ښځو ته د زده کړې چاپېریال برابر شي، چې لېږ تر لږه ښځې په ټولنه کې خپل حقوق وپېژني او د غوښتنې لپاره یې غږ اوچت کړي، اوس خو تر ډېره بریده ښځه خپل حقوق پېژني نه؛ نو د هغوی لپاره به غږ څنګه اوچت کړي؟

۲ـ د عامه شعور د کچې د لوړوالي لپاره، باید ټول دولتي او نادولتي بنسټونه سره همغږي شي، یو د بل په مرسته د ټولنې د شعور کچه لوړه کړي.

۳ـ دا چې د ښځو شرعي حقوق تر پښو لاندې کېږي، علماء کرام په دې اړه باید خپل رسالت تر سره کړي او ټولنه له دیني پلوه په نبوي لارښوونه سمباله کړي او دیني پوهه تر هر وره ورسوي.

۴ـ مخور، سپینږیري، قومي مشران او ملکان دې له داسې پرېکړو ډډه وکړي، چې له اسلامي شریعت سره په ټکر کې وي او د یوه انسان حقوق پکې تر پښو لاندې کېږي.

۵ـ رسنۍ دې د بې معنا خپرونو او بې معنا سندرو پر ځای، د ټولنې پر ناخوالو ټینګار وکړي او د ټولنې په ویښتابه کې دې خپل رغنده نقش جوت کړي.

۶ـ حکومت په تېره بیا د بشر د حقوقو خپلواک کمیسون دې په دې اړه جدي ګامونه پورته کړي

۷ـ هیڅ دیني عالم دې د خپل دیني مسئوولیت له مخې داسې نکاح نه تړي، چې د نکاح اصول پکې په پام کې نه وي نیول شوي او د یوه انسان په شرعي حقوقو پکې تېری شوی وي.

---

)۱ (معجم الوسيط، ۵۹۵/۲ و العرف عند الأصوليين وأثره في الأحكام الشرعية، ص ۱-۲.

)۲ (رد المحتار على الدر المختار، ۳٦٤/۴ او المبسوط ، ۴۱/۱۹.

)۳ (المجموع شرح المهذب، ۳۱۳/۱۲.

)۴ (حاشية الدسوقي على الشرح الكبير ، ۴۰۴/۳.

)۵ (النكت والفوائد السنية على مشكل المحرر، ۲٦۰/۱.

)٦ (صحيح مسلم، ۱۰۳٦/۲.

)۷ (سنن أبي داود، ۲۳۲/۲.

)۸ (ابن سعد في طبقات

)۹ (صحيح مسلم، ۲۱٦۷/۴.

)۱۰ (راغب السرجاني: الرحمة في حياة الرسول ص ٦۴.

)۱۱ (ابو الحسن الندوي: ما ذا خسر العالم بانحطاط المسلمين ص ۷۵، ۷٦.

)۱۲ (جامع الترمذي، رقم الحديث: ۱۱۳.

)۱۳ (ابن حجر: فتح الباري ۳۷۱/۸ او رواه الحاكم فی المستدرک، ٦۰۲/۱.

)۱۴ (عدنان ابراهيم: الأسرة في الاسلام ص ۲۷۷.




د خیبر پښتونخوا قامي جرګه




VOA

# دوکتور محمد عثمان تره کی در گفتگو با دعوت:

## تشکیل لویه جرگه با این صلابت مظهر دو چیز است : یکی بیداری و شعور رو به رشد سیاسی پشتون ها و دیگری وجود جذبات قوی اتحاد قومی و ملی لر و بر

## طالبان نگاه ستراتژیک و ژیوپولتیک به منطقه ندارند



**بزگر: لویه جرگه عدالت خواهی تحفظ پشتون در پاکستان به اشتراک صد ها هزار نفر دایر گردید. قطعه نامه یی در ۲۵ ماده صادر شد. شما تأثیر این جرگه را در آینده افغانستان و پاکستان چگونه ارزیابی میکنید؟**

استاد تره کی: تدویر لویه جرگه به این عظمت در تاریخ سیاسی افغانستان و پاکستان سابقه ندارد. تنظیم کنندگان جرگه باید آنرا زیر نام لویه جرگه دایر میکردند تا حلقه وصلی با لویه جرگه های تاریخی میبود.

تشکیل لویه جرگه با این صلابت مظهر دو چیز است: یکی بیداری و شعور رو به رشد سیاسی پشتون ها و دیگری وجود جذبات قوی اتحاد قومی و ملی لر و بر.

قطعه نامه به موضوعات نسبتاً فرعی عدالت خواهی تمرکز کرده است. مطالبه احیای حالت حقوقی رفت و آمد در امتداد خط دیورند به شکلی که در توافقنامه ها با انگریزان مندرج شده بود بخش عمده قطعه نامه است. در قطعه نامه از تشکیل پښتونستان مستقل یا الحاق به افغانستان خبری نیست.

چنان معلوم میشود که لویه جرگه در یک موضع واقعبینانه نخواسته است خود را در تقابل با حکومت پاکستان قرار بدهد.

البته با درک اوضاع درین مرحله، طرح همین مقدار مطالبه صورت گرفته میتوانست.

جرگه تحفظ پشتون در واقع داعیه اصلی سرنوشت سیاسی پشتون ها را به عکس العمل مثبت یا منفی طرف حکومت پاکستان مشروط ساخته است.

فوج و استخبارات پاکستان در معرض امتحان دشواری قرار گرفته است : دادن جواب مثبت به داعیه عدالت خواهی جرگه به معنای قبول مسئولیت قتل ۷۵ هزار نفر و لادرک شدن ده ها هزار تن تلقی میشود. سکوت در برابر مطالبه جرگه زمینه های مبارزه مسلحانه را بر ضد حکومت پاکستان بارور میسازد. نهایتاً منطق تحریک طالبان پاکستان (تی تی پی) در رد مبارزه مسالمت آمیز قوت میگیرد.

**بزگر: اگر به قطعه نامه لویه جرگه از موضع انتقاد برخورد کنیم، در ان چه خلائی وجود دارد ؟**

استاد تره کی: در قطعه نامه صادر شده از جانب جرگه دو نارسایی به چشم میخورد :

- قطعه نامه به خروج فوج پاکستان از منطقه و همزمان با آن به خروج (تی تی پی) اشاره میکند. این در حالیکه (تی تی پی) مردم خود منطقه است که جایی برای رفتن ندارد و فوج پاکستان بیگانه و از خارج منطقه است که الزاماً باید بیرون شود. فوج پاکستان در زمان حکومت های سابق افغانستان جرئت حضور در مناطق قبایلی را نداشت. اشغال افغانستان توسط امریکا به فوج جرئت تنظیم عملیات نظامی در قبایل و تمدید سیم خاردار را در امتداد خط دیورند بخشید.

ازین گذشته این حضور جنگی فوج است که جنگ را به (تی تی پی) تحمیل کرده است. اگر این حضور پایان بیابد، جنگ و ناامنی ختم میشود.

- جرگه میباید یک کمسیون تماس با (تی تی پی) تشکیل میکرد و راه مفاهمه را با آن باز میگذاشت.

ترس ازین وجود دارد که فوج و استخبارات که در طول عمر پاکستان همیشه ناسیونالیست ها را در جنگ و تقابل با مذهب گرایان قرار داده است، بار دیگر سناریوی مشابه را مهندسی کند: چند تن از منسوبین (تی تی پی) را به قتل برساند و مسئولیت آنرا به منسوبین جرگه حواله کند، یا برعکس.

منسوبین جرگه باید از همه امکانات دست داشته استفاده کنند، تا شکار توطئه شیطنت آمیز استخبارات محیل پاکستان نشوند.

**بزگر: در باب تدارک لشکر ۲۵۰ هزار نفری که در آینده موظف به عملی ساختن مطالبات جرگه است چه نظر دارید؟**

استاد تره کی: تنظیم لشکر ۲۵۰ هزار نفری برای تطبیق فیصله جرگه در نظر گرفته شده است. این اقدام هوشیارانه فوج پاکستان را در دو نکته به مقابله میطلبد :

- یکی نمایش قدرت مسالمت آمیز قومی به قصد تامین امنیت که فوج از طریق خشونت دران ناکام شده است.

- دیگری ظهور یک قوت موازی با فوج .

اگر حکومت پاکستان در زمینه تطبیق فیصله های جرگه مشکل ایجاد کند، لشکر قومی دست به مظاهرات و پرلت ها میزند. در وزیرستان شمالی همین دیروز خبر آغاز مظاهرات پخش شد.

با ملاحظه مداخلات گذشته قوت های خارجی در منطقه و مخصوصاً افغانستان، میتوان حکم کرد که حلقات دیپلوماتیک شرق و غرب به کتله عظیم پشتون های لر و بر به مثابه یک تولید ژیوپولتیک نگاه میکنند. در همین تازگی ها مانور های مشترک پاکستان و امریکا و اندکی بعد مانور مشترک روسیه با پاکستان موید این ادعا است.

جرگه با فیصله تنظیم لشکر بزرگ قومی در واقع به ژیوپولتیست های شرق و غرب پیغام میفرستد که اگر قرار باشد با پاکستان تصفیه حساب شود، لشکر قومی باید برای دفاع از خود افزار جنگی در اختیار داشته باشد.

**بزگر: اداره طالبان ظرفیت بهره برداری از اوضاع متشنج پاکستان را به نفع افغانستان دارد؟**

استاد تره کی: طالبان بیشتر وقت خود را به کنترول آواز عورت زنان، چادری وبرقه، حضور محرم شرعی و اندازه گیری ریش مردان صرف میکنند. طالبان به افق های دور یعنی به حساب و کتاب روز آخرت مصروف اند و وقت خود را به مسائل پیچیده دنیوی « ضایع؟» نمیکنند. آنها نگاه ستراتژیک و ژیوپولتیک به منطقه ندارند.

با در نظر گرفتن وضع آشفته پاکستان و قیام انقلابی پشتون های آنسوی خط دیورند، چانس تاریخی برای حذف خط دیورند به دسترس افغان ها قرار گرفته است شرط استفاده ازین چانس اینست که :

ـ در افغانستان یک حکومت دارای مشروعیت که شناخت بین المللی دریافت کند بوجود بیاید.

ـ حکومت بر مبنای یک دیپلوماسی فعال، حذف خط دیورند را شامل اجندای ژیوپولتیک کشور های منطقه و بیرون آن بسازد.

ـ حکومت تمام ظرفیت های قومی، سیاسی، دیپلوماتیک و نظامی را بکار بیاندازد تا حمایت تمام گروه های سیاسی مقیم پاکستان را که از داعیه برحق حذف خط دیورند پشتیبانی میکنند، جلب کند.

قیام یک انقلاب اسلامی به رهبری شیخ هبت الله در پشتونخوأ آنطوزیکه طالبان تصور میکنند، به این دلیل ساده امکان پذیر نیست، که درانجا مانند افغانستان درب مکاتب و پوهنتون به روی دختران بسته خواهد شد و زنان از حق کارمحروم خواهند گردید. آنگاه لوی افغانستان زیر پرچم طالبان مستقیماً در تقابل با فوج پاکستان که مورد حمایت شرق و غرب خواهد بود، قرار خواهد گرفت. نه تنها پشتونستان بدست نخواهد آمد، بلکه گلیم طالبان از افغانستان نیز برچیده خواهد شد. « پایان »

۲۰۲۴/ ۱۰/۲۱

# د ډیورند پر کرښه د استوګنو وګړو کړاوونه کله او ولې پیل شول؟






پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن

د نولسمې پیړۍ په پای او د شلمې پیړۍ په پیل کې د ډیورند د تپل شوی کرښې په اوږدو کې پرته قبایلي سیمه د برتانوي هند او روسیې د امپراتوریو د لویې لوبې سیمه وه.

انګریزانو د روسانو له ویرې چې منځنۍ آسیا او بیا افغانستان ته رانږدې نه شي او په برتانوي هند کې یې له ګواښ سره مخ نه کړي، دوه ځله ( په ۱۸۳۹- ۱۸۴۲ او ۱۸۷۸- ۱۸۷۹ کې) پر افغانستان بریدونه وکړل، خو له ماتې سره مخ شول. د اوسنۍ فرضي کرښې دواړو خواوو ته میشت پښتانه قومونه ورته په یوه نه ماتېدونکي خنډ او سرخوږي بدل شول. انګریزان پوه شول چې دلته ورته جګړه سخته او له تاوانونو او زیانونو سره مل ده. نو کله چې په ۱۸۹۳ کې انګریزان د امیر عبد الرحمن خان د پاچاهي پر مهال، د افغانستان پر بهرني سیاست یو څه برلاسي شول، امیر عبد الرحمن خان یې د ډیورند د مصنوعي کرښې منلو ته اړ کړ. په دې وسیله دلته پروت ولس په دوو برخو وویشل شو. د ډیورند له کرښې اخوا د افغانستان خاوره د برتانوي هند لاس ته ورغله. له دې دمخه د ګندمک د تپل شوي او ننګینې موافقې پر اساس هم د افغانستان له خاورې په جنوب لویدیځ کې ځنې خورا ستراتیژیکې او مهمې سیمې بیلې شوی وی. د افغانستان له خاورې د دې سیمو جلا کولو، د نورو ګڼو زیانونو ترڅنګ افغانستان د سمندر له غاړې هم لیرې او په وچه کې بند کړ. په

وچه کې هم دې بندوالي او له سمندري اسانتیاوو لیرې والې افغانستان په اقتصادي او سوداګریزو چارو کې له سختو زیانونو او محدودیتونو سره مخ کړ.

د ډیورند له کرښې اخوا پښتنو او بلوڅو افغانانو، هیڅکله هم په خپله خوښه د انګریزانو او بیا راوروسته د مصنوعي پاکستان تسلط او واکمني ونه منله او په پرله پسې توګه یې د خپلو حقوقو او ازادیو د ترلاسه کولو لپاره سرې او تودې مبارزې ته دوام ورکړ. افغان دولتونو هم هیڅکله د ډیورند کرښه په رسمیت ونه پیژندله او دا کرښه یې دلته د پراته ولس پر ملا د ښکیلاک تور ځنځیر او نا مشروع کرښه بللې ده. په رسمیت پیژندل یا نه پیژندل یې د امیرانو کار نه، بلکې د کرښې دواړو خواوو ته د پراته ملت د حق او ارادې سره تړلې دی.

د فرضي کرښې اخوا افغان ولس د مخالفتونو او نارضایتیو له امله د اشغال شوی خاورې یوه برخه بیا هم د انګریزانو تر بشپړ کنترول لاندې نه وه. کورنۍ خپلواکي یې لرله او د سیمه ییزو خانانو او مشرانو په وسیله اداره کیدله. د ډیورند د کرښې په اوږدو کې د همدې سیمو قومونو او قبایلو تل د بهرنۍ لاسوهنې مخنیوی کاوه او نه یې غوښتل چې خپله ازادي له لاسه ورکړي. له خپل پلرنې هیواد افغانستان سره یې ښې اړیکې لرلې، کابل ته یې آزاد تګ او راتګ کاوه.کله چې په ۱۹۴۷ کې دهند او افغانستان پر خاوره له برتانوي خیتې پاکستان وزیږول شو، نو پاکستان هم کوښښ وکړ چې دا سیمه په پوره توګه تر کنټرول لاندې راولي خو وسه یې ونه رسیده. دا نیمه خپلواکه قبایلي سیمه، چې

FATA (Araes Tribal Adminstrated Federally) په نوم یادیدله او د پاکستان تر فدرالي اداري لاندې وه، تل یوه آزاده او په کور دننه خپلواکه سیمه پاته شوه. نوموړې قبایلي سیمه د ډیورند د تپل شوې کرښې په اوږدو کې د افغانستان له جنوب ختیځو ولایتونو کنړ، ننګرهار، خوست، پکتیا او پکتیکا سره نښتې ده، شاو خوا (۲۷۰۰۰) کیلومتره مربع پراختیا لري او له دریو تر څلورو ملیونو پورې وګړي په کې استوګن دي.

دا قبایلي ۷ سیمې یا ایجنسۍ، له شماله تر جنوبه د، باجوړ، مومند، خیبر، اروکزي، کرمه، شمالي وزیرستان او جنوبي وزیرستان په نومونو یادیږي.

د پاکستان له جوړیدو دمخه کله چې په ۱۹۱۹ کې افغانانو د غازي آمان الله خان په مشرۍ له انګریزانو د بشپړې خپلواکۍ ترلاسه کولو ته ملا وتړله، نو د ننګرهار، کندهار او پکتیا په جبهو کې له انګریزانو سره دریمه جګړه پیل شوه. د پکتیا د جبهې قوماندان محمد نادرشاه د ډیورند له کرښې اخوا تر ټل او وانې پورې د سیمې د غیرتي قومونو په مرسته مخ ته ولاړ او د انګریزانو شړلو او ځپلو ته یې دوام ورکړ. انګریزان پوه شول چې له سختې ماتې سره مخ کیږي نو د سولې او اوربند لاره یې غوره کړه، خو دریغا چې د استقلال دا جګړه بیا هم د ټول او لوی افغانستان د خپلواکۍ وسیله نه شوه.

له انګریزانو سره د افغانانو خپلواکۍ غوښتونکو جګړو او مبارزو نور مستعمره ملتونه هم راویښ کړل. د افغانستان او هند پر خاوره د انګریزانو له خوا د پاکستان په نوم د یوه نا طبیعي او مصنوعي دولت جوړول ، په نړۍ کې د انګریزانو د اوږد مهالو شیطاني ستراتیژیو او پلانونو یوه برخه وه.

په ۱۹۷۹ کې پر افغانستان د پخواني شوروي د یرغل په ترڅ کې د فاټا FATA قبایلي سیمه نوره هم له ژور سیاسي او بشري بدلون سره مخ شوه. په ملیونونو افغانان د جګړې له ویرې د ډیورند له کرښې واوښتل او هلته د کډوالو په پنډغالو کې استوګن شول. د شوروي لښکرو پر ضد د افغانانو خپلواکۍ غوښتونکې جګړې ته لویدیځ د سعودي عربستان په ملاتړ او د پاکستان په شیطاني دسیسو بل رنګ ورکړ. د ملي مبارزې او جهاد اوږود مهالې هیوادنۍ موخې له پامه وغورځول شوی، ډیر ملي مبارز او وطنپال شخصیتونه دننه په پاکستان کې ترور او ووژل شول. جهاد د اسلامي ایدیالوژۍ تر شعارونو لاندې په بشپړه توګه د کفر او اسلام بڼه غوره کړه. د افغانستان د پلونو، سرکونو، ښوونځیو او نورو عامه ودانیو او شتمنیو لوټول او ویجاړول روا وګڼل شول. لویدیځ تر پایه د شوروي د ماتولو او په افغانستان کې د اوږد مهاله ښکیلولو هڅه کوله او د هر ډول سوله ییزې لارې مخه ډپ کیدله. افغان ولس د خپلې خاورې د خپلواکۍ او د خپلو ملي او سلامي ارزښتونو د ساتنې لپاره سختې قربانۍ ورکړې، خو دریغا چې د دې سپیڅلي جهاد له ګټو پاکستان ایران او نورو مغرضو هیوادونو ناوړه ګټه ترلاسه کړه. افغانستان یې د خپلو شیطاني لاسوهنو ښکار کړ او کمزوری یې کړ. د شورویانو پر ضد د جهاد د سنګر د تودولو لپاره د لویدیځ په پیسو او وسلو او د اسلامي نړۍ د مذهبي تندلارو تګلارو او ایدیالوژیو پر بنسټ، په همدې قبایلي سیمو کې په زرګونو مدرسې او د جنګیالیو د روزنې

مرکزونه رامنځ ته شول. پاکستاني استخباراتو د سعودي عربستان او لویدیځي نړۍ د استخباراتو سره په همغږۍ له ټولې نړۍ شوروي ضد جنګیالي او مذهبي تندلاري راوبلل او په همدې سیمه کې یې میشت کړل.

دا سیمه چې له پخوا تر ټولو بیوزله ساتل شوې سیمه وه، نوره هم د باروتو او وسلو د وړلو او راوړلو او نورو پوځي موخو ښکار او له هر ډول رغنیزو چارو شاته پاته شوه.

دسیمې اصلي کلتوري ارزښتونه او دودونه د کډوالو او ځنو بهرنیو جنګیالیو د افکارو تر اغیزې لاندې راغلل، مشران او ملکان یې په لوی لاس د مرګ او ځورونې سره مخ شول. ویل کیږي چې هلته په هماغه قبایلي سیمه کې له ۶۰۰ زیات سیمه ییز مشران وژل شوي دي. د دودیزو سیمه ییزو مشرانو او با نفوذه ولسي شخصیتونو دا ترور او وژنه د پولې دواړو خواوو ته رامنځ ته شوی ده. د شوروي له ماتې وروسته کله چې امریکا او ټلواله یې خپلو موخو ته ورسیده، نو نور یې خپلو دوستانو جهادي جنګیالیو ته شا کړه او افغانستان یې هم وران ویجاړ پریښود. افغانستان د ځنو ګاونډیانو او دسیمې د هیوادونو بشپړې لاسوهنې ته ناتوانه او ستومانه پاته شو. کابل او ځنې نور ښارونه هم کوځه په کوځه، په پاکستان او ایران کې د جوړوشویو تنظیمونو له خپلمنځي جګړو سره مخ شول. د افغانستان په زرګونو ځمکني او هوایي وسایل وران ویجاړ او دکباړ په ډول پاکستان ته یوړل شول. افغان ملي هویت، شتمني او تاریخي ویاړنې زیانمنې شوې.

د دی ترځنګ د کرښې اخوا د فاتا په قبایلي سیمه کې ستر ناورین هم هغه وخت رامنځ ته شو چې، کله د سپتمبر د یوولسمې له پیښې وروسته د امریکې متحده ایالاتو او ملګرو یې پر افغانستان برید وکړ. پاکستاني پوځ د بن لادن او د هغه د لټون په بهانه د امریکایانو په ملګرتیا، دی سیمو ته ګڼ شمیر پوځونه واستول. زیاتره سیمې په ځانګړې توګه وزیرستان یې په کنډواله بدل کړ. د دی تر څنګ یې د امریکې په مالي ملاتړ د کرښې په اوږدو کې اغزن سیم وغزاوه. په ډیرو برخو کې یې په دی پلمه چې سیمه نا امنه ده پوځي هډې جوړې کړې او له تېل شوی ډیورن فرضي کرښې هم د افغانستان خاورې ته مخ ته راغلل. پاکستان په دی هم بسنه ونکړه ، د شل کلن جمهوریت په مهال یې د امریکې او ناتو د ځواکونو په شتون کې، په وار وار د کرښې دیخوا سیمو کنړ، ننګرهار او خوست باندی توغندي وورول، بیګناه ولسي وګړي یې ووژل او ورته یې سخت زیانونه واړول. له خپلو سیمو یې استوګن ځایې خلک کډې کولو او کوچولو ته اړ کړل. دادی په دی وروستیو کې یې له فرضی کرښې دیخوا، څو ځله هوایې بریدونه هم وکړل او ډیر بی ګناه ملکي وګړي یې شهیدان او ټپیان کړل. د پاکستان دا ظالمانه او وحشیانه کړنې او له ۵۰ کلونو رادیخوا د افغان وژنې او افغانستان ورانونې دسیسې د تاریخ پاڼو ثبت کړی دي. افغانان به د پاکستاني واکمنو دا عمل چې، له خوږې ګوتې د نیولو او پر شا په خنجر وهلو لاره یې غوره کړی ده، هیڅکله هم هیر نه کړي. یو وخت نه یو وخت به یې پوځي جنرالان د دی جنایتونو ځواب ویلو ته اړ کیږي.

پاکستان د فاتا د سیمې د کورنۍ خپلواکۍ او حقوقو د سلبولو او په افغانستان کې یې د خپلو ناروا ګټو د ترلاسه کولو لپاره د شوروي او امریکې له جګړو ډیره ناوړه ګټه ترلاسه کړه.

اوس Fata فاتا نه یوازې دا چې خپل پخوانی سیاسي نیمه خپلواک حالت نه لري، د پخوا په څېر له هر ډول پراختیایې اقتصادي – ټولنیزو خدماتو محرومه ده او په لوی لاس د بیلابیلو ناامنیو او جګړو سره مخ کیږي. د دی سیمې ډیر زیات شمیر بی ګناه ځوانان د پاکستاني پوځ په زندانونو کې دي، وژل شوی دي، ورک شوي دي او دهغو سیمو په زرګونو بی وزلي کورنۍ د خپلو بچیانو د لټون پسې لالهاندې او غمجنې دي. د پښتنو او بلوڅو له سیمو سره د مور او مېرې دا سلوک، حق نه ورکول، ربړول او ځورول یې هلته د ډیرو مخالفو ډلو او سازمانونو د رامنځ ته کیدلو سبب شوی دي.

د پاکستان د پوځ او په دی سیمه کې د پاکستاني پوځ ځای په ځای کیدلو افغانستان ته هم یو دایمي ګواښ او ستونزی رامنځ ته کړی دي. په حقیقت کې د فاتاا سیمه د افغانستان او انګریزي استعمار له خوا د پښتنو او بلوڅو د اشغال شوی خاورې ترمنځ یوه حایله یا ناپیلې سیمه وه او د تیرو ټولو موافقو پربنسټ باید دلته پاکستاني پوځي تاسیسات شتون ونه لري. د دې سیمې امنیت باید د پخوا په څېر پخپله ځایې استوګن ټینګ کړي. پاکستان نه یوازی د دی سیمې ناپیلتوب او امنیت له منځه یوړ له همدې سیمې د افغانستان د بی ثباتۍ او نا امنۍ لپاره هم کار اخلي. اوس یې د قبایلي وګړو ازاد تګ راتګ او سوداګریزه راکړه ورکړه هم له ستونزو سره مخ کړی ده. د کرښې دواړه غاړې پراته

ولسونه يې د تيرو تړولو موافقو خلاف د پاسپورت او ويزې اخيستلو ته اړ کړی دي.

که د پاکستان فدرالي اداره د پښتنو او بلوڅو حقوق ورنکړي، هلته پراختيايي پروژې پيل نه شي، په خپلو ژبو يې کوچنيانو ته د زده کړو زمينه برابره نه شي، په پاکستان کې متوازن خدمتونه او پراختيايي کارونه ترسره نه شي، پنجاب له خپلې برلاسۍ، بې عدالتۍ او ظلم لاس وانخلي، د پخوا په څېر د کرښې دواړه غاړې ولسونو ته د سوداګرۍ او ازاد تګ راتګ زمينه برابره نه شي، د قومونو او قبايلو د خپلمنځي دوديزو اړيکو مخنيوی وشي، نو په دی سيمه کې به ستونزې او نا امنۍ نورې هم زياتې شي. په پای کې به د پاکستان له فدارالي حکومته چې د پنجاب پوځيان يې واکمنان دي ، د پښتنو او بلوڅو نارضايتي نوره هم زياته شي او د دی ناسمو، ناروا او ظالمانه کړنو ټغر به د پښتنو او بلوڅو له سيمو ټول شي.

د دې لپاره چې د ډيورند کرښې ته څېرمه سيمې په امن شي نور يې ځوانان په بېلابېلو پلمو د پوځ او پاکستاني استخباراتو په منګولو کې ونه مرورل شي، نو په کار ده چې دسيمې وګړي هلته يووالي ته کار وکړي. د تش په نامه ايډيالوژيکو، مذهبي او فرقه يې خپل منځي دښمنيو پرځای يووالي او اتحاد ته کار وشي.

ټي ټي پي، پي ټي ايم او نور تحريکونه بايد د افغانستان له ايډيالوژيکو دښمنيو زده کړه وکړي. په سيمه کې د امنيت، سولې، د خپلې ولسي شيرازۍ او حقوقو د ترلاسه کولو پرلويو وطني موخو سره يو ځای شي. د خپلو مدني پرله پسې مبارزو په ترڅ کې پوځي هڅې له خپلو سيمو وباسي. امنيت د پخوا په څېر پخپله ټينګ کړي. په مورنۍ ژبو عصري زده کړو ته مخه کړي، پوهه ترلاسه کړي او د خپل منځي دښمنيو او نفاق مخه ونيسي. په دی کار سره به د پښتونخوا او بلوچستان آيالتونه د پنجاب له ظلم او ناروا وژغورل شي او د ډيورند د کرښې دواړه غاړې به د ثبات، سولې او پرمختيا سره مخ شي.



# جرګه؛ منزل ته د رسیدو یوازنۍ لاره




عبدالوحيد وحيد

په خيبر کې د ښتنو قومي عدالت په نوم د غونډې نوعيت، له ګڼو خنډونو، بريدونو، ګواښونو او ننګونو سره سره په لوړه کچه د خلکو ګډون، د ناستې نوښت او مديريت يقيناً د ولسونو هيلې او ولولې را وپنځولې. د دغې جرګې د دائرولو په په لاره کې له ستونځو سره د مبارزې په هکله د منظور له بېساري قيادت لاندې پښتنو د پياوړي ايمان، متين عزم او راسخې عقيدې د ټولې سيمې عنعنوي او د سياستوالو د ګټو په محور د راڅرخېدونکي سياست بڼه بدله کړه، نوی فکر يې مطرح کړ؛ د مبارزې لپاره يې نوې لارې وکارولې، په پښتنو کې يې نوې ساه واچوله او د سيمې سياست ته يې تازه رنګ ورکړ.

دا جدا او د بحث وړ خبره ده چې د پښتون قومي عدالت د جرګې پريکړه ليک عملاً د تطبيق وړ دی که نه دی، په پريکړو کې فکري ژوروالی، کره والي او هراړخيز توب شته که نشته، خو يقيناً د جرګې پريکړه د ولسونو غوښتنه ده. بله دا چې جرګه د پښتنو وياړلې دود، د ستونځو د حل يوازنۍ لاره او دغه غورځنګ لاهم منزل ته د رسيدو په لاره کې د کړليچونو او کنډوونه د شاته پرېښودو په سفر کې خپل تکاملي پړاوونه وهي. مزل لا پاتې دی خو د منزل څرک لګيږي. ستونځې به وي خو موخو ته د رسيدو جرئت او پياوړي اراده هم شته.

د پاکستان د حکومت په تاوتريخوالي ولاړه ستراتيژۍ او وړتيا يې ونګوله. د پښتنو د ژغورنې غورځنګ مشرانو د پښتونخوا ويده ولسونه بيرته راويښ او منظم کړل، خپلو حقونو غوښتلو ته يې را پاڅول. ددغه قوم په رګونو کې بهيدونکې وينه يې په جوش راوسته، په ولس کې يې د ناهيلي ځوروونکی حالت په بېساري ډول له منځه يووړ او تر هر څه مهم دا چې په بېساري ډول يې د پښتنو په تړاو د عامه ذهنيت برعکس د پاکستان رياست ته د خپل سياسي ويښتابه پياوړی پيغام ورکړ.

له شک پرته په پاکستان کې داسې ډېر عوامل شتون لري چې محروم ولسونه ټولنيز غبرګون ښودلو ته مجبور وګڼل شي. د بيلګې په توګه له تيرو څو لسيزو راپديخوا په پښتون مېشتو سيمو کې د ولسونو پخوانی دوديز قومي جوړښت له منځه وړل، په دغو سيمو کې افراطيت ته وده ورکول، سيمه ناامنه ساتل، په سيمې کې د جنګي ډلو ځای په ځای کول او له لويديځ څخه د امتيازاتو ترلاسه کولو لپاره د هغوی په وړاندې له مخکې څخه مهندسي شوي جنګي عمليات کول، د سرچينو غيرعادلانه وېش، بيکاري، د ترهګرۍ په وړاندې د مبارزې په نوم د ملکي خلکو وژل، د هغوی املاک او سوداګريز مراکز نړول، د خلکو جبري غائب کيدل، په مرموزه توګه د مشرانو وژل او داسې نور ډېر لاملونه شته چې ولسونه عمومي پاڅون ته مجبور شي او وروستۍ جرګه د همدغه غبرګون پيلامه وه.

عجيبه دا وه چې په پاکستان او سيمه کې د روانو سياسي کړکېچونو، ګوندي تمائلاتو، سيمه ييزو حساسيتونو، د رياست لخوا تاوتريخوالي ته د هڅوونکو او پاروونکو کړنو سره سره له تاوتريخوالي څخه د ځانونو او غورځنګ ساتلو، د دومره زياته خلکو د احساساتو او جزباتو د مديريت په برخه کې د پښتون ژغورنې د غورځنګ د مشرتابه تګلارې يقيناً حيرانوونکې او په سيمه کې د مثبت بدلون بېسارې نښې دي.

د رياستي ادارو لخوا د سياسي تړاوونو پربنسټ د بنديزونو، ځورونو، ننګونو، ګواښونو حتی د جرګې په ځای کې په ناستو خلکو د ډزو او د ځلورو ګډونوالو له وژلو سره سره د هغوی په چلن کړنو او ځرګندونو کې د تاوتريخوالي د عنصر نه شاملول، له انتقامي سياست او پاروونکو څرګندونو څخه د مشرانو لخوا د واټن نيول کيدل د هغوی ژورليد او سياسي پوخوالی ننداري ته وړاندې کوي.

د پښتون ژغورنې د غورځنګ لخوا د خیبر په شاړه دښته کې د
د ټولنې د هر قشر او فکر په کچه د دوو ورځو لپاره د لسګونو
زره خلکو راټولیدل د سیمې په سیاسي بهیر داسې سپرکی
پرانست چې تاریخ یې په خپله سینه کې ثبت نه لري. غورځنګ
نه یوازې دا چې په ریښتونې ډول یې د پښتنو سره د تر سره
شویو ظلمونو واقعي انځور د پاکستان نورو خلکو او نړیوالو ته
وړاندې کړ، بلکې په خپله د خپل مشرتابه د غوراوي، د پښتنو
په وینه باندې د تجارت، په تاوتریخوالي باندې له ولاړو
سیاستونو څخه د نفرت او په دغه قوم باندې د ریاستي تېریو
په وړاندې د زغم د ختمیدو پیغام هم ورکړ.

د پښتنو د قومي عدالت ترعنوان لاندې جرګې ته د وینا په
مهال د غورځنګ مشر منظور پښتین په تېرو څو لسیزو جګړو
او فوځي عملیاتو کې پښتنو ته د اوښتو زیانونو په هکله مستند
معلومات وړاندې کړل او له ترهګرۍ سره د مبارزې په په نوم د
امریکا په مشرۍ د ایتلاف جګړه یې د ځواکمنو هېوادونو ترمنځ
رقابتونه، د پښتنو خاوره د جګړې ډګر او پښتانه یې په دغه
جګړه کې د سون توکي وګڼل.

په اقتصادي امنیتي او سیاسي ستونځو کې د ایسار پاکستان
او له څو لسیزو راهیسې د پردیو یرغلونو او د واک په سر د
کورنیو جګړو له امله د ستونځو په ګرداب کې نښتي هېواد
افغانستان ژغورل د دواړو هېوادونو د ولسونو لپاره حیاتي
ازموینه ده. د افغانستان او پاکستان واکمنان د وخت غوښتنو
او د خپلو ولسونو دردونو او آهونو ته په متوجه کیدو باید پوه
شي چې د هغوی ستونځې دومره ساده نه دي څومره چې
هغوی فکر کوي. په خلکو باندې د جبر او استبداد له لارې د
خپل حاکمیت منل په هیڅ ډول د حل لاره نه ده

په خیبر کې د پښتنو قومي عدالت غونډې وښودله چې د
سمون او بدلون لپاره له جګړو پرته بدیلې او متمدنې لارې هم
شته. بناً اوسنی افغان واکمنان باید د ولسي مشارکت له مخې،
په واقعي توګه د ملي یووالي ممثل قانوني نظام رامنځته کولو
لپاره همدا اوس لاس په کار شي، موجوده ناورین زېږونکي بن
بست ته د پای ټکی کېږدي او په ولس باندي تپل شوی
وضعیت ته د پای ټکی کېږدي.

البته د افسوس خبره داده چې پردیو یرغلونو او د خپلو ظلمونو
د مشرانو دروغجنو وعدو، فساد چور غصب انډیوالي او خپلولي
پاللو زموږ باورنه ووژل، زموږ کلتوري اړخونه یې وځپل، زموږ
لومړیتوبونه یې بدل کړل، زموږ ملي غرور یې راته مات کړ، زموږ
خپلې ارادې یې ونړولې. اوس د نجات لپاره خپل همت نه
کاروو، په خپله د نوښت وړتیا مو سلب شوې ده، په خپل غولي
د کیناستو دود مو له منځه تللی دی.

اوس څوک را باندې د توپک په زور د استبداد له لارې خپل
حاکمیت تحمیلوي، څوک هم له د قومیت او ژبنیو تعصباتو د
کارت په کارولو د استبداد په وړاندې جګړه د ستونځو حل
ګڼي. د خپلو ستونځو د حل لپاره پردیو ته په تمه کیږي. په
پردیو باندې په تکیه کولو باندې معتاد شوي یو. څوک د بشر
حقونو او د ښځو د حقونو ترعنوان لاندې په خپل هیواد کې لرو
پښتنو په څیر د راټولیدو او په متمدن ډول د حرکت کولو
پرځای د امریکا او اروپا په دروازه کې د طالبانو د ماتولو لپاره
کچکول په غاړه ناست دي او د مرستو په نوم خپل جیبونه
ډکوي. البته واقعیت دادی په معاصر وخت کې په کور د ننه
جګړه حل نه، بلکې نورې ستونځې زیاتوي، پیچلتیاوې رامنځته
کوی او ډیری وخت جګړه د مستبد او ظالم اړخ په ګټه
تمامیږي. د حقونو د غوښتلو لپاره متمدن حرکتونه او له
تاوتریخوالي پرته مبارزه تر ټولو اسانه او ارزانه لاره ده.






# د اکتوبر ۱۱مه؛ د منظور داعيه پيغمبري ده!

ليکوال: مولوي رحمت الله اندړ

منظور وايي خپل قوم او ولس راويښوي، د غلامۍ هغه ځنځيرونه ماتوي چې د دوی غاړې ته د وخت جبر وراچولي دي، په خپله خاوره او خپلو وسائلو خپل اختيار غواړي، په خپله خدای ورکړي ځمکه د خپل هويت، حيثيت او وقار غوښتنه کوي.

د خپل قام او ولس د هغو بېوزلو او مظلومو انسانانو د حق غوښتنه کوي چې اولادونه يې د وحشت، بربريت او جبر تورو زندانونو وخوړل، د هغو لاشونو پوښتنه کوي چې هره ورځ يې د کلي شا واخوا پراته وي او هيڅوک يې د مرګ پور پر غاړه نه اخلي، لنډه دا چې د دې خبرې پوښتنه کوي چې ولې هره ورځ پر هم زه يم او مړ هم زه يم.

منظور دغه غوښتنې او پوښتنې په ډېره سپېڅلتيا، جرئت، متانت او معقوليت په تش لاس د تور او مستبد رژيم مخې ته ږدي. هغه ګواښل کېږي، بندي کېږي، ګل ګل او چنار چنار ملګري يې په دې لاره کې شهيدانېږي، بلکې هره ورځ، هره ګړۍ او هره شېبه يې د سندان او څټک تر منځ تېرېږي.

ځولنې يې لاسونو او پښو ته پرتې دي، څو ليوانو حلقه کړې، خو ځوان رهبر بيا هم خپله خبره ډېره غوڅه او جوته کوي او وايي که په ايټم بم يې هم کښېنوي تر خپل دريځ او داعيې نه تېرېږي.

دغه ځانګړتيا وي د يوه سپېڅلي داعي او يوې سپېڅلې داعيې دي. منظور د خپلې داعيې پر سپېڅلتيا پوخ باور لري، له همدې امله هر ډول کړاونو ته لکه سپر دربړي او ولاړ دی.

سپېڅلې او پيغمبري داعيه تل د الله تعالى او مظلومو مؤمنانو په مرسته تکيه کوي، پر خپل مظلوميت له هيچا سره معامله نه کوي.

منظور له هيڅ چارواکي او هيڅ مقام سره د بندو دروازو شاته نه کېني، نه د کومې استخباراتي کړۍ په دام کې ځان بندوي، نه د شخصي ګټو او منصب لپاره په قوم او ولس سودا کوي او نه د نيابتي ډلو ټپلو په څېر د اسلام او جهاد په تشو نارو او پردۍ فتوا ولس تېرباسي او نه په پردي ټوپک خپل ولس ته د ازادي او فتح زيري ورکوي، بلکې ولس را ويښوي، خلکو ته شعور ورکوي، په يوه ژوندي او بااحساسه ملت يې بدلوي چې هر فرد يې د خپلو وسائلو، خپل اختيار، حيثيت او وقار غوښتونکی شي.

نور ملتونه استخباراتي ملایان او استخباراتي مدرسي نه لري چې د قوم او ولس د ویښتابه او شعور هره چیغه بې دیني وګڼي، له قوم سره مینه ګناه وبولي، ملتپالنه، د ملت را ویښول، د کرایې او استخباراتي ملا له لومې پې خلاصول کفر وګڼي.

نور ملتونه او قومونه علماء لري، د دین په روح او حقیقت خبر دي، هغوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پر تګلاره روان دي، هغوی د خپل خیل، قوم او ملت ژغورنه او ګټې لومړیتوب ګڼي، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل ولس، خلکو او وطن سره مینه کړې، بلکې د ټول بشریت ژغورنه یې له خپل خیل، قوم او قبیلې پیل کړې، ستر ذات داسې امر ورته وکړی دی:

»وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الْأَقْرَبِينَ« (۱) او خپلو نږدې خپلوانو ته خبر ورکړه.

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وشوه، ایا دا هم تعصب دی چې سړی له خپل قوم سره مینه ولري؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:« لَا، وَلَكِنْ مِنَ الْعَصَبِيَّةِ أَنْ يَنْصُرَ الرَّجُلُ قَوْمَهُ عَلَى الظُّلْمِ»(۲) نه، تعصب دا دی چې یو سړی په ظلم کې له خپل قوم سره مرسته وکړي.

دا عصبیت او قومیت نه دی چې سړی د خپل قوم او ولس لپاره د هغوی د حقوقو غوښتنه وکړي او پر خپل قوم د ظلم، تېرې او وحشت پوښتنه وکړي، بلکې د خپل مظلوم او بېوزله وړور اوښکې پاکول او د ظالم له ظلمه یې خلاصول ستر جهاد دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم له خپل وطن او ټاټوبي سره خومره مینه کړې!

مکه مکرمه چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د خاپوړو ښار دی، څنګه یې مخاطب کړی:!

»ما أَطْيَبَكِ مِن بلدٍ ! وأَحَبَّكِ إليَّ ! ولولا أن قومي أَخْرَجُونِي منكِ ما سَكَنْتُ غيرَكِ)«۳(

"ته څومره پاک ښار یې! او څومره پر ما ګران یې! که خپل قوم مې له تا څخه ونه باسي، له تا پرته په بل ښار کې نه اوسېږم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم مشرکینو مجبور کړ چې خپل وطن پرېږدي او مدینې منورې ته هجرت وکړي، خو بیا هم د خپل وطن مینه ورسره مله پاتې شي، فرمایي:

»اللهم حبب إلينا المدينة كحبنا لمكة أو أشد)«۴(

"اې الله! د مکې په څېر مو له مدینې سره هم مینه پیدا کړه او یا تر هغې زیاته.

له خپل وطن سره مینه طبیعي ده، هر انسان له خپل ټاټوبي سره مینه لري.

وطن ستا تشخص او پېژندګلوي ده، ستا هویت، درنښت او حیثیت دی، که بې وطنه یې، نه ته او نه ستا خبره ارزښت لري.

دلته د وطنپالنې، ملتپالنې، له خپلو خلکو او ولس سره د مینې، ویښتابه او شعور چیغه هغو خلکو ناروا بللې چې ولس یې له ځان سره د دین په نامه تسخیر کړی دی او هغه تش په نامه ملتپال ګوندونه یې مخالفت کوي چې ولس یې د ملتپالنې په تشو نارو اوږده موده تېر ایستلي او ګرو کړی دی.

د اکتوبر یولسمه نېټه رارسېږي، ملنګ رهبر ناسته، ملاسته، خوب، راحت او استراحت په ځان حرام کړي او لګیا دی کور په کور کلي په کلي ګرځي د خپل ولس د زګېرویو، کړاونو او دردونو کیسې، د خپل وطن د وسائلو او مسائلو کره او بشپړ مالومات راټولوي، د پښتنو د هر مشر په حجره کې یې ګونډه ماته کړې او د دې ورځې د اهمیت په اړه خبره ورته کوي.

منظور وایي چې په دې ولس او ملت ستره غمیزه تېره شوې، خو له هیچا سره یې کره او بشپړ مالومات نه شته.

هغه وایي زموږ غمیزه یواځې دا نه ده چې پلرونه، ترونه، وروڼه، زامن او وریرونه مو لاپته دي، بلکې دلته جبر، ظلم او ستم داسې اوج ته رسیدلی چې نه مو سر او نه مو مال او نه مو وقار خوندي دي او زموږ له دې ټولو ستونزو او کړاونو نړۍ وال څه چې، خپل وګړي هم په سم ډول خبر نه دي.

د منظور هره چاره پر شفافیت او سپېڅلتیا ولاړه ده، هغه وایي چې هر ملت د مبارزې او خوځښت لپاره یوه داسې ملي روایت او نریتیف ته اړتیا لري چې خپل او پردي پرې قناعت وکړي او د هیچا په زړه کې شک پاتې نه شي.

له همدې امله د خپل ولس له کړاو، درد او مظلومیت څخه یوه داسې ملي داعیه او ملي روایت جوړوي چې د دې ستر پښتون ملت هر وګړی یې بدرګه کړي او په دې لاره کې هر ډول قرباني ته تیار شي، ځکه مظلومیت د بشریت او په تېره بیا د اسلام په تاریخ کې تر ټولو ستره داعیه ده چې هر انسان ته د ظالم پر وړاندې د کلک درېدلو او مقاومت اجازه ورکوي او الله تعالی تل د مظلوم ملګرتیا کوي.

ستر ذات خپل استازي او د هغه ملګرو ته هغه وخت د وسله والي مبارزې اجازه ورکړه چې کله د دوی پر وړاندې د قریشو ظلم، تېرې او تجاوز له زغمه ووت او ورته ویې فرمایل:

»أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَاتَلُونَ بِأَنَّهُمْ ظُلِمُوا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ نَصْرِهِمْ لَقَدِيرٌ«(۵)

هغو مؤمنانو ته چې جګړه پرې تپل شوې، د جګړې اجازه وشوه، ځکه چې پر دوی ظلم شوی دی او یقیناً الله تعالی له دوی سره پر مرسته کولو قادر دی.

منظور د ۱ اکتوبر په یولسمه د مظلومیت دغه روایت ستاسې ټولو پښتنو مخې ته ږدي او له تاسې غواړي چې اوس د خپل مظلومیت پوښتنه کوئ کنه؟ په خپله خاوره، وسائلو او شتمنیو خپل اختیار غواړئ او که د یوه جابر ریاست په تمه کېنئ؟

لنډه دا چې لږ تر لږه د خپل ستر وجود له ټپونو ځان خبروئ کنه؟ د خپل ځان لپاره د ازادي، عزت، حیثیت او درنښت ژوند غواړئ او که لا هم د غلامۍ تور ځنځیر پر غاړه وړئ؟

پښتون ملته!

ستا د ژغورنې لپاره نه ځانګړی پیغمبر راځي او نه ستا د ژغورنې او هوساینې ذمه واري چا اخیستې ده.

تر څو به ته رټل کېږې، شړل کېږې، شکنجه کېږې، بندي کېږې، لاپته کېږې او وژل کېږې!

ترڅو به ستا په سر سودا روانه وي!

ترڅو به ته د نیابتي جګړې په مارکیټ کې د تورو خاورو په بیه پلورل کېږې!

تر څو به ته په پردۍ جګړه کې د جهاد او ازادۍ په نامه قرباني یې!

تر څو به ته د دین او اسلام په نامه استخباراتي ملا تسخیر کړی یې!

تر څو به پر تا د ترهګر ټاپې لګېږي!

تر څو به ستا په خلاف جګړه روانه وي، ستا پر اسلام به شک کېږي او تر څو به ته بې وطنه، بې کفنه، بې هویته او بې ارزښته یې!!!

د اکتوبر یوولسمه ستا لپاره برخلیک ټاکونکې ورځ ده، داسې ورځ ده چې ته خپل برخلیک په خپله ټاکې، هیڅوک، هیڅ شی پر تا نه تحمیلوي، ته د خپل ځان په اړه په خپله پرېکړه کوې، د خپل ستر وجود پوښتنه کوې او د خپل حق غوښتنه کوې.

پاڅه!

په هره توره شپه کې روڼ سبا نغښتی، په هره سختۍ پسې اسانتیا راځي او هر غم، مصیبت او درد پای لري.

پاڅه!

د خپل درد او کړاو کیسه وکړه، ستا د درد هره کیسه روایت دی. ستا د مظلومیت له هره داستانه نرتیف جوړېږي.

پاڅه! خپل تاریخ په خپله ولیکه.

پاڅه! ستا له پاڅېدلو پاڅون جوړېږي.

---

۱ـ د الشعراء سورت، (۲۱۴) آیة.

۲ـ احمد او ابن ماجه روایت کړی دی.

۳ـ ترمذي روایت کړی دی، د حدیث شمېره( :۳۶۲۹.)

۴ـ بخاري روایت کړي، د حدیث شمېره :(۵۶۷۷)

۵ـ د الحج سورت، (۳۹) آیة.



# نگاهی مختصر بر جرگهٔ عدالت قومی پشتون



**عبدالقیوم میرزاده**

منظور پشتین رهبربا اعتبار، جوان و با انرژی جنبش تحفظ پشتون در مراسم تشیع جنازهٔ گیله من وزیر در ماه جولای سال روان عیسوی در برابر هزاران تن از اشتراک کنندگان بیان داشت که ما بمنظور دریافت راه رهایی از این همه بی عدالتی و ظلم بر پشتون ها جرگهٔ عدالت قومی را برگزار میکنیم و ما دراین جرگه همه ستم ها،مظالم، بیداد گری ها و نارواییی هایی را که تا کنون بر ملت ما روا داشته اند همراه با توانایی های ما در این جرگهٔ عدالت قومی برای مردم خویش توضیح خواهیم داد و از مردم خویش آرزو داریم تا در این جرگه یک تصمیم مشترک و سرنوشت ساز بگیرند.

جنبش تحفظ پشتون در اعلامیه های بعدی تاریخ تدویر این جرگه را بروز های ۱۱ تا ۱۳ اکتوبر سال روان عیسوی تصریح کردند و اعلام داشتند که این جرگهٔ عدالت قومی به اشتراک هزاران تن از پشتون های آنطرف مرز دیورند در منطقه خیبر ایالت پښتونخواه برگزار خواهد شد. آنها تصریح کردند که جنبش تحفظ پشتون منحیث میزبان متنفذین، پیشوایان قومی و مذهبی، فعالین اجتماعی و سیاسی و خانواده های قربانیان ظلم، وحشت و بربریت را به این جرگه دعوت میکنند ولی تصمیم سرنوشت ساز را اشتراک کنندگان جرگه خواهند گرفت.

از همان روز ببعد حکومت پاکستان ونظامیان پاکستانی با تمام توان و امکانات خویش از سازماندهی و تدویر این جرگه جلوگیری خونین بعمل آوردند. و درراستای اقدامات خشونت بار جنبش تحفظ پشتون را غیر قانونی اعلام کرده و تمام فعالیت های آنرا ممنوع قرار دادند. پولیس و اردوی پاکستان در سراسرآنکشور بر فعل و انفعالات فعالین پشتون محدودیت وضع کرده و در اثر حملات مسلحانه بر اجتماعات برگزاری این جرگه چهار نفر از فعالین جنبش تحفظ پشتون کشته وبه اقوال مختلف چندین تن زخمی گردیدند. همچنان بدفعات مختلف محلات آمادگی تدویر این جرگهٔ عدالت قومی مورد حمله قرار گرفته و خیمه ها و وسایل به آتش کشیده شدند. اما سخنگویان جنبش تحفظ پشتون پیوسته تأکید داشته اند که این جرگه در هر شرایط بتاریخ معینه و در محل تعین شده برگزار خواهد شد. بعد از حملات وحشیانهٔ نظامیان پاکستانی بر گردانندگان جرگهٔ عدالت قومی منظور پشتین طی یک نامهٔ سرگشاده اعلام داشت که اگر حکومت پاکستان با توسل به زور و خشونت جلو جرگهٔ عدالت قومی را بگیرد ، جنبش تحفظ پشتون نیز بر شیوهٔ مبارزه مسالمت آمیز خویش تجدید نظر خواهد کرد و مسئولیت آن بر دوش حاکمان پاکستان خواهد بود.

به بیان سخنگویان جنبش تحفظ پشتون و نشرات پاکستانی با وصف این همه تهدیدات نظامیان پاکستانی و غیر قانونی اعلام کردن جنبش تحفظ پشتون و ممنوعیت بر فعالیت این جنبش دیروز و امروز یعنی یک روز قبل از تدویر جرگهٔ عدالت قومی بیشتراز پنجاه هزارنمایندگان محلات ایالت های پشتونخواه و بلوچستان به محل برگزاری جرگه مواصلت کرده اند و هزاران تن دیگر با کاروانهای متعدد در مسیر راه هستند. در حالیکه حد اعظمی معیار دعوت شوندگان به این جرگه را آنها سی هزار تن تخمین زده بودند.

در تحت فشار این ایستادگی به اهداف حق طلبی جنبش تحفظ پشتون، بلأخره دولت پاکستان و حکومت ایالتی با سرافگندگی عقب نشینی کرده و بتاریخ پنجشنبه دهم اکتوبر برای جنبش تحفظ پشتون اجازۀ تدویر این جرگه را صادر کرد.

ناگفته نباید گذاشت که در این اواخر وضعیت پاکستان هم از لحاظ اقتصادی و هم از لحاظ اجتماعی - سیاسی رو بوخامت بوده و بسیار شکننده میباشد. ثبات سیاسی از بین رفته و درگیری های سیاسی روز تا روز وسعت پیدا میکند.طی ماه های اخیر حزب تحریک انصاف در پایتخت و شهر های بزرگ پاکستان با آنکه غیر قانونی اعلام شده بود تظاهرات و اجتماعات بزرگی را راه اندازی کرده و خواهان آزادی عمران خان صدراعظم سابق آنکشور از زندان هستند. در این گیر و دارسیاسی نرخ مواد اولیه و ضروری برای نفوس ۲۴۰ میلیونی پاکستان که بر اساس تخمین های سازمان ملل متحد و بانک جهانی ۴۵ فیصد شان در بدترین حالت فقر زندگی دارندبصورت سرسام آور بالا میرود وخشم عمومی را برانگیخته است.

طوریکه هم از لابلای تظاهرات، اعتراضات و اجتماعات سراسری حزب تحریک انصاف و عقب نشینی نظامیان در تدویر جرگۀ عدالت قومی بر می آید وضعیت سیاسی – نظامی پاکستان از کنترول نظامیان خارج میگردد. وضعیت پاکستان آبستن تغییرات است و همچنان فردا برای پشتون های پاکستان روز سرنوشت ساز خواهد بود.

هالند، اکتوبر ۲۰۲۴




**د دعوت رسنيز مرکز ملاتړي شئ!**

زموږ د ملاتړ همدا اوس وخت دی. هره مرسته، که څه هم کوچنۍ وي یا لویه؛ زموږ مطبوعاتي چارې پیاوړې او راتلونکې مو ژغوري. له دعوت رسنيز مرکز سره لږ تر لږه ۱۰ امریکایي ډالر یا یورو مرسته وکړئ - دا یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. که تاسو کولی شئ، د مهربانۍ له مخې مو زموږ سره هره میاشت په منظم ډول ټاکلی اندازه مرسته وکړئ .له تاسو مخکې له مخکې مننه!

**به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!**

زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد. اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر .

# د خيبر تاريخي جرگې پرېکړو ته يوه تحليلي کتنه



عبدالغفور ليوال

د خيبر تاريخي جرگه له پيله تر جوړېدو او پايه پورې يوه د عطف داسې کرښه ده، چې د پښتنو ملي مبارزې ته يې نوی تګلوری او ليدلوری وټاکه .د تاريخ او ټولنپوهنې د تطبيقي کره کتنې تحليلي ميتودولوژي حکم کوي، چې هره تاريخي پېښه بايد د هغو مکاني و زماني شرايطو په تولپارسنگ (مقياس و محک) وارزول شي، چې په کې شکل نيسي او بشپړيږي. تحليلي کتنه دا ده، چې د يوې تاريخي – ټولنيزه پېښې په اړه دغو پوښتنو ته ځواب ولټول شي، چې ولې رامنځته شوه؟ او څنګه به پراختيا مومي؟ موږ به د خيبر د تاريخي جرگې پرېکړو ته له همدې اړخه وگورو. د خيبر تاريخي جرگې د ۲۰۲۴ کال د اکتوبر پر ۱۳ م ماښام خپلې پرېکړې اعلان کړې. په پرېکړو کې د ځينو سيمه‌ييزو ستونزو ترڅنګ څو مهمو ملي او تاريخي پوښتنو او مسئلو ته هم د حل و پرانيستو ژمنه اعلان شوې ده، چې په خپل ډول کې يې لومړنۍ ملي پرېکړې ګڼلای شو .لومړی بايد د دغې جرگې صلاحيتونه وپېژنو. جرگه او لويه جرگه له تاريخي پلوه د افغانانو د ټولنيز ژوند و ژواک د مسايلو او لويو سياسي پرېکړو تر ټولو ستره او ځواکمنه ملي مؤسسه ده، چې دلته يې له تاريخي و حقوقي پېژاند څخه تېرېږو، يوازې د هوتکي ملي پاڅون، احمدشاهي سترې جرگې او په شلمه پېړۍ کې د نړيوالو جگړو پر مهال تاريخي پرېکړې د يادولو وړ دي. افغانستان ته د موډېرنو اساسي قوانينو د تصويب تقنيني صلاحيت يې هم يوه بله بېلګه ګڼلای شو .د لويو جرگو دوه ځانګړنې پاموړ دي، اول تر ملي واکمنيو (حکومت – دولت) څخه هم ځواکمنې دي او که ملي واکمني وي هم، د ملت د لويې جرگې د يوه ګډونوال حکمي شخصيت په توګه به يوازې يو غړی وي، نه د پرېکړو او اوامرو مرجع .بله يې دا چې که ملي واکمني نه وي، نو جرگه په خپله د پرېکړو تر ټولو ستره او ټولواکه مرجع ده .د دې پېژاند له مخې د خيبر جرگه د خپل کميت و کيفيت له نظره – په تېره بيا داسې مهال چې ټوله افغان جغرافيا د يوې مشروع ملي واکمنۍ له لرلو بېبرخې ده – تر ټولو ستره باصلاحيته جرگه يې بللای شو .د خيبر د جرگې بله ځانګړنه دا وه، چې رابلونکي، جوړوونکي او ګډونوال ټول يې افغان ولسونه وو. دا نه کوم حکومت راغوښتې وه او نه هم کومې ځانګړې قبيلې، قوم يا سياسي ګوند. بله ځانګړنه يې دا وه، چې د افغاني ټبرونو بشپړه استازولي يې لرله .د لويو پرېکړو په برخه کې څکه تاريخي وه، چې هيڅکله په دې کميت و کيفيت يوې ملي – ولسي جرگې په يوه خوله داسې پرېکړې د نړيوالو غوږونو ته رسولې نه وې • .
شايي په تاريخ کې له کمي، کيفي او ماهيوي پلوه دا لومړنۍ لويه ملي جرگه وه، چې په واز کومې يې اعلان وکړ، چې لوی افغان ملت د ډيورند کرغېړنه کرښه په رسميت نه پېژني او د دوی له نظره دا کرښه هېڅراز مشروعيت نه لري. دې پرېکړې په ډېرو هغو اورنيو ملي‌ضد دريځونو يخې اوبه واړولې، چې ويل به يې: په نيمګړې افغانستان کې واکمنۍ او ملتپال چيغې وهي، چې ډيورند نه منو او تر ډيورند هاغاړه پښتانه ګواکې دا کرښه د رسمي پولې په توګه پېژني. دې جرگې په خپل ټول عظمت دغه مغرضه ګونګوسه غلطه ثابته کړه او په واضح توګه يې وويل چې ټول ملت له الف تر يا پورې دا کرښه نه مني او د له منځه وړلو لپاره يې له ولسي ميکانيزمونو د ګټې اخيستنې لپاره عملي لارې چارې رامنځته کوي • .د پاکستان له رامنځته کېدو راهيسې تر ډيورند هاغاړه ټول پښتانه له دولتي ترهګرۍ سره مخامخ وو. دا کوښنۍ ادعا نه ده .دولتي ترهګري هغه وخت په نړيواله ترهګري بدله شوه، چې د سړې جګړې پرمهال د نړۍ ټول افراطي او بنسټپال وسلوال ځواکونه د دوی پر خاوره ځای پرځای شول او پښتانه هره ورځ د دغو نيابتي پنجابي، عربو، منځنۍ اسيا، چين و چيچين ترهګرو د شتون او جګړو قرباني کېدل .پاکيستاني پوځ چې دغه ډلې يې دلته راوستې وې او نورې سيمه‌ييزې ترهګرې ډلې يې هم پخپله راپنځولې وې، په دې پلمه چې دغه ډلې د پاکيستان امنيت ګواښي د پښتنو

سیمې ته یې لښکرونه رااستل او پښتانه یې وژل. په دې توګه دغه دولتي او نړیواله ترهګرۍ په خرپ روانه وه. پښتنو د دې ترهګرۍ په وړاندې هېڅ ویلای نه شو، ځکه له دغو ایډیولوژیکو ډلو سره د تودې وسلې ترڅنګ د (تکفیر) خطرناکه وسله هم وه. په دې توګه دغې جرګې د لومړي ځل لپاره دغه اختاپوتي اووه سرې بلا نړۍ ته وروپېژندله او د هغې د طلسم ماتولو په پار یې دغه جرګه راوغوښته. جرګې پرېکړه وکړه، چې د ترهګرۍ د وجودي منطق کړۍ ماته کړي او د چرګې و هګۍ تروریستي معما پای ته ورسوي. تر دې وروسته به پوځ پښتانه په دې نامه وژلای نه شي، چې ګواکې دلته ترهګرې ډلې شته او ترهګرې ډلې به دلته پښتانه په دې نامه وژلای نهشي، چې په دې سیمه کې ولې د پاکستان پوځ له دوی سره جنګېږي؟ جرګې پرېکړه وکړه، چې په شپېتو ورځو کې به دواړه وژونکي اړخونه (پوځ و د هغوی په لاس جوړ شوي ترهګر) دواړه د پښتنو له خاورې څخه وځي. لاړ دې شي او بل ځای دې یوبل سره معلومه کړي. دا پرېکړه هغې مهمې پوښتنې ته ځواب دی، چې ترهګر او پوځ ولې یوازې د پښتنو په سیمه کې یو له بل سره جنګېږي؟ ولې په پنجاب و سند و نورو سیمو کې کراري ده؟ •تر ډېورند کرغېړنې کرښې رااېستلو او په تېره بیا د پاکستان له جوړېدو روسته له پښتنو سره یو لوی ظلم دا کېده، چې له دوی سره د روان ظلم په وړاندې د عدالت تأمینولو افغاني مرجع نه وه. پنجاب هم پښتانه وژل او هم پرې حاکم ول. حکومتي اداري، محاکم، پوځ و پولیس ټول پنجابي یا پنجابي جوړ او پنجابي خصلته وو. د انګریزي- پنجابي قانون پربنسټ ټاکل کېدل. د دغه پردي واک زور دومره ډېر و، چې تش په نامه ملتپال ګوندونه یې هم مسخ کړي وو. تاریخي تجربو ښووله، چې پښتانه به تر هربل وخت هغه مهال ډېر په تکلیف وو، چې کوم ملتپال ګوند به یې په سیمه کې بېواکه واکمنۍ ته ورسېده. ځکه د ټول پاکستان په تېره بیا د پښتنو لپاره د واک اصلي مرجع پنجابي پوځ او استخبارات وو او ملتپالو ګوندونو به هم له خپلې بېواکۍ او پوځي دیکتاتورۍ څخه سرټکاوه. په حقیقت کې پر پښتونخوا پنجابي پوځ و استخباراتو واک چلاوه او د دوی هرڅه یې لوټل . دې جرګې په تېرو یوسلو څو کلونو کې لومړی ځل پرېکړه وکړه، چې د پاکستاني پوځ و ځارګرو دغې دیکتاتورۍ ته به د پای ټکی ږدي. جرګې خپله محکمه، خپل عدالت، خپل ملي لښکر او خپلو ستونزو ته د رسیدو خپل ملي موسسات رسماً معرفي کړل. جرګې وویل، چې دوی به ۲۴۰۰۰۰ کسیز ملي لښکر جوړوی او همدا لښکر به دوی ساتي، دلته نور نو د دوی د امنیت ساتنې په پلمه د دوی وژونکي پوځیانو ته اړتیا نشته. د جرګې تر ټولو مهمه، تاریخي او ستراتیژیکه پرېکړه د دغه ملي لښکر د جوړېدو اعلان و. په دې توګه له دغه ولسي لښکر سره نه پوځ او نه هم پاکستانی یا نړیوالې ترهګرې ډلې مخامخېدلای شي .دا پرېکړه د پښتونخوا د سیاسي خپلواکۍ په لور د راخوځېدو د پیل تر ټولو ستر اعلان دی. که پښتانه دغه پوځ جوړ کړي هماغه ورځ به د پښتونخوا د خپلواکۍ لومړی ورځ وي • .مهم بل ګام د پښتنو د اقتصادي سرچینو برخلیک ټاکل و. جرګې وویل: د پښتنو سرچینې دپښتنو دي او تر نن روسته به یې وړیا غیر پښتنو ته د وربهېدا او لوټ تالان مخه نیسي .جرګه په دې پوهېده، چې سیاسي خپلواکي له اقتصادي خپلواکۍ څخه راپیلېږي. او که تاسو غواړئ په خپلواکه توګه د پرېکړې یو اړخ اوسئ، نو باید خپل زېږښونکي ته وواياست، چې بس !!!نور نو د وړیا دسترخوان زمانه پای ته رسېدلې ده! څه راکوې، چې څه درکړم؟ جرګې په لوی سر کې د ټولو افغانانو امنیت او بدامنې یو له بل سره وتړل او په زغرده یې څرګنده کړه، چې په پښتونخوا کې د بدامنۍ جوړېدل د ټول افغانستان لپاره یوه دسیسه ده. د دې جرګې روحِ روان له بهر د راتپل شوي افراطیت د کمپلې ورټولېدل او افغانان خپلو طبیعي، دودیزو، تاریخي او حقوقي دود دستور ته ورستنول و، چې په ګڼو دلایلو یې یوې مدني او موډېرنې ټولنې ته د حرکت لومړنۍ بستر او تمځای هم ګڼلای شو .په دې توګه جرګې وښووله، هغه څه چې ترهګر یې د پښتني – افغاني فرهنګ په نامه نړۍ ته ورښیي، په حقیقت کې له افغان فرهنګ سره هېڅ تړاو نهلري .جرګې وویل :تر دې روسته د هېڅ وژل شوي پلار یا ورور په بدو کې کومه معصومه خور یا لور ودېدلای نه شي. جرګه د دغې ټولنیزې ربړې ژورو جرړو ته وررسېدلې ده. انګریز و پاکستاني استخباراتو له دې لارې د پښتنو د ملاتیر مات کړی و، قبیلوي شخړې یې راپنځولې وې او کور په کور یې د بدیو او دوښمنیو جال خپور کړی و . د جرګې



یوه مهمه پرېکړه دا وه، چې پنجابي پوځ و استخبارات دې دلته په کور کې کورکې نه جوړوي او قبیلې و قومونه دې یو له بل سره په بدیو نه اړوي. د جرګې دې پرېکړې وښووله، چې ایله پښتانه دې پایلې ته رسېدلي دي، چې له انګریز څخه په میراث راپاتې ښکېلاکي میتود « بېل یې کړه، ښکېل یې کړه او اېل یې کړه!» یا Divide and Rule پالیسي د پاکیستان له خوا هوبهو پر مخ ځي .جرګې په ځرګنده وویل، چې پر موږ د پاکیستاني پوځ د واک چلولو یو لامل د پښتنو خپلمنځي اختلافات جوړول دي، د خیبر جرګې د دغو اختلافاتو د حل لپاره یې ځانګړې جرګه وټاکله، چې تر دې روسته به ټول اختلافات حل کوي او پښتانه به په ریښتیني او عملي توګه بشپړ یووالي ته رسوي. د دې اختلافاتو یوه بېلګه د شیعه او سُني پښتنو تر منځ له بهر راتپل شوې شخړه ده، چې ښايي له دې جرګې څخه را پنځېدلې ځانګړې جرګه به هم پیل له دې څخه کوي او اول به کورمې ته ځي .په اجرائیوی برخه کې جرګې یوازې پرېکړې اعلان نه کړې، بلکې د مهمو او تاریخي پرېکړو د اجرائیوي ضمانت او عمل لپاره یې اړونده مراجع هم اعلان کړې. یوه اتیا کسیزه کومېټه، د اختلافاتو د حل جرګه او تر ټولو مهم دوه سوه او څلویښت زره کسیز ملي لښکر .هره پرېکړه له ځان سره اجرائیوي قاعده لري، چې که یې څوک عملي کېدو ته نهپرېږدي، نو څوک به په څومره وخت کې څه کوي؟ د پښتنو سیاسي ګوندونه، پخپله پښتونژغورنې غورځنګ، ولایتي اداره او نور یې د پرېکړو په عملي کولو کې راګډ کړل، پیل به د سیاسي زندانیانو ( په ځانګړې توګه علي وزیر او د پښتونژغورنې غورځنګ نور غړي) له راخلاصولو کیږي .جرګې په ځانګړې سیاسي مهارت د پښتنو د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي خپلواکۍ لپاره لاره خلاصه کړه. له اجرائیوي اړخه یې بله بریا دا وه، چې ټول ولس او د جرګې هرګډونوال د یوې پرګنې په استازولۍ ځانونه په کې د هراړخیز صلاحیت او مسئولیت لرونکي وګڼل .هېڅ پرېکړه یې د دوښمنو کومې بېروکراتیکې ادارې ته سپارلې نه ده، بلکې هرڅه به ولس کوي او په دې توګه یې عملاً د یوه ژوندي، شعوري او باارادې ملت په توګه د پرېکړو د عملي کولو ژمنه په غاړه واخیسته .د جرګې ګڼې استعاري بریاوې هم وې. ترهرڅه وړاندې د دومره پښتنو وګړیو (ښځو او نرو) ، مشرانو، سیاسي ګوندونو او مدني و فرهنګي بنسټونو راټولول په داسې تاریخي زمانه کې د معجزې تر بریده د حیرانتیا وړ کار دی. دویم د دغو لسګونو زره خلکو سره په یوه خوله کول او بیا د داسې جرئتمندو پرېکړو اعلان او د عملي کولو داسې کلک هوډ، دا ټول د کرښو ترشاه هغه حقایق دي، چې لیکل شوي یا ویل شوي نه دي، خو پوهېدل یې د هر دراک انسان په وس پوره دي .او تر ټولو مهمه ژمنه خو دا وه، چې د پښتونژغورنې مشر منظور پښتین په ډېره زړورتیا وویل : ... »دا یو مزل دی، چې نوی پیل شوی او ان شاءالله چې هغه منزل ته به رسېږي، چې ستاسو ټولو په زړونو کې دی «!یعنې ولس راویښ شوی، ژمن دی او ځان به بشپړې خپلواکۍ او ملي – افغاني واکمنۍ ته رسوي.








احمد فواد ارسلا

تصمیم اخیر پاکستان برای ممنوعیت جنبش تحفظ پشتون (PTM)بر اساس قوانین ضدتروریسم، انعکاسی از استراتژی عمیقاً ریشه‌دار دولت در استفاده از اقدامات اقتدارگرایانه برای سرکوب مخالفان، بخصوص در مناطق اقلیت‌نشین قومی است. این ممنوعیت نمایانگر تاریخ طولانی پاکستان دروسیله قرار دادن موضوعات امنیتی برای حفظ کنترل جیوپلیتیک و داخلی است که همواره با استفاده از افراط‌گرایی مذهبی، تفرقه قومی، و تصادمات بین‌المللی همراه بوده است. سرکوب PTMبار دیگر یادآور این است که چگونه دولت با تکیه بر استفاده از مباحث امنیت ملی به تحکیم قدرت خود ادامه می‌دهد، در حالی که خواسته‌های مشروع برای عدالت و پاسخگویی را سرکوب می‌کند.

## بنیان‌گذاری پاکستان و اتکا به افراط‌گرایی

پاکستان در سال ۱۹۴۷ بر اساس نظریه معیوب دو ملت به‌طور مصنوعی شکل گرفت، نظریه‌ای که ادعا می‌کرد مسلمانان شبه‌قاره هند به یک سرزمین مستقل نیاز دارند. با این حال، به زودی مشخص شد که این کشور فاقد هویتی منسجم وسیعتر از اسلام است و به همین دلیل در برابر تفرقه‌های قومی داخلی آسیب‌پذیر است. در نتیجه، گروه های حاکم به‌تدریج به افراط‌گرایی اسلامی به‌عنوان نیرویی وحدت‌بخش روی آوردند و گروه‌های شبه‌نظامی را نه‌تنها برای سرکوب مخالفان داخلی بلکه برای کسب نفوذ منطقه‌ای، بخصوص در کشمیر و افغانستان، تقویت کردند. افراط‌گرایی مذهبی به ابزاری دولتی تبدیل شد که توسط اردو و دستگاه‌های استخباراتی پرورش و استفاده می‌شد و هویت پاکستان را به بهای سرکوب اقلیت‌ها و مخالفان تثبیت کرد.

## جنگ با ترور: شمشیری دولبه

در حالی که پاکستان خود را در جنگ با ترور به‌عنوان متحد آمریکا معرفی کرد، هم‌زمان از این مناقشات و تصادمات برای کنترل داخلی سوءاستفاده کرد. عملیات‌های ضدتروریستی در مناطق پشتون و بلوچ بهانه‌ای برای اشغال نظامی و اجرای قوانین سرکوبگرانه بود که این مناطق را بیشتر به حاشیه راندPTM.از ویرانه‌های این عملیات‌ها شکل گرفت، زیرا پشتون‌ها قربانیان اصلی خشونت‌های بی‌هدف، ناپدید شدن‌های اجباری، و قتل‌های غیرقانونی بودند. دولت به جای رسیدگی به این مطالبات، همچنان به شیطنت‌سازی از PTM

ادامه می‌دهد و آن را تحت پوشش قوانین ضدتروریسم قربانی می‌کند.

## سرکوب قومی به‌عنوان سیاست دولتی

سرکوب PTM در راستای نمونه دیرینه پاکستان در سرکوب جنبش‌های قومی است. این نمونه با جدایی پاکستان شرقی در سال ۱۹۷۱ که منجر به تأسیس بنگله دیش شد، آشکار شد. ناتوانی دولت در پذیرش تنوع قومی و برخورد با گروه‌های غیراردو زبان با سوءظن، تا امروز ادامه دارد و بلوچها و پشتون‌ها بیشترین آسیب را از این محرومیت می‌بینند. ترس از ظهور یک جنبش تجزیه‌طلب دیگر، مشابه بنگلادش، همچنان بر سر تشکیلات اردوی پاکستان سایه افکنده و باعث عکس العمل سخت آن‌ها نسبت به فعالیت مسالمت‌آمیز PTM شده است.

## سوءاستفاده پاکستان از قوانین ضدتروریسم

استفاده از قوانین ضدتروریسم برای سرکوب PTM نشان‌دهنده جریان وسیع است که در آن پاکستان مخالفت‌ها را با تروریسم برابر می‌داند. سازمان‌های حقوق بشری مدت‌هاست که دولت را به دستگیری خودسرانه فعالان، خبرنگاران و چهره‌های سیاسی به بهانه مبارزه با تروریسم متهم می‌کنند. ممنوعیت اخیر PTM بطور خاص نشان‌دهنده چگونگی سوءاستفاده دولت از چارچوب ضدتروریسم برای نامگذاری فعالیت‌های سیاسی مشروع به‌عنوان تهدیدی امنیتی است.

این تاکتیک‌ها نشان‌دهنده عدم تمایل تشکیلات امنیتی به تحمل هرگونه مقاومت و اعتراض علیه اقتدارشان، بخصوص در مناطق استراتژیک مانند خیبر پختونخوا و بلوچستان است.

## عواقب بین‌المللی و استانداردهای دوگانه غرب

سوءاستفاده پاکستان از جنگ با ترور برای هدف قرار دادن اقلیت‌های قومی، استانداردهای دوگانه قدرت‌های غربی را آشکار می‌کند. در حالی که غرب پاکستان را به‌دلیل پناه دادن به گروه‌های افراطی مورد انتقاد قرار داده، سرکوب وحشیانه اقلیت‌ها را تحت همان مباحث امنیتی امنیتی نادیده گرفته است. ادامه کمک‌های نظامی آمریکا و تحمل بین‌المللی نسبت به سوءاستفاده‌های پاکستان، تشکیلات عسکری و امنیتی پاکستان را جسور کرده و به آن‌ها اجازه داده است که سلطه داخلی خود را حفظ کنند، بدون آنکه اصلاحات معناداری انجام دهند.

## نتیجه‌گیری: بحران مشروعیت

ممنوعیت PTM بحران مشروعیت پاکستان را برجسته می‌کند. با سرکوب جنبش‌های مسالمت‌آمیز که خواستار حقوق اولیه انسانی هستند، دولت تنها احساس بیگانگی و نارضایتی در میان اقلیت‌های قومی را تشدید می‌کند. اتکای بیش‌ازحد پاکستان به افراط‌گرایی اسلامی، سرکوب قومی و اقدامات اقتدارگرایانه، خطر تکه‌تکه شدن بیشتر کشور را در پی دارد، همان‌طور که در مورد جدایی بنگله دیش رخ داد. مگر آنکه پاکستان اشتراک سیاسی همه اقوام را بپذیرد، تنوع قومی را به رسمیت بشناسد، و تشکیلات عسکری و امنیتی را برای سوءاستفاده‌هایشان پاسخگو کند، این کشور همچنان در چرخه‌ای دائمی از منازعات داخلی و بی‌ثباتی گرفتار خواهد بود.

سرکوب PTM فقط یک مسئله محلی نیست؛ بلکه آینه ای از مشکلات سیستماتیک ریشه‌دار در بنیان پاکستان است—کشوری مصنوعی که همچنان به سرکوب و افراط‌گرایی برای حفظ تسلط شکننده خود تکیه دارد.



# منظور پشتون بدل حماسی مبارز نامدار پشتون فقیر ایپی



منظورپشتون رهبرجنبش تحفظ پشتون



میرزاعلیخان معروف به فقیرایپی



**کاندید اکادمیسین سیستانی**

منظور پشتون رهبر جنبش حراست پشتونها با تدویر جرگهٔ قومی عدالت درمیدان جمرود خیبرپشتونخوا در تاریخ 11 اکتوبر2024، بزرگترین پیروزی پشتونها را برای تحول درسرنوشت خویش رقم زد. و در برابر سنگ اندازی و زورگوئی اردوی ستمگر پنجاب با شجاعت و دلیری ایستادگی کرد وبالاخر آن جرگه پرشکوه را با حضور ده ها هزار جوان و پیر پشتون از سراسر ایالت پشتونخوا و بلوچشتان در میدان جمرود، جای که 187 سال قبل وزیراکبرخان در آنجا لشکر رنجیت سینگ پنجابی را شکست داده بود، تدویر نمود. این پیروزی را به تمام پشتونهای آنسوی خط تحمیلی دیورند تبریک میگویم.

76 سال قبل از امروز یکی ازمبارزان شجاع پشتون بنام میرزاعلیخان مشهور به فقیر ایپی عین همین کاری را در برابر حکومت سرکوبگر پاکستان انجام داد که امروز منظور پشتون آنرا با تمام موانع در مقابل تدویر جرگه پشتونها عملی کرد . بر اثر تلاش این مرد مبارز " روز نهم سنبله 1327 مطابق 30 آگست 1948 اولین جرگه مهم قبایل مومند، صافی آزاد، چارسنگ، شموزائی، افریدی، اورکزائی، شینوار، لوارگی، شلمان، وزیر، مسعود (محسود) در "چهار سده" دائر گردید و جرگه معاهده مهم اتحاد ملی و تشکیل پشتونستان را اعلام نمودند. در این جلسه میرزا علی خان مشهور به فقیر ایپی به حیث رئیس انتخاب شد که مشی خود را طی سه ماده چنین بیان کرد:

1 – از حکومت پاکستان مطالبه میکنیم که تمامیت و استقلال پشتونستان خاک هفت ملیون افغان را از راه صلاح و امن اعتراف کند و از امروز تمام مامورین و ایجنت های ملکی و لشکری خود را امر کند به صورت فوری از تمام نقاط پشتونستان بیرون روند. اگر چنین نکنند، مسئولیت عواقب وخیمی که دراثر این لجاجت حکومت پاکستان واقع شدنی است، هم نزد خدا و هم نزد مؤسسه ملل متحد بدوش حکومت پاکستان خواهد بود.

2 - چون وسایل نشراتی ما ناقص است از دولت برادر خود افغانستان که همواره با پشتونستان همدردی صمیمی دارند، خواهشمندیم اطلاعات و پروگرام ما را مربوط به پشتونستان در جراید و رادیوی افغانستان نشر کنند.

[به این اساس پروگرام "دا پشتونستان زمونږ" از طریق رادیو کابل بعداً رادیو افغانستان به نشرات آغاز کرد.]

3 - از موسسه ملل متحد و مراکز عدالت پسند دنیا خواهشمندیم پشتونستان را بحیث یک مملکت آزاد و یک عضو حساس خود بشناسد و حکومت پاکستان را مجبور سازند تا به تمامیت و آزادی خاک پشتونستان اعتراف کند».( رک:آرشیف مقالات داکتر سید عبدالله کاظم، افغان جرمن آنلاین مکثی برمعضلۀ پشتونستان داؤد خان و روابط با پاکستان)

ما امیدواریم جرگه کنونی نیز با الهام از فیصلۀ جرگۀ چهارسده، تصامیم مهمی برای آینده خود و فرزندان خود بگیرند و در جهت عملی کردن آرزویها شهید گیله من و هزاران تن شهید دیگر آنقوم از جان مایه گذارند.

به نظرمی رسدکه پشتونهای آنسوی خط دیورند اکنون بیش از هر وقت دیگر بیدار شده اند و از روش حکومت داری تبعیض آمیز و اعمال ستم ملی بر قوم پشتون بیزار و متنفراند و میخواهند متحدانه به حکومت و اردوی سرکوبگر پاکستان که جوانان پشتون را بجرم پشتون بودن دستگیر و زندانی و نابود میکند جواب رد بدهند. پشتونها حق دارند صدای اعتراض خود را در برابر استبداد و بمباردمانهای بی امان اردوی پاکستان برمناطق پشتون بلند کنند و بگوش جهانیان برسانند.

منظور پشتون رهبر سریکف جنبش تحفظ پشتونها این رسالت را بدوش گرفته است تا قبل ازهر چیز دیگر اتحاد پشتونها را از طریق تدویر یک جرگۀ وسیع در محل جمرود خیبر پشتونخوا امتحان کند. پس از شهادت گیله من وزیر بود که منظور پشتون جرگه عدالت قومی را در تاریخ ۱۱اکتوبراعلان نمود. یکی از اقدامات مضحک پولیس و استخبارات نظامی این است که برای سبوتاژ و ممانعت تدویر جرگه عدالت قومی پشتونها را تهدیدکرد که هرکس به این جرگه شرکت کند کارت شناسایی اش از وی گرفته میشود. با اعلام این اخطار برخی از جوانان پشتون کارت شناسایی پاکستانی خود را یا پاره کردند و یا در کثافات دانی انداختند. شخص منظور پشتون با ریشخند اظهار کرد که کاش این کارت و پاسپورت پاکستان در بیرون از این کشور اعتباری میداشت و سپس چندپاس وک ارت شناسایی خود را به اشغال دانی انداخت.

با وجود تهدید و اخطارهای استخبارات نظامی و اقداماتسرکوبگرانه و راه بندانپولیس، سیلی از جوانان و مشران قومی بشمول رهبران احزاب و علماء، روحانیون، زنان و دختران پشتون بسوی جمرود براه افتادند و چون همه راه های موتر رو را پولیس مسدود کرده بود جوانان با پای پیاده از تپه ها ودره ها بالا و پائین رفتند وخود را به میدان جمرود رساندند. شوق و ذوق مردم برای رسیدن به میدان جمرود چنان چشمگیر و هیجان انگیز بود که گویی مردم مانند موسی به کوه طور بدیدن خدا میروند. واقعن که شوق رسیدن به جمرود و اشتراک در جرگه قومی عدالت کمتر از شوق و ذوق حاجی ها برای لمس کردن حجرالاسود در کعبه نبود. با آنکه سه بار پولیس برکمپهای برپا شده حمله برد و خیمه ها را سرنگون و آتش زدند و سه تن از اعضای جنبش تحفظ پشتون را کشتند و صدهای دیگر را زخمی و یا دستگیر نموده باخود بردند اما نتوانستند روحیه عشق به آزادی و اشتراک در جرگه را در مردم نابود کنند و بالنتیجه در روز ۱۱ اکتوبر جرگه عدالت قومی با اشتراک ده ها هزار نفر پشتون از اقوام و مناطق مختلف قبایلی تدویر یافت وبه اردوی سرکوبگر پنجاب ثابت ساخت که وقتی پشتونها با هم اتحاد کنند هیچ توطیه و زورگویی جلو ارادۀ آنها را گرفته نمیتواند. اکنون که جرگه عدالت قومی تدویر یافته است هر فیصله ایکه جرگه برای نجات خود از بحران فعلی پیشنهاد نماید، هیات رهبری جرگه آنرا به حکومت پاکستان گوشزد خواهد نمود تا بدون جنگ و خون ریزی عملی نماید درغیر این صورت ممکن جوانان تحول طلب پشتون به صف گروه های ناراضی از جمله در کنار بلوچهای انقلابی بایستند و حقوق خود را از راه استعمال سلاح تحقق ببخشند.

در لینک ذیل تاریخ 11 اکتوبر آخرین روز سلطه پاکستان بر اقوام پشتون و گفته شده و پشتونستان آزاد و یا اتحادبا افغانستان اعلان شد.

https://youtu.be/XptRHFGMr7A?si=KH1FvI8k8mN5-UeO

زلمی نصرت

## د خیبر په لور

پاڅه، پاڅه د خپل قام لپاره پاڅه

خپلې ژبې او کلام لپاره پاڅه

که هویت دې راخپل نکړې نو بیا مړ یې

که ژوند غواړې د خپل نام لپاره پاڅه

پښتونخوا په خیرات نه جوړېږي خانه

د یو پریکنده قیام لپاره پاڅه

ګیلا من نن حماسه ده د ننګونو

د ننګونو د انجام لپاره پاڅه

د خیبر په لور ته هم ورشه نصرته

لر او بر ته د الهام لپاره پاڅه

## د خیبر پښتونخوا قامي جرګې په هکله رسنیزه اعلامیه




د خیبر تاریخي جرګه د پښتون ژغورنې غورځنګ د مشر منظور پښتین په بلنه او د غورځنګ په کوربه توب د خیبر په رېګي للمه سیمه کې د (پښتنو قامي عدالت) په نوم د ۲۰۲۴م کال په ۱۱مه پیل او په ۱۳مه نیټه د یوه پرېکړه لیک په اعلان پای ته ورسېده. په خیبر جرګه کې رابلونکي، جوړونکي او ګډونوال ټول افغان ولسونه و او د افغاني ټبرونو بشپړه استازولي یې لرله.

یو ځل بیا پښتانه دې ته اړ شول څو د خپلو حقونو د خوندي کولو؛ د زور زیاتي، ظلم، په خپلو منابعو او وسایلو کنټرول او حق لپاره خپل غږ اوچت او ټول پښتانه د خپلواکۍ او عدالت په لوی غورځنګ کې د اتحاد په لور را وبولي.

پنجابي دښمن د تل په څېر دا ځل هم په بېلابېلو لارو هڅه وکړه چې دغه غورځنګ له ماتې سره مخامخ کړي؛ خو یووالی او یو د بل تر شا درېدل هغه څه ول چې د دښمن هره هڅه یې ناکامه کړه. پښتانه باید دغه یووالی وساتي او غښتلی یې کړي، ځکه همدا یووالی له یوه بري څخه د بلې بري په لور ګام دی.

د خیبر د ملیوني جرګې ارزښت په دې کې و، چې د ګڼو پښتنو مشرانو، سیاسي ګوندونو، مدني او فرهنګي بنسټونو راټول په یو ټغر په داسې حساسو شرایطو کې د معجزې تر بریده د حیرانتیا وړ کار و. خیبر جرګه د قومونو، ولسونو، عام، خاص، زوړ، ځوان، ښځې او نارینه یووالی او یوځایوالی، سوله ایزې مبارزه او د عدالت غوښتنې غږ نړۍ ته وښوده او ورساوه.

دعوت رسنیز مرکز د خیبر قامي جرګې هر اړخیز او بشپړ ملاتړ اعلانوي. یاده جرګه د پښتنو د یووالي، خپلواکۍ، د موخو او سترو ارمانونو د پوره کېدو لپاره ستر ګام ګڼي. هیله ده په جرګې کې د شویو پرېکړو او لاسته راوړنو لپاره هراړخیزې هڅې وشي او هر یو دې د دې ارمانونو د پوره کولو په موخه خپلې هڅې جاري وساتي. دا بریا یوازې د یو قوم او د یو تن یا یوې ډلې بریا نه ده؛ بلکې د ټول افغان پښتون ټبر او د لر او بر افغانانو تاریخي بریا ده.

درنښت

**دعوت رسنیز مرکز**

لیلیستروم، ناروې

17.10.2024

www.dawatmedia24.com



# د ۱۳۴۷ کال «خیبر»

## عبدالعزیز نایبي

--------------------

که نن ویښ نه شوئ پښتنو د ازادۍ په چیغو
بیا بم له دې خوبه شپېلۍ د اسرافیل ویښنوي

«خیبر» د لرو برو پښتنو شاعرانو د هغې شعري ټولګې نوم دی چې په ۱۳۴۷ لمریز کال کې د امان الله سیلاب صافي په اهتمام د پښتونستان د ورځې د شلمې کلیزې په مناسبت د قبائلو د مستقل ریاست د تبلیغاتو د لوی مدیریت لخوا، خپره شوې ده. ټولګه د یادې اداري مشر ښاغلي دردمند په دې خبرو پیل شوېده:

«د خیبر دره، د تیرا ځوکې، د تاتري ګرنګونه، د کاروان لار، د پښتني لښکر سنګر، د جوېې دمه ځای، دمخه ښې او هرکلي پړاو، د دریا خان اپریدي او ایمل خان مومند د شوګیرونو او تکبیرونو مورچه.

د ملتان غازي او عجب خان غازي د غورځنګونو نښه، د پښتو پوره کولو او پښتونولۍ کور، د زورګیرانو د کمزورۍ او تیندک کولۍ چه د پښتنو د مقاومت او صلاحیت قصې پکښې د تاریخ شرنګیدلي کړې دي، توره او قلم پکې د تاریخي نقش په ترجمانۍ کښې د تکبیر او قومندې سره ملګرې شوی غږ؛ په وینو خړوب شوی خیبر پښتنو ته د ماضي حال وایي او دقافلې په نغري کښې یې لا سپرغۍ دښمنانو ته اخطار ورکوي...».

ورپسې ارواښاد سیلاب صافي «خیبر» ته یوه سریزه لیکلې او په هغې کې یې د خیبر د تاریخي سیمې، حماسوو او هغو مېړنو یادونه کړې چې د پښتونستان د ازادۍ په مینه کې یې خپل سرونه قربان کړي دي؛ هغه دا مجموعه د ازادۍ لارې د شهیدانو روح ته ډالۍ کړې ده. د شعرونو دا ټولګه ۸۷ مخونه لري، د کابل په دولتي مطبعه کې چاپ شوېده او خیبر ته د نېږدې ۴۰ شاعرانو لیکل شوي شعرونه پکې راغونډ شویدي. د کتاب په لومړۍ پاڼه باندې د خیبرد درې عکس لیدل کیږي چې دا بیت پرې لیکل شوی دی:

د خیبر دره خو لار د تلو راتلو ده
په کابل او پېښور کې افغان یو دی

د لیکنې پای ته مې له ټولګې څخه د اجمل خټک، سیلاب صافي، غني خان او اقبال لاهوري شعرونه غوره کړي دي چې یو په بل پسې یې لاندې لوستلی شی. زه خپلې خبرې په دې هیلې

رالنډوم چې پښتنانه خپل حقه حقوق د ظالم او غاصب له منګولو څخه په پوهې، تدبیر او مېړانې سره ترلاسه کړي.

- خیبر د کابل او پېښور منځ کې مشهوره تاریخي دره ده. خیبر هغو غرونو ته هم ویلی کېدای شی، کومو کې چه دا دره تېره ده. ما دغه نظم کې د خیبر په سترګه دغه ټولې غرئیزي علاقې ته کتلي دي کومه چه د ګلګټ او چیلاس نه د بلوچستان تر وریشته حدونو پرته ده - یعني د روهستان کوهستاني علاقه - «اجمل»

## خیبر ته

ستا په سر باندې خیبره
یو جونګړه زما کور وی
ته زما وی په لیمه کښې
زه د ستا په اوږو سور وی
***
ستا لحظه، لحظه تیرېږي
د فطرت په تماشو کې
ټوله ورځ د لمر په څېر و
شپه د ستورو پلوشو کې
***
ستا سکنې ماښام رنګین شي
د شفق په لاله زار
سپین سحر دې د بادونو
په وږمو شي نوبهار
***
په لیمه کې چه دې نښې
د قدرت د رنګینو دي
په څولې کې دې تاجونه
ریز مریز د زمانو دي
***
د شینکي پرده کې پټه
د سرو وینو آئینه یې
په دې چُپه چُوپیائې کې
د ژوندونو نشانه یې
***
که مې ژوند یوه لحظه وی
خو چه پښو کې دې نسکور وی
ستا په ترو کې خیبره
یو جونګړه زما کور وی
***
د اسمان د پاکې لارې
ده د ستا له پاسه لاره
بوډۍ اړوي ټالونه
ستا د فخر له دستاره
***
تل د ستورو له دنیا نه
نُور په تا باندې وریږي
د سپوږمۍ پاکې شغلې دې
په لمنه کې رالویږي
***
ته دې شور ته د وریځو
هسې ځان سره مستیږي
هلته پرق شي په فضا کې
دلته ته راوځلیږي
***
سپرلي ډکې کړي ستا غېږې
د قدرت د ننداړو نه
ژمي سپین په تا انبار کړي
د جنت د منارو نه
***
ای په ما له هر څه ګرانه
له تا زار مې پلار و مور وی
ستا په ترو کې خیبره!
یو جونګره زما کور وی
***
تش د کاڼو غر خو نه ئې
ته غیرت او شجاعت ئې
د ننګ میخ قدرت وهلی
د پښتون په قومیت ئې

***

ستا د سوري لاندې اوسي
پښتانه لوی، لوی خېلونه
ننگ د نر، ښځو کالي دي
د دوی کسب دی جنگونه

***

هغه تورې توریالۍ وي
چې فضا ته غاړه ووځي
په ژوندوني به شا نه کړي
چې میدان ته یو ځل ووځي

***

دغه شین زمري ځامن دي
په سینه دي لوبولي
خدایـږو ته د دوی نیازبین ئې
دوی د ستا دي نازولي

***

چې جوړ کړې دوی په مینه
نن د ستا ټنگ و ټکور وی
ستا په ترو کې خیبره!
یو جونگړه زما کور وی

***

که کشمیر کې راټوکیـږي
ښه نازک، نازک گُلونه
دلته تا کې پیدا کیـږي
د غیرت نه ډک مېـړونه

***

هلته حُسن و نزاکت دی
دلته ننگ او جُرعتونه
که هغه جنت نشان دی
ستا نه زار شه جنتونه

***

د پښتو د ناموس نښې
چې تندي کې ستا ځلیـږي
ټینگ په زور او زر تختونه
له هیبته ولړزیـږي

***

ستا په گرد، خړه فضا کې
دبدبې دي د لښکرو
نښانې دی د جمدرو
علامې دي د خنجرو

***

په معنی کې جام د جم ئې
زما زړه کې درته زور وی
ستا په ترو کې خیبره!
یو جونگړه زما کور وی

***

کله هلته دې په سر ناست
کله دلته دې په پښو کې
کله ته زما نظر کې
کله زه د ستا لیمو کې

***

راسپړي دي راته یو، یو
د غلبیل ځیگر زخمونه
په پیـرو چې دې خوړلي
په سینه دې گوزارونه

***

چېرته غشي دی لک شوی
په سینه ما را اوښکلی
چیرته ښځې بلې تا کې
چې ما رو، رو را ایستلی

***

چېرته ژوبل په نیزه ئې
چېرته شلد درکې ټومبلي
خپل رگونه مې تسمې کړې
ستا زخمونه مې گنډلي

***

ستا د خوږ گوگل له لاسه
بل زما په ځیگر اور وی
ستا په ترو کې خیبره!
یو جونگړه زما کور وی

***

ستا په سترګو مې کتلي
دغه لارې دې ميدان ته
د ماضي په ائينه کې
د حملو هغه طوفان ته

***

د درې له هاغه ګټه
د ميدان تر هاغه سره
سپين ږګونه لوی لستوني
د يو غر نه تر بل غره

***

کوزه تورې نه اودريـږي
بره غشي راوريـږي
شور دی چغې دې نارې دي
سيلاب ځي په وړاندې کېـږي

***

ځمکه څه په وينو سره شوه
چه فضا ئې اولړله
د دې مړو له کبله
ميدان واوريده په بله

***

اوريدې مې درز د تورې
چه ستا ختې په هر لور وی
ستا په ترو کې خيبره!
يو جونګړه زما کور وی

***

په تندي کې دې ځليـږي
د ماضي هغه نقشونه
چه ارياو تېرول به
ستا په خوا کې کنډکونه

***

ستا په ريګ کې دا دی، دا دی
د يونان د سورو پلـونه
ګوره دا پراته هډوکي
د محمود د فوځ هـډونه

***

ای دی، ای دی په دې تړه
د غورې د وينو دارې
راشه دا دی د غجليانو
نښې پاتې دې په لارې

***

دا دې مات پراته سرونه
د مُغلو د سورو دي
ابداليانو دې ليکلي
خپل نومونه په درو دي

***

ته تاريخ مې د غيرت ئې
خو زما د زړګي زور وی
ستا په ترو کې خيبره!
يو جونګړه زما کور وی

***

د پښتو د عظمت کوره
ځلند ښکارې په دُنيا کې
د عُروج ولولې وينم
ستا فضا کې، ستا هوا کې

***

د ژوندون احساس پيدا شو
ستا د ترو په ځولۍ کې
د شعور ناوې مُسيـږي
ستا د غېـږې په ډولۍ کې

***

په زلمو کې توکېدلې
نوې وينه د سيالۍ ده
غر په سمه الوتلی
يو ورمه د قامولۍ ده

***

د ايشيا د زړګي سره
پسرلی شو خوشالېـږه
د پښتو د غيرت ګُله
مبارک دې شه غوړيـږه

***

ستا د دغې ورځ په تمه

کاش! څو ورځې ژوندون نور وی

ستا په ترږو کې خيبره!

يو جونګړه زما کور وی

شاعر: اجمل ختګ

## د خيبر آواز

پروت چه د غليم مخې ته سد د سکندر يمه

خدايږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

لوی شومه وروکی خونړو انقلابونو کې

ټول عمر مې تېر شو د غليم سره جنګونو کې

نه کړمه چا محوه په مدهشو طوفانونو کې

نه شول څوک کامياب په ما کلکو بمبارونو کې

جوړ چه له ننګونو غيرتونو نه دنګ غر يمه

خدايږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

يو خوا مې مومند دي اتمانخيل دي ترکاڼي پراته

بل خوا مې وزير مسيد دي خدايږو ميړني پراته

غيـبر کې مې شينواري اپريدي لا پخواني پراته

لر خو يوسفزي زلمي دي بر هم دُراني پراته

خوښ چه د ختکو اخکزو د زړګي سر يمه

خدايږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

ډيرې صدی تېرې شوې تېرېـږي د ارمان سره

هر بدخوا ستون شوی رانه خدايـږو د خفګان سره

هر غليم مې وړی د افسوس رومان د ځان سره

ډير مې جنګولی سر د دهر پهلوان سره

تل چه هر غليم ته د غم غشی په ځيګر يمه

خدايږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

زه د ننګ غيرت نه جوړې شوې قافلې لرم

ورشه تاريخ وګوره رنګينې سلسلې لرم

لمر په شان ښکاره د همت ښې سپينې شُغلې لرم

دغو غاړو ترږو کې بې شماره زلزلې لرم

ياد په ننګ غيرت چه دې جهان کې لر و بر يمه

خدايـږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

ډير مې زغلولي غليمان محمدجان خان په زور

څوک مې پرزولي د ايمل او دريا خان په زور

چا ته مې ښولی خپل عظمت د خوشال خان په زور

څوک مې حيران کړي د غازي فخر افغان په زور

تل چه هر غليم ته د غم غشی په ځېګر يمه

خدايـږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

ډيرو راته وار په وار اغزي لار کې کرلي دي

چا لا د ګوندی نفاق تخمونه راشيندلي دي

چا که ډير چالونه د تذوير راغزولي دي

دوی په هر کوهي کې خدای پخپله غورزولي دي

زور د غليمانو ته لښکر د مازديګر يمه

خدايـږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

چا چه په بد نيت سره تش ما پلو کتلي دي

ګاتي يې له سترګو نه په هغه دم وتلي دي

ډيرو قوتونو خپل زورونه آزمئيلي دي

ډيرو چپاوونو خپل اسونه تيزولي دي

ليک چه د اول نه د پښتون قوي سنګر يمه

خدايـږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

هو زه د اول نه د جګرو سره اشنا يمه

مېنه د ميرويس ژوند د خوشال او احمدشاه يمه

لر و بر جهان ته دا په هر ډګر کښې ښايمه

نشم قبلولی اسارت د ننګ دنيا يمه

زړه چه د روښان عمراخان غازي اکبر يمه

خدايـږو هغه مورګه هغه څوکه د خيبر يمه

***

تل مې په لمن کې کاڼي بوټي انقلاب غواړي

شګې مې د غېـبرې تل د ننګ غيرت سيلاب غواړي

هره پرخه تره مې د ژوند آزاد شراب غواړي
هر مرغه مې ځان ته ترانه او خپل رباب غواړي
ساتي مې پردو نه د پښتون د زړه نظر یمه
خدایږو هغه مورګه هغه څوکه د خیبر یمه
***
پروت چه د غلیم مخې ته سد د سکندر یمه

خدایږو هغه مورګه هغه څوکه د خیبر یمه
شاعر: امان الله سیلاب صافی

## خیبر ته اعلان

چه خازې شنې مې په قبر وي ولاړې
که غلام مړ وم راځې تو کۍ پرې لاړې
یا به دا بې ننګه ملک باغ عدن کړم
یا به کړم د پښتنو کوڅې ویجاړې
چه قطرې، قطرې مې پوځ د دښمن نکړۍ
موري ما پسې په کوم مخ به ته ژاړې
چه په خپلو وینو نه یم لمبېدلی
په ما مه پلیتوۍ د جمات غاړې
شاعر: غني خان

## خیبر

خیبر از مردان حق بیگانه نیست
در دل او صد هزار افسانه ایست
جاده کم دیدم از او پیچیده تر
یاوه گردد در خم و پیچش نظر
سبزه در دامان کهسارش مجوی
از ضمیرش بر نیاید رنگ و بوی
سرزمینی کبک او شاهین مزاج
آهوی او گیرد از شیران خراج
در فضایش جره بازان تیز چنگ
لرزه بر تن از نهیب شان پلنگ
شاعر: اقبال لاهوری
د دغې مجموعې د مهتمم امان سیلاب صافي روح دې ښاد وي.


## د دعوت رسنیز مرکز ملاتړ وکړئ

له موږ سره د مرستې همدا وخت دی. هره مرسته، که لږه وي یا ډېره، زموږ رسنیز کارونه او هڅې پیاوړی کوي، زموږ راتلونکی ساتي او زموږ د لا ښه خدمت زمینه برابروي. د دعوت رسنیز مرکز سره د لږ تر لږه 10/$ ډالر یا په ډېرې مرستې کولو ملاتړ وکړئ. دا ستاسو یوازې یوه دقیقه وخت نیسي. او هم کولی شئ هره میاشت له موږ سره منظمه مرسته وکړئ. مننه

د دعوت بانکي پته

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهر د نړیوالو تادیاتو حساب:

NO15 0530 2294 668

د ویپس شمېره: Vipps: #557320

## به مرکز رسانه ای دعوت کمک کنید!

زمان حمایت ما همین اکنون است .هر کمکی، چه بزرگ و یا کوچک، مطبوعات ما را تقویت و از آینده ما محافظت می کند از مرکز رسانه ای دعوت با کمتر از ۱۰ دالر/یورو حمایت کنید - فقط یک دقیقه طول می کشد. اگر می توانید، لطفاً با کمک مالی منظم ماهانه به ما کمک کنید . تشکر.

حساب بانکی دعوت:
DNB AC# 05302294668
از خارج از ناروی:
NO15 0530 2294668
شماره ویپس: Vipps:#557320

## Support Dawat Media Center

If there were ever a time to join us, it is now. Every contribution, however big or small, powers our journalism and sustains our future. Support the Dawat Media Center from as little as $/€10 – it only takes a minute. If you can, please consider supporting us with a regular amount each month.
Thank you
DNB Bank AC # 0530 2294668
Account for international payments: NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320

www.dawatmedia24.com



# د وربښمو کاروان

## چلوونکې او مسئوله: شيبه ګهيځ



**د وربښمو کاروان د دعوت مجلې ادبي برخه ده. په دې برخې کې د شاعرانو او ليکوالانو له پېژاند نيولې تر طنزونو، لنډو کيسو، ادبي ټوټو، ادبي خېړنو او نور بيلابيل ادبي او غير سياسي ليکنې د هنري ذوق خړوبولو او معلومات ورکولو په موخه خپرېږي. د دې برخې د لا پراختيا او غوړيدا په موخه مو د نبک نظر او د قلم خاوندانو د قلم چلولو په هيله يو.**

## خدایه شُکر

خومره کلک لکه د غر شوم - خدايه شُکر، شُکر، شُکر

شـوخونونو نه بهـر شوم - خـدايـه شُکر، شُکر، شُکر

را په مخ وو توپانونه، سخت مزلونه، مات وزرونه

ور ته سد د سکندر شوم - خدايه شُکر، شُکر، شُکر

ما به وېل د دُنياګۍ غم به تالا کړي د يار مينه

نه غلط وم، اوس خبر شوم - خدايه شُکر، شُکر، شُکر

د وطـن لارو کـوڅو کې، لالهانده اروا ګــرځم

زې ملنګ او قلندر شوم - خدايه شُکر، شُکر، شُکر

کلابند يې کړم يادونو، ترې وتی نه شم ملګرو

بنديوان يې د نظر شوم - خدايه شُکر، شُکر، شُکر

**عبدالعزيز نايبي**

ستاکلهم، سويدن



## د ژړا تصوير ته ژړا

**عبدالوکيل متين**



زړه مې سم درسره ژاړي له ژړا نه دې لوګی شم
څه رشته مې درسره ده؟ واوېلا نه دې لوګی شم
شراکت د وينې نشته نه په هډ راسره يو يې
په احساس لګوې ګوتې له غوغا نه دې لوګی شم
له ګواښونو د وحشت نه دې ځان ربړېدي لکه پاڼه
په سينه کې د ماشوم زړه له درزا نه دې لوګی شم
پرون تېر شو د مرګ غېږ کې نن تصوير د پرون ورځې
کاشکې زېری د ژوند راوړي له سبا نه دې لوګی شم
د جهان غېږه ده تنګه که نصيب کې دې غېږ نشته
غېږ د مور کې د سلګو د تماشا نه دې لوګی شم
څوک له خاورو ايستل کېږي څوک ښخېږي بې کفنه
پاکه ربه! ستا رضا ده له رضا نه دې لوګی شم
ما متين ته رانژدې شه چې دې اوښکې کړمه پاکې
د ښېرو اثر دې نشته خو دُعا نه دې لوګی شم

کليفورنيا -اکتوبر – ۲۰۰۴

** – دا شعر د يوه جنګړپلي ماشوم د تصوير انګېزه ده.

# خوبښ او ناخوبښ ژوند

**لیکواله: نازنیګاره مومینزی**

ژوند: کله چې یو څوک خوشحاله وي ژوند ورته یوه ډالۍ ده.

د ژوند هر رنګ یې روح تازه کوي، د کال له هر فصل نه بېل بېل خوند اخلي. پسرلی د وصال موسم ګڼي. له هر رسنګ سره یې زړه داسې تازه کېږي، لکه د شبنم پر څاڅکو چې ګل تازه کېږي، د پسرلي هوا ورته یو عالم هیلې راوړي. د باران د څاڅکو شرنګا او د لمدو خاورو بوی یې له پسرلي سره نوره هم مینه زیاتوي.

اوړی: اوړی د نعمتونو موسم ګڼي ځکه هر ډوله سابه او مېوه پکې پیدا کېږي. د غرمې دوه ساعت خوب لازم ګڼي. د ماسپښین چای یې له تورو توتانو سره خپل عادت جوړ کړی وي. مازدیګر د دیدنونو مجموعه ګڼي، ماښام د چنچڼو له غږ نه خوند اخلي.

منی د کال زېرمه ګڼي، لکه غله او لرګي اخیستل، لاندی کول، کله چې له ونو پاڼې توییږي مثبت فکر کوي، چې ونې ټول کار ستړې وي وایي دا د ارام وخت دی.

ژمی خو نږدې له خونده مړه کېږي، د واورې سپین څاڅکي له ملغلرو نه هم مهم ګڼي، د لاندې د غوښو بوی ته چاغېږي، که له بامونو واوره غورځوي هم ورته خوشحال وي، د یو بل کره برفي اچوي او له مېلمستیا خوند اخلي.

ژوند: کله چې یو څوک خفه وي ژوند ورته یو عذاب دی.

د پسرلي هوا یې په زړه کې داسې تېرېږي را تېرېږي لکه په زړه کې یې چې سوری وي. زړه یې یو ډول درد ورسره کوي او تېر وخت ور یادوي، د باران سره یې اوښکې ګډې په ځمکه څي. اتاق تیاره ورته ښکاري، د باندې یې زړه تنګ وي، هېڅ ځای د کېناستلو لپاره نه لري.

اوړی: د اوړي غرمه خو پرې داسې بده لګېږي ته به وایې څوک یې اور ته ورغورځوي. د غرمې چوپتیا یې زړه خوري، د مازیګر یواځیتوب یې زړه دردوي.

منی خو هسې هم د جدایي موسم دی، د خپل ځان زوال په لوېدلې پاڼه کې ویني. خپله د غمو پنډه پر شا او د بې وسه سوداګر غوندې له کلي ځي.

ژمی: له ډېر لرې نه د خپل کلی ژمی په یاد کې انځوروي د تېر وخت له خوښیو او فکرونو سره سر په بالښت ږدي، سهار د حال له غمونو سره پاځي. پاتې ورځ د راتلونکي ژوند د ژر ژر تېرېدو لپاره ځان مصروف ساتي.

«د ژوند لمحې مې له سلګو سره بدلې نه شوې
سبا که خیر و د خندا مې اراده کړې ده»






## له وخت مخکې پریکړه

د رياضي ښوونکي د دوهم ټولګي د زده کوونکي څخه پوښتنه وکړه.

چې په کور کی څو کسان یاست ؟

زده کوونکي وويل چې پنځه کسان يو.

ښوونکي وويل که دا پنځه کسان په یوه کوټه کی کینوې نو د دوی د پښو شمېر څو کیږي؟

ماشوم زده کوونکي وويل اووه کیږي .

ښوونکی په غوصه شو او ورته يې وويل ته ولې خپل درس ته پاملرنه نه کوې.

۵ ضرب ۲ څو ۱۰ کیږي.

زده کوونکي په ډیرې مایوسۍ سره ځواب ورکړ.

استاده هر څوک دوه پښې نه لري زما د پلار دواړه پښې په یوه چاودنه کی پرې شوي دي د خور مې هم یوه پښه غوڅه شوې ده.

که دا پوښتنه د زما د ورور د واده څخه وړاندې کړې وای نو زما جواب به څوارلس وو.

کله چې مونږ د ورور ناوې راوړله نو زمونږ په موټر چاودنه وشوه مشر ورور او مور مې شهیدان شول پلار مې دواړه پښې او خور مې یوه پښه د لاسه ورکړه.

اوس مونږ پنځه کسان یو او اوه پښې لرو

استاذ سر ټیټ کړ او له ټولګي څخه په ژړا ووت.

نوټ هیڅکله د وخت مخکې پریکړه مه کوي ځکه ډیر داسې شیان وي چې مونږ ته سم ښکاري خو هغه غلط وي او ډیر داسې وي چې غلط ښکاري خو هغه سم وي.

نوټ: هیچا ته په ټیټ نظر مه ګورئ

## تور او سره میږیان

وایي ۱۰۰ تور میږیان او ۱۰۰ سره میږیان چې په یوه بوتل یا ډبې کې واچوې، نو هيڅ نه پیښیږي، خو که بوتل/ډبې وښوروې، نو میږیان به د یو او بل په وژلو شروع وکړي، سره میږیان فکر کوي چې تور میږیان د دوی دښمنان دي، او تور میږیان فکر کوي چې سره میږیان ددوی دښمنان دي، خو اصلي دښمن هغه دی، چا چې دا بوتل ښورولی وي.



*په انساني ټولنه کې هم همداسې کیږي. مخکې له دې چې په یو او بل برید پیل کړو دا فکر باید وکړو چې دا بوتل څوک ښوروي.

## د بغداد د ښار تجار او بهلول

یوه ورځ د بغداد د ښار تجار بهلول ولید او پوښتنه یې ورنه وکړه: ګرانه بهلوله! څه شی واخلم چې ډیره ګټه پکی وکړم؟

بهلول: اوسپنه او پنبه واخله.

تجار اوسپنه او پنبه واخیسته او د څو ورځو وروسته یې ډیره ګټه لاسته راوړه.

تجار دویم ځل بیا راغی او بهلول ته یې وویل: لیونیه! څه شی واخلم چې ډیره ګټه پکی وکړم؟

بهلول وویل: پیاز او هندوانې.

تجار پیاز او هندوانې واخیستې او د څو ورځو وروسته یې ټولې هندوانې او پیاز خوسا شو، تجار مجبور شو او ټول مال یې په سیند کې واچوه، ډیر تاوان ورته ورسید.

تجار فوراً بهلول ته ولاړ او ویې ویل: ای بهلوله! څه ډول مشوره دې راکړې وه؟

بهلول وویل: اول ځل دی د هوښیارانو په ډول راسره مشوره کړې وه او ما هم عاقلانه مشوره درکړه. دویم ځل دی ماته د لیونی خطاب وکړ ماهم د لیونیانو په ډول مشوره درکړه.

# اولادونه



عبدالوکیل سوله مل

د ماښام له لمانځه وروسته مریدان کرار کرار یو په بل پسې د پیر کرامت اغا له کوره ووتل. پیر چې څنګه له وروستي مرید سره مخه ښه وکړه، په لوړ آواز یې د یو پوځي بولندوي په څېر په لوړغږخپل خدمتګارته بولنه ورکړه:

ـ هلکه نور هېڅوک مه را پرېږده!

خدمتګار په سینه لاس کېښود. د هغه مرېي په څېر کړوپ شو چې په پخوا زمانو کې به د خپل بادارمخ ته ودرید او رسم التعظیم به یې وکړ:

ـ په سترکو قربان!

ـ پیر کرامت د ودانۍ دویم پوړ ته پورته شو، تشناب ته لاړ، لاسونه یې څو ځله کلک په صابون ومینځل، ده به تل دا خبره خپلو مریدانو ته کوله:

ـ خلک موږ ته له پاچا او شهزاده ګانو څخه هم ښه ګوري، خو له پاچا او شهزادګانو سره مو دا توپیر دی چې د پاچا ساتونکی خلک نه پرېږي چې لاسونه یې مچو کړي. خو موږ دا پابندي پر چا نشو لګولی ځکه که موږ دا کار وکړو بیا تاسوخنګه کولی شئ چې زموږد شفا بخښو لاسونو خیري له ستوني تېراوډ کرامت لاړې مو وڅکئ.

پیر خپلې ځانګړې کوټې ته ننوت. له الماری یې د ویسکې بوتل را پورته کړ. پیاله یې له شرابو ډکه او پر سر راواړوله . مخامخ پخلنځي ته یې پښه ور ماته کړه، یخچال ته ودرید، خپله ځانګړې سلاته یې له ځان سره را واخیسته او مخامخ خپلې کوټې ته بیرته وروګرځېد، سلات یې په مېز کېښود.

ده به تل د شرابو لومړی پیاله په وږې ګیډه له ستوني تېروله او نور به یې له خپلې ځانګړې سلاتې سره څښل، په مړه ګیډه شراب یې نه یوازې نه خوښیدل، بد پرې لګیدل او را ګرځول یې.

لږه سلاته یې لا نه وه خوړلې چې له بوتل یې تشې پیالې ته نور ویسکي ور واچول، پیاله یې پورته کړ ه خو لا یې نیمایي پیاله په سر نه وه را اړولې چې دروازه وټکېده، پیاله یې بیرته پر مېز کېښوده. دروازې لور ته یې خوله ونېوه:

ـ څه خبره ده؟

خدمت ګار د دروازې له شاه را غږ کړ:

ـ باداره یوه ښځه راغلې!

د پیر تندی ګونځې شو په غوسه یې ورغبرګه کړه:

ـ څوک ده؟ په دې ماښام څه غواړي؟

له ځایه راپورته شو ـ خو مخکې له دې چې دروازه پرانیزي او له خدمتګار نه د ښځې په اړه پوښتنه وکړي، په ګیلاس کې پاتې شراب یې ټول په سر واړول. د چڼو له قاب یې لپه چڼې خولې ته واچولې، په خوله یې لاس وواهه، پزه یې پاکه کړه، بوتل یې د میز لاندې کېښود. ورغی، دروازه یې پرانیسته، خدمتګار ته یې په غوسه ور وکتل:

تاته خو ما ویلې ؤ چې څوک مه راپرېږده! ته نه پوهیږې چې دا زما د ذکر وخت دی؟

د خدمتګارسر ځوړند شو:

پوهیږم خو دا ډېره شله ښځه ده، وايي چې تاسو پیژني!

پیر په غرور ور غبرګه کړه:

ـ نه وینې چې هره ورځ څومره خلک دلته راځي او کومه ولسوالۍ او ولایت به وي. چې ما دې مریدان هلته ونه بولي او ونه پالي!؟

خدمتګار لاړې تېرې کړې:

ـ پوهیږم باداره ما ویل هسې سیاسره ده چې په دې ماښام راځې نو ....

پیر د جملې بشپړیدو ته پرینښود:

ـ ځوانه ده که زړه ده؟

پیره دار په فکر کې لاړ د هغې څیره یې ذهن ته راوسته. اټکلې یې وویل:

ـ والله څه ووایم پیر صیب ستا په عمر به وي.

پیرلاس پورته کړ:

ـ څه بلنه ورکړه!

ښځه راننوته، د پیر په وړاندې ودریده. پیر په خپل لوی سالون کې اینښې کوچ ته لاس ونیوه:

مهرباني وکړئ ،دلته کېنئ!

ښځې پر مخ را خور کړی حجاب وغورځاوه. پیر مسکی شو او په ملنډو یې وویل:

په دې عمر او حجاب؟ له چا ډاریږې؟ اوس خو د طالبانو پاچاهي هم ړنګه ده، جمهوریت دی!

میرمن لکه د پیر خبره چې هیڅ اوریدلې نه وي هیڅ ځواب ور نه کړ. کراره کیناسته پیر یې څهرې ته نور هم ځیر شو په لاس کې نیولې تسبیح یې په میز کیښودلې.ښځې ته یې وویل:

ـ خورې، خیرت خو به وي ؟

ښځې جدي څیره ونیوله!

ـ که خیریت وای نو په دې ماښام به څنګه ستاسو تر درګاه راتللم؟

پیر په معنا دار انداز ور وکتل:

ـ مراد دې وواېه؟

د میرمن اوږې وښوربدې، نیغه کیناسته. مراد نه دی شکایت دی، عریضه ده پیر صیب!

پیر وپوښتله:

ـ له چا شکایت دی، چاته عریضه کوې؟ زه که د خدای په زور او د نیکونو په برکت له ظالمانو د مظلومانو حق اخیستی شم. نن سبا په خپل وکالت او ولایت له حکومت سره هم جنګیدی شم. هیڅوک مې مخ ته نشي دریدلی.

ښځې سر وښوراوه ، شا او خوا یې وکتل په سر راخور نری شال یې په سر را سم کړ لکه عریضه چې ترې هیره شوې وي یا د خپلې غوښتنې او شکایت په بیان کې پاتې راغلې وي، د مخامخ ځواب په ځای یې خبره بله خوا واړوله:

زه دې ونه پیژندم؟

د پیر سترګې وځلیدې، بانه یې پورته ونیول، په حافظه یې زور راوړ، ښځې ته د جنایي مامور په څېرسر تر پایه ځیر شو. میرمن د ده د فکر تنابونه وشکول:

ـ ملامت نه یې زما او ستا په لیدوپنځه و یشت کلونه اوښتي دي.

پیر ټوپ کړ، په څرخکي څوکۍ کې ۱۸۰ درجې راتاو شو، د ماشوم په څېر یې لاسونه وپړکول:

پنځه ویشت کلونه؟

بیا یې وویل:

ـ نو ته پوهیږې چې په پنځه ویشت کلونو کې به ما څومره ښځې خپل مراد ته رسولې وي؟

د ښځې له خولې ووتل:

ـ په سلګونو!

پیر چې د سلګونو عدد واورید نور هم ځان ته غره شو او په باټو راغی:

سلګونه نه میلیونونه! هیڅ داسې ولایت او ولسوالي به ونه مومې چې زموږ له مریدانو خالي و اوسي. تاسو به هم خامخا زموږ د مریدانو له جملې یاست؟

میرمن وخندل:

ـ زه نه یم خو خاوند او ټوله خسرګنۍ مې ستاسو مریدان وو.

د پیر په شونډو مسکا خپره شوه:

ـ ښه ډېر ښه، هغه اوس چیرې دی؟

ښځې په غمجن غږ ځواب ورکړ:

ـ هغه اوس مړ دی!

پیر لاسونه لپه ونیول:

ـ خدای دې وبخښي، همدې کورته به راغلې وي؟

ښځې یې خبره تائید کړه:

ـ هو همدې کور ته!

پیر پوښتنه وکړه:

ـ کوم مراد مو درلود؟

ښځه غلې شوه لکه په ځواب چې شرمیده. په شرمناک غږ یې وویل:

ـ شنډه وم!

پیر د پوښتنو لوی قطار د دې مخ ته جوړ کړ:

ـ بیا دلته پاتې شوې؟

میرمن سر وخوځاوه:
ـ هو!
څومره؟
میرمن ځواب ورکړ:
دوې میاشتې!
پیر ته زاړه یادونه ورياد شول:
ـ ښه ښه! هغه وخت زه ځوان وم! په یاد مې دي مریدانو به شنډې میرمنې په دې کور کې پریښودې بیا به د دې کور په برکت خدای د هغوی نطفه زرغونوله اود اولادونو لورینه به پرې کېده.
تسبېح یې بیرته په لاس کې ونیوې په شمېرلو یې بوخت شو. په سالون کې ځوړند لوی تصویر ته یې لاس ونیوه:
ـ زما پلار به دې هم په یاد وي کنه چې څنګه نوراني انسان ؤ؟
میرمن هم هغه تصویر ته سترګې ونیوې چې د پیر سترګې په کې ښخې شوې وې، د خپل پلار او مریدانو په ستاینه یې وویل:
ـ ډېر نوراني انسان ؤ! هیڅ دم او دعا یې بې تاثیره نه وه. د هغوی د دعا په برکت څومره شنډې میرمنې امیدواره شوې، خامخا به ته هم خپل مراد ته رسیدلې یې او د اولادونو دروازه به خدای تعالی درته پرانیستې وي. خدای دې وکړي چې اوس څو درجن نیک صالحه اولادونه ولرې.
ښځه تر ډېره غلې وه، لکه خوب یې چې یوسي، پیر وویل:
ـ په دې ځمکه چې چا قدم ایښی هیڅکله به بې مراده کور ته نه وي ستنه شوې.
د خپل کور لوی باغ ته یې لاس ونیو:
ـ په دې کور کې چې داسې ونې او بوټې زرغونیږي همداسې پکې خدای د شنډو ښځو نطفې هم زرغونوي.
ښځه لکه له خوبه چې راکینې په ځوکې کې رانېغه شوه، خندا ورغله:
ـ خو زه په دې کور کې نه یم امیدواره شوې.
پیر بیرته تسبیح په میز کیښودې په خپله منډۍ ږیره یې لاس واهه:
ـ څه یې کوې څه دلته څه هلته، خو د دې کور، خاوره او زموږ د پلار دم او دعا وه.
ښځې د نفې په حالت سریو او بل لور ته وښوراوه:
ـ نه صیب نه، زه نه دې کور حامله کړې یم او نه ستا د پلار دم او دعا.
د پیر سترغلي وپړسیدل، لکه د خپل پلارتوهین چې حس کړي، په لوړغږ یې وویل:
ـ نو چا؟
ښځې لاس پورته کړ:
ـ له تا امیدواره شوم!
پیر ځان ته لاس ونیو:
ـ له ما؟
میرمن هغه ورځ او شپه  وریاد کړه چې پنځه ویشت کلونه مخکې همدې کور ته له مېړه سره راغله:
ـ تا ته نه دریادیږي؟ چې راغلې او زه دې له ځان سره بل کور ته یوړم، هلته چې د همداسې نجونو مکمله  ډلګۍ وه او تا  به هره شپه یوه یوه بل کور ته د خپل پالنګ مېلمنه کوله!
پیر لکه ځای په ځای چې په زنا ونیول شي او د امربالمعروف ادارې ته  یې څوک خبر ورکړي. له ویرې ورپیده ، سترګې یې مړې ونیولې رنګ یې ژیړ راواوښت. راپورته شو غاښونه یې په شونډو کې ښخ کړل، لاسونه یې یې کلک موټی کړل، تا به ویل چې په میرمن وار کوي. بیرته کیناست، میز یې کلک په سوک وواهه!
ـ دا درواغ دي، دا زما او زما د کورنۍ په وړاندې یوه پلان شوې دسیسه ده.
د ښځې شونډې وخوځیدې خندا ورغله غوښتل یې څه ووایي، چې پیر له ځایه پورته شو، د دې مخ ته ودرید:
ـ ووایه چا پرسولې یې ؟ څه غواړې؟ که ښځه نه وای سمدلاسه مې مخامخ له دې ځایه بندي خانې ته بیولې!
د خپل زور او قدرت په څرګندولو یې خوله پرانیسته:
پرون مې په همدې ځای کې، په یو ځوان لیکوال چې زما نیکه یې په خپل کتاب کې  ((بغدادي پیر)) بللی ؤ توبه وویسته.
خو ښځه د ده ډرکو او ګواښ ونه وبیروله:
ـ خو زه دروغ نه وایم پیر صیب!
پیر بیا میز کلک په سوک وواهه:
ـ ته دروغ نه وایې خو ته یې مجبوره کړې یې چې  دروغ ووایې
ښځې په ورو وویل :
ـ چا
ده په قهر ور غبرګه کړه:
زما بد خواهانو او دوښمنانو ،چې سبا تېولې رسنۍ زما او زما له کورنۍ بنګې وباسي.

بیا یې وپوښتل:

ـ چې دروغ نه وایې نو څه ثبوت لرې؟

ښځې خپل لاس بکسې ته لاس ننویست، څو پخواني عسکونه یې ترې را وویستل، د پیر مخ ته یې ونیول. پیر عکسونو ته ځکې سترګې ونیوې، ښځې په عکس ګوته کېښوده:

دا هغه ډنډ دی چې ما او تا پکې په ګډه لامبل!

او بیا یې بل عکس را واخیست:

او دا هم هغه باغ دی چې د یوې ونې لاندې دواړه ولاړ یوو!

په پیر خولې راماتې شوې، سر پرې وګرځېده، د لیونې په څېر یې له غوسې ټوپ واچوه ، د ښځې له لاسونو یې عکسونه را واخیستل. ځیرې ځیرې یې کړل. خو ښځې یې د غوسې هیڅ پروا ونکړه خندا ورغله:

ـ ته به کوم عکس څېرې کړې پیر صیب، له ما سره دې د داسې عسکونو بشپړ البوم دی!

پیر له غوسې چیغه کړه:

ـ نو چې دی درسره ، څه ؟ ته اوس له ما  څه غواړې؟ د سکوت بیه دې وایه؟

ښځې وخندل:

ـ زه له تا هیڅ نه غواړم زه دعوې ته نه یم راغلې او نه تیر یادونه تازه کوم.

پیر اوږې وښورولې:

ـ نو څه غواړې چې په دې تیاره ماښام کې زما ذکر او فکر خرابوې، هم ما ګناهګاروې او هم ځان!

ښځې په ارامه وویل:

ـ زه د دعوې او لانجې ښځه نه یم،عرض او داد لرم!

د پیر تندی وغوړېد په مهربانه لهجه یې وویل:

ـ ووایه د څه شي عرض ؟

میرمن خپل داد ور واوروه:

ـ زوی دې  زما له لور نه منع کړه!

ـ د پیر سترګې سپینې را واوښتې، شونډه یې تر غاښ لاندې کړه:

زما زوی ؟

د ښځې غوسه راوپاریده، بې له ویرې بې زړور ځواب ورکړ:

ـ هو، ستا هغه لوچک زوی  زما لور ته هره ورځ لار نیسي !

پیر غلی ؤ. بیا یې وویل:

ـ لور دې څه کاره ده؟

د طب محصله!

پیر وخندل، خبره یې په ټوکه واړوله:

ـ خفه کیږه مه، خو خوښیږي به یې!

د ښځې د غوسې رګونه راوپاریدل، له ځایه راپورته شوه لاسونه یې پورته واچول، پورته او ښکته لاړه او راغله:

ـ لاحول والله  دا څه کفر غږوې؟

پیر چوکۍ راشاته کړه:

ـ ولې خدای دې نه کړي؟

دا ځل ښځې کلک له میز ډب پورته کړ:

ـ هغه یې خور ده!

په پیر سر وزنګیده، په زړه یې لاس کېښود:

ـ دا څه وایې هغه زما لور ده؟

میرمن سر وښوراوه:

ـ هو!

پیر له ځایه راپورته شو، دلاسونو پنجې یې یو پر بل کې ورکړې، ښځې ته یې وویل:

ـ بس د خدای روی ومنه چې په هرڅه برغولی کیږده، یوه اونۍ دې لور له کور څخه د باندې مه راپریږده ،هسې هم بله اونۍ د هغه کوژده ده، له هغې وروسته یې په دا سبا  لندن ته پرواز دی. تر یو کال پورې نه راګرځي چې راوګرځي سمدستي یې واده دی.

د ښځې رنګ وغوړیده، کرار یې وویل:

لږ په دې ښار کې د خپلو بې شمېره اولادونو، خویندو او مېندو پوښتنه کوه.

پیر په ځای کې نېغ ودرېده، له غوسې لړزېده، ښځه له ځایه را پورته شوه. حجاب یې په مخ راخور کړ پرته له دې چې شاته وګوري، د پیر له کور روانه شوه.

لندن ـ انګلستان

جنوری ـ ۲۰۲۴



# زما شين سترګي ګاونډيان

## (يوه اوږده، ژوندۍ خاطره)

**عبدالعزيز نايبي**

ستاکلهم، سويډن

لمرخاته سره سم له کوره ووتم. ژمی و، چې له خولې به دې تپ ووت نو په هوا کې به د لګېدلي سګرټ د لوګي په څېر تاوراتاو وګړېد او بيا به د نرۍ ورېځې غوندې په تېزۍ سره په هوا کې ورک شو. په کوم کور کې چې اوسيدو، نوې ورته راکړه شوي وو. د کورونو شرکت لا موږ ته د موټر پارکځای نه و پيدا کړی، ما به خپل موټر لرې د عمومي سړک پر غاړه دراوه. په دې ورځ مې تادي وه، ښه چټک د موټر په لور ورخوځېدلی وم. کله چې پارکځای ته ورسېدم کاته مې کوم چا په برفپاک د موټر پر ښيښې باندې يو ياداشت ورټومبلی دی، کاغذ مې چې راواخيست څو لنډې کرښې پرې داسې ليکل شوې وې:

- سلام! ما سره د هغه ټيلر عکسونه شته چې ستا د موټر دروازه يې وهلې ده؛ که عکسونه غواړې د تليفون په دې شميره ما ته زنګ ووهه...

د ياداشت تر لوستلو وروسته مې سمدلاسه د ماين پاکونو په څېر د موټر د دروازو پلټنه پيل کړه، کاته مې چې رينښتيا يوه دروازه ښه چيته او شکارې شوې وه. د ياداشت ليکونکي ته مې زنګ وواهه، تر تليفوني سلام او لنډې مکالمې وروسته مو سره وخت کېښود چې بيا ورشمه او عکسونه ترې واخلم. موټر مې همغسې په خوړلي ټپ چالند کړ او پکې کار ته ولاړم. مازديګر چې رخصت شوم، راساً د سړي کور ته ورغلم. همدا چې دروازه مې ورټکوله، يوناڅاپه د دروازې له شا څخه د سپي غپاهارۍ شو، زړه يې رانه بوټ وښکه، سخت يې انديښمن کړم چې له دې بلا سره به اوس څه کوم؟ لږ شيبه وروسته د پاخه عمر يو کس چې ويښته او ږيره يې ټول لکه مالوچ سپين شوي وو او د سترګو ګاتې يې د شنوو غميو په څېر ځلېدل دروازه پرانيستله، هغه په ورين تندي کور ته د ننوتلو بلنه راکړه. ښايي زما په څېره کې يې له سپي څخه د ويرې کومه نښه ليدلې وه ځکه يې په سترګو کې څه شفر ور تېر کړ او هغه هم لکه فرمانبرداره عسکر مړه غوږونه، پر کوچ غلی،غلی د برنډې خواته ورروان شو، هلته په وره کې کښيناست، د پښوو پر سر يې اوربوز کېښود - نرۍ، نرۍ سونګا يې ختله، سترګې يې په ما کې راخښې کړې، خو نور يې څه نه ويل.

سړي ځان راوپېژاند، هغه متقاعد ښوونکی و چې ښځه يې پخوا مړه شوې وه او اوس يې په دې کور کې له خپل سپي سره يواځې ژوند کاوه. ما هم ځان وروپېژاند، ورته ومې ويل چې ګاونډيان يو او په څنګ بلاک کې يې ژوند کوم. سړي د قهوې له ست وروسته کيسه داسې پيل کړه:

- پوهېږې؟ د يواځېتوب راغلي سين مې خوب له ځانه سره وړی دی. سهار وختي مې په کوټې کې ګزمې وهلې، يو ځل له اورسۍ سره ودرېدم او دباندې مې د سړک ننداره کوله، پدې کې مې يو لوی موټر ته پام شو چې اوږد ټيلر پورې ترل شوی و او د سړک په منځ کې يې زورونه وهل چې راتاو شي، په تېروېږ کېدو کې يې ستا د موټر دروازه ووهله، ما کمره راواخيستله او ژر، ژر مې څو عکسونه ترې واخيستل. ګاونډي د خپل لپټاپ مخ ما ته راواړوه، عکسونه مې وليدل، جالب خو ځورونکي وو، له هغه



څخه مې هيله وکړه چې ما ته يې راولېږي، هغه هم سمدلاسه دا کار وکړ. د سپي د نابره بريد له ويرې مې ځان ګاونډي ته ښه ورنېږدې کړی و، تر لنډ او صميمي مجلس وروسته مې له هغه څخه رُخصت وغوښت، د مرستې لپاره مې ورڅخه مننه وکړه، په احتياط او ورو ګامونو يې له کور څخه ووتم.

پوليسو سره مې خپل شکايت له وړاندې ثبت کړی و، د پېښې عکسونه مې د ثبوت لپاره ورولېږل. هغو د يوه ايميل په رااستولو له ما غوښتي و چې د ټيلر نمبرپليټ ورته پيدا کړم. د دوی غوښتنې ته هک حيران وم، د څو ايميلونو له تبادلې وروسته پوه شوم چې کيسه څه ده؛ کوم نمبر پليټ چې په عکسونو کې ښکارېده هغه په لوی موټر پورې د بُکسل شوي ټيلر و؛ اصلي نمبرپليټ د موټر او ټيلر په نښتې برخه کې پټ شوی و. پوليسو غوښتل چې د دوي کار هم زه وکړم، ان موټروان ورته پيدا کړم،

پداسې حال کې چې د پېښې ځای، وخت، د باروړونکي موټر عکسونه، د ټرانسپورټي شرکت نوم او د ټېلر نمبرپلیت نغد ورسره وو، خو دوی تېاره مړی غوښته؛ نور یې ګډوډو ستومانه کړم او د رسۍ سر مې ورخوشې کړ. څو ورځې وروسته په پُستبکس کې د پولیسو د اداري یو خط رالوېدلی وو. په خط کې د ټېلري موټر چلونکي ته برائت ورکړل شوی و او زما د موټر زیانمنېدل یې مازې یوه پېښه بللې وه. ځان سره مې کړل چې ښايي موټروان یا هم هغه شرکت چې ده ورته کار کاوه څه چل او هنر څخه کار اخیستی وي چې ځانونه یې د پولیسو له منګولو څخه خلاص کړي وو، کنه د پېښې له سیمې څخه تېښته د موټروان د لایسنس د له لاسه تللو په بیعه تمامېدای شي، جریمه یې هم سرباري! په هرصورت د بیمې شرکت زما د موټر دروازه بدله کړه او له دې سره مې ایله ډډې ولګېدې.

دوه، درې کاله مو په دې کور کې سره تېر کړل، بچیان رالوی شوي وو او کله، کله به یې د ځای له تنګوالي څخه سر ټکاوه. د یوه لوی کور د موندلو په لټه کې شو. هله، هله له ډېرو خوارېو او هڅو وروسته مو یوه ټوټه مځکه واخیسته ترڅو پکې د ګذارې وړ یو کور اباد کړو. ځیني شرکتونه وو چې تیار کورونه یې خرڅول؛ د لرګیو کورونه چې په لنډه موده کې به جوړ او هستوګنې ته برابر شول. له همداسې یو شرکت سره مو خبره وروستۍ کړه او یو کور مو ترې واخیست. له شرکت سره مو جنجال هغه مهال راپورته شو چې له ټاکلي موعود څخه یې یواځې څو ورځې وړاندې خبر راکړ چې د کور د بسته بندۍ لپاره به د برق غم موږ په خپله خورو؛ د کور د بېلو، بېلو ټوټو په ترړلو کې برق ته اشد ضرورت وي. د برېښنا مسوول شرکت سرغړاوه او پلمه یې دا وه چې دوی ته د کور جوړولو شرکت ناوخته خبر ورکړی دی، ځکه نو برق په خپل وخت نه شي رارسولی. پوره یوه اونۍ مو دواړو لورو سره نانډرۍ رواني وې، له بلې خوا خبر راکړل شو چې کور هم تیار په ټېلروو کې بار راروان دی؛ ښه اوس څنګه کوې!؟ بلاخره دوی موږ سره د ټګ او ټګمار لوبه پېل کړه؛ وړاندیز یې دا و چې د برېښنا شرکت به موږ ته د لنډې مودې لپاره د برېښنا یوه ګرځنده دستګاه راوړي چې د برق له عمومي جنبکس څخه یې برېښنا تامینیده او زموږ اړتیا یې پوره کوله. په هغه تنګ وخت کې ښه خبره وه، خو دې خدای ناترسو په بدل کې پوره څلوېښت زره کرونه غوښتې، زموږ حال داسې وو چې په جېبونو کې مو د موږک لکۍ نه سپېره کېده خو دوی لکه د ښاروالۍ رشوت خوره مامورین، له موږ څخه د غوړې مړۍ حصول کاوه.

حیران د خدای پاتې وو چې څه وکړو؟ کور ته د مځکې د برابرولو اجاره دار مو هم لړمون راخوړین کړی و، هغه د تادوو په جوړولو کې ناغیـري کړې وه او پښې یې په یوه موزه کې ننویستې وې چې خپله خطا به ونه مني. خیر، پیسې یې له موږ سره قید پرتې وې، تر هغو مو ورنکړې چې خپل کار یې سم نه و ترسره کړی.

د کورجوړولو او برېښنا شرکت ته مو لا غوټ ځواب نه وو ورکړی چې دا ده بله ورځ بار موټر راورسېدل او کور یې راوړ. له رسېدلې جوپې سره راغلي کارګر د بالکان د کوم هېواد وګړي وو، په ژبه سره سم نه پوهېدو، بس سرونه مو یو بل ته خوځول او په اشارو غږیدو. د کور بېلې ټوټې څنګ په څنګ په تادوو باندې کېښودل شوې، د چت جوړېدل او دننه میده کاري یې ټوله پاتې وه. د هغې ورځې په مازدیګر چې کارګرو کار بس کړ، باشي یې موږ ته راغی، په ګوډه ماته انګریزي او د اشارو په ژبه داسې چالان شو:

- برق خو نه لرئ، زموږ د ماشینونو چارج خلاص ده، لوی ماشینونه هم په برق چلېـږي، تر سبا موږ برق غواړو، بې برقه کار نه کېـږي!

د دې کارګرو د کار مهال ویش ثابت وي، موږ سره د جوړجاړي او خبرو لپاره هېڅ تیار نه ول، لنډه دا چې د وخت هره شیبه یې په اشرپیو خرڅاوه. دې خلکو کې یو څه د ادب او تهذیب کمی هم و، په منډه ول، پزې یې جګې نیولې وې، د امریکایي کاوبایانو په څېر یې چسپ پتلونونه کش کړي وو، توري عینکې یې په سترګو کړې وې، ته وا د کمانډو د کوم ټولي سرتیري دي؛ د ملخوغوندې یې پیکپ موټر ته ورټوپ کړل او خپل ناپېړته حضور یې له موږ څخه کم کړ. زه او مېرمن مې په مېدان پاتې شو او د یو بل په سترګو کې مو د اندېښنو د لګېدلي توپان ننداره کوله. په همدغه ګیر توپان کې مو ناڅاپي فکر څنګ ګاونډې ته واوښت؛ لکه اوبو وړی چې هر بوټي ته لاس اچوي، خو ماښام مو د هغو د کور دروازه وروټکوله. له ګاونډیانو سره مو پخوا یو دوه ځلې ناستې ولاړې شوې وې او یو څه سره اشنا وو. «بېنکې» دروازه پرانیستله وروپسې یې مېرمن «انا» هم را ښکاره شوه، روغبړ مو سره وکړ - «انا»، «بېنکې» ته مخ واړاوه او ورته وېې ویل:

- په وره کې مه درېـږئ ساړه دي، راځئ دننه به خبرې وکړو!

د فرشي کوټو په څېر یې د پخلنځي او ناستې کوټې ترمنځ کوم دېوال نه و، لکه د بار یو لوړ میز سره په جګو څوکېو کښیناستو. «انا» د قهوې په جوړولو بوخته شوه، «بېنکې» پداسې حال کې

چې جدي پوز نيولی و خپلې عينکې په ګوتو ښکته‌پورته وښورولې او بيا يې زموږ د نابره ورتګ پوښتنه وکړه:

- خيريت خو دی؟ څنګه مو ناڅاپه دېخوا پښه وکړه؟

د برق د جنجال کيسه مو ټوله ورته تېره کړه، «انا» او «بېنکې» په ډېر افسوس او زړه سوي سرونه ښورول - په خبرو، خبرو کې مو ورڅخه زړه نا زړه د برق د پور غوښتنه وکړه.

«بېنکې» چې زموږ ستونزه درک کړې وه بې له کوم ځنډ او فکر څخه د خپل ګاونډيتوب شنګ وښود، په شنو سترګو کې يې د کاکاتوب بريښنا وځلېده او ويې ويل:

- په کور کې کېبل نه لرو، يو راپيدا کړه، برق به موږ درکړو، بېغه اوسئ!

د دې خبرې په اورېدو له خوشحالۍ څخه په جامو کې نه ځايېدوو، ګاونډې تنګ وخت کې لاس راکړ او موږ يې له جنجال څخه خلاص کړو. په سبا يې «بېنکې» ټوله ورځ له موږ سره سرګردانه تېره کړه او تر هغو پورې کور کې کرار کښېنناست، څو چې زموږ برق نه و وصل شوی. د نوي عيسوي کال له رُخصتيو وروسته د بريښنا شرکت ايله موږ ته برق راکړ؛ دا چې ناغيرې يې کړې وه په يوه ليک کې يې د ځنډ او غلط فهمۍ له وجې بښنه غوښتې وه، په ټپ باندې د پټۍ د اېښودو په دود يې يو څه مالي مرسته لورولې وه چې زموږ دمه پرې جوړه شوه. نوي کور ته مو په ساړه ژمي کې کډه رابار کړه. د لرګيو کورونه د باران، واورې - سړې او تودې هوا په وړاندې حساس وي، د همدې لپاره ښه ساتنه غواړي. کور دننه رنګ شوی و خو باندنۍ خوا يې لا پاتې وه. دا چې ژمی و او هوا سړه وه، رنګمالي نه کېده، ځکه مو د رنګ کار اوړي ته وځنډاوه.

دا ژمی هم په موږ سخت تېر شو؛ خواښې مې په حق ورسېده، په رواني لحاظ زموږ ټولې کورنۍ صدمه ولېده، له هغې سره مو وروستي څو کلونه يو ځای تېر کړي وو. د قضا او قدر د پرېکړو په وړاندې انسان ناتوان وي؛ موږ هم ومنله.

له هغو پورې مو چې بېرته ځانونه راټولول، اوړی رارسېدلی و. دا نو د رنګمالي لپاره مناسب وخت و. له څو وروو شرکتونو سره مې خبرې وکړې، ظالمانو ډېر لوړ نرخونه راکړل؛ چا ځلوېښت زره، چا پنځه ځلوېښت زره او ځينو ان پنځوس زره کرونه مزد غوښته. پرېکړه مو وکړه چې خپله به رنګمالي ته ملاوې تړوو. زما تجربه پدې کار کې له صفر سره ضربېده؛ کېدای شي کوم وخت مې چېرې شوقي بُرس کش کړی وي، خو نور په تور او بور نه وم خبر. توکل په خدای مو ضروري اوزار او رنګونه واخيستل. مېرمن مې هم په دې کار کې راسره مله شوه او ځانونه مو رنګمالي ته چمتو کړل. همدا چې کار ته مو متې راونغاړلې، يوځلې مو پام شو چې خوازه نه لرو؛ د کور دويم پوړ او پورتنۍ برخو ته زينه نه وررسېده، ښه اوس څنګه کوو؟! په حويلۍ کې ښکته پورته ګرځېدو ترڅو د ستونزې لپاره يوه چاره ولټوو، پدې کې زموږ ګاونډي «کُرټ»، له خپلې حويلي څخه را غږ کړل:

- سلام! څنګه ياست؟ نن خو ښه لمر دی.

موږ هم په لوړ غږ له لرې څخه ورسره سلام کلام وکړ. په رېښتيا چې هغه ورځ د اسمان نيلي رنګ، د لمر پستې وړانګې، په شنو ونو او بوټو کې د مرغيو ځای-ځای چغهار عجب ښه لګېدل. يوه شوم چې د «کُرټ» مجلس ته زړه شوی ده، حويلي ته يې ورغلو، هغه د چمن اضافي واښه رېبل، زموږ په لېدو يې ماشين ګل کړ، مېرمن يې «يانا»هم راغله، يو ځل بيا مو سره لاس په لاس سترې مه شي وکړه او ګپ‌شپ مو پيل کړ. خبرې مو د اوړي د رُخصتيو له پلانونو څخه شروع کړې تر دې چې زموږ د کور رنګمالي ياده شوه. «کُرټ» پوه شو چې د رنګمالي لپاره خوازې ته اړتيا لرو؛ مخ يې راواړاوه او ويې ويل:

- يوه خوازه مې درلوده خو دا څو کاله کېږي چې رانه غيبه ده!

د خبرو طرز يې داسې و چې ډېر ورته نه شو هيله من کېدای، جدي مو ونه نيوه، د ولاړې مجلس مو په ټوکو او خنداوو سره پای ته ورسېد او بېرته ترې کاله ته راستانه شو. هغه شپه مو د افغانستان په اړه د يوه مستند فلم په لېدو تېره کړه. سهار چې له خوبه پاڅېدم، همداسې زنګېدلی د اورسي په لورې وخوځېدم، پرده مې چې کش کړه يو ناڅاپه مې سترګې په يوې تړل شوې خوازې باندې ولګېدې چې له اورسۍ څخه يې سر پورته راښکاره کړی و، ما ويل خوب وينم، سترګې مې ښې وموښلې؛ خوب نه رېښتيا و، په بېړې او تلوسې له کور څخه دباندې ووتم، کاته مې «کُرټ» موټر ته د ختلو په حال کې دی، له لرې راته موسکی شو او ويې ويل:

- خوازه مې پيدا کړه، اوس به ستا د رنګمالۍ کمال وګورو!

څو شيبې مې ورته هک حيران وکتل او بيا مې ورته وويل:

- تاسو رېښتيا چې د «سرپرايز» په ورکولو کې استادان ياست، استادان!

دواړو کټ، کټ وخندل. د «کُرټ» شنې سترګې وځلېدې، له ما څخه هغه ډېر خوشحاله ښکارېده، چای ته تم نه شو، خدای‌پاماني مو وکړه او همداسې په خپلې مخې ولاړ. «کُرټ» خوازه د خپل موټر په ډاله کې زموږ تر کوره پورې راوړې وه او بيا يې په يواځې سر بې له دې چې ما خبر کړي، په خپله تړلې وه.

نه پوهېږم زموږ نصيب ښه وو چې خدای داسې ګاونډيان راکړي وو، که د ټولو ګاونډيان همداسې وي؟ ديګانان متل کوي چې: «از صد خويش، يک همسايه پيش!»

۲۰۲۴/۱۱/۸

# ناروې میشتو پښتنو هیوادوالو ته زیری!




د ناروېژي پښتو قاموس (Stor Norsk-Pashto Ordbok) د دعوت رسنیز مرکز څخه په لیلیستروم کې تر لاسه کولی شئ. همدا راز یې مینه وال په ټوله ناروې کې د نورلي Norli د ټولو کتابپلورنځیو څخه د لیکوال د نوم، د کتاب د نوم او یا ISBN نومرې په ویلو او ښودلو سره ستاسو له پاره غوښتلی شي په اوسلو کې یې په مستقیم ډول د نورلي د لاندې مرکزي دفتر او کتاب پلورنځي څخه اخیستلای شئ.

Norli - Universitetsgata i Oslo

او هم د خپل کمون او سیمې د کتابتون، ښوونځي او پوهنتون کتابونو څخه هم کتاب غوښتلای شئ تر څو یې ستاسو د استفادې له پاره واخلي.

یواځې د کتاب نوم، د لیکوال نوم او د ISBN شمېره ورته ووایاست .

ناروېژي پښتو قاموسStor Norsk-Pashto Ordbok

لیکوال: محمد طارق بزګر Mohammed Tariq Bazger

ISBN: 978-82-691395-0-1

Dawat Media Center

Voldgt. 37A, 2000 Lillestrøm.

Mobil: 90856195

دعوت چې د ناروې د هیواد نه خپرېږي. د افغان ولس پرته د هیواد د هیڅ سیاسي او غیر سیاسي ډلې استازیتوب نه کوي. دعوت د افغان ولس ریښتینې غږ او د هغو له پاره خپرېږي ځوك چې د افغانستان په باره کې فکر او د مسئولیت احساس کوي. په دعوت کې د خپرو شوو لیکنو مسئولیت د درنو لیکوونکو په غاړه دی او شرط نه دی چې هره لیکنه دې د دعوت د نشراتي پالیسۍ سره برابره وي.

**DAWAT MEDIA CENTER,**
V/ M. Tariq Bazger,
Voldgt.37A,
2001 Lillestrøm, Norway
Tel. +47-63844384
Mobil: +47-90856195
ISBN: 978-82-691395-2-5
Orgnr (Reg#): 985160058

د انټرنت په نړیواله شبکه زموږ د ویبپاڼې پتې
www.dawatmedia24.com

زموږ د بریښنا لیک پته: dawatmedia@gmail.com

د دعوت بانکي پته:

DNB Bank AC # 0530 2294668

له ناروې بهرد نړیوالو تادیاتو حساب

Account for international payments:
NO15 0530 2294 668
Vipps: #557320 :د ویپس شمېره

خنګه کولی شئ د دعوت میډیا مالي مرسته وکړی:

خپلې مرستې (پیسې) د بانك په پته راولیږئ. د دعوت مالي منبع د افغانستان خلك دي. د دعوت د خپلواکو رسنیو مرکز د فعال ساتلو او د شوو ژمنو د پوره کولو له پاره ستاسو مالي مرستې زموږ د بریالیتوب او لابنه پرمختګ زیری دی. هر افغان باید تر خپله وسه د خبرو پرځای د عمل ډګر ته راووځي، خپل مسئولیت احساس او پوره کړي وخت د عمل دی نه د خبرو.

# د دعوت رسنيز مرکز له خوا چاپ شوي کتابونه

دعوت رسنيز مرکز وياړي چې د خپلو نورو فرهنګی فعالیتونو په څنګ کې چې هغه د دعوت مجلې خپرول، د دعوت میډیا ۲۴ او افغان سباوون ویبپاڼو تر څنګ په دې وروستیو یو شمېر په زړه پورې، مهم او ارزښتمن کتابونه د خپلو خلکو د چوپړ له پاره خپاره کړي دي. چې دلته په لنډ ډول د کتاب پېژندنه او د لاس ته راوړلو طریقه او د کتاب بیه او پوستي بیه ښوول کیږي.

## یوه افغانه ښاپیرۍ په کیف کې

### لیکوال محمد طارق بزګر

/۱ دا کتاب چې د یوې ریښتنې پېښې له مخه لیکل شوې او د افغان جګړې د ناخوالو، نتیجو ، تاثیراتو او په ټولنه او خلکو یې اغیز، ښځه په افغاني ټولنه کې او د یوې افغانۍ د دردونکې او تریخ ژوند کیسه چې بلاخره بدلمنۍ ته مجبوریږي.

د کتاب بیه ۱۵۰ نارویژي کرونه یا د هغې معادل او پوستي د لیارې ۲۰۰ نارویژي کرون (د نړۍ ټولو هیوادونو ته).




---

## ملي رسالت (د محمد طارق بزګر کارنامې)

### لیکوال ارواښاد مصطفی عمرزی

/۲ دا کتاب چې د دعوت رسنیز مرکز او مسئول مشر بیلابیل فعالیتونه او د لسګونو مطرحو افغانانو نظرونه هم په بر کې لري د دې کتاب ژبه پښتو او دري ده. کتاب د ګټې له پاره نه دی مینه وال یې یوازې د چاپ د مصرف په ورکولو سره تر لاسه کولای شي د کتاب د چاپ بیې تر څنګ پوستي مصرف یې ۷۰ کرون یانې (۷) ډالرو په ورکړې سره تر لاسه کولای شي.




---




## زموږ کاکا مُراد (ډاکټر ناکامورا)

/۳ د ژوند، کار، فعالیتونو او د دغه ستر انسان په اړه د لسګونو افغانانو نظرونه او نور ډیر څه د عکسونو سره راغونډ شوي دي، د کتاب ژبه پښتو او دري ده، دا کتاب هم په وړیا ډول یوازې د پوستي مصرف (۱۰۰ نارویژی کرون یا ۱۰ ډالر) په ورکولو سره هر افغان چې د نړۍ په هر ګوټ کې وي او غواړي ورته لیږل کیدای شي.




۴/ **کله چې طوطي والوت** د ماشومانو له پاره د يو ناروېژي کتاب ژباړه ده د کتاب ليکوال انتون ايسپيرو او ژباړن يې محمد طارق بزګر دی. دا کتاب د ماشومانو له پاره په خوږه پښتو ژباړل شوي او په ښکلي قطع او صحافت چاپ شوی دی. د کتاب بيه ۱۰۰ کرون ياني (۱۰ ډالر) ده او د پوستي مصرف سره ۱۵۰ کرون يا ۱۵ ډالر ده د نړۍ په هر ګوټ کې هېوادوال کولای شي دا کتاب د دعوت رسنيز مرکز څخه د قيمت په بدل کې وغواړي.

---




۵/ په انګليسي ژبه د کييف ښاپيرۍ **(An Afghan Beauty in Kiev)** چې ليکوال يې محمد طارق بزګر دی د يوې ريښتني کيسې او پېښې له مخې ليکل شوی چې په ټوله د جنګ جګړو د ترخو تاثيراتو له امله د يوې افغانې د ژوند د ناخوالو کيسه چې په پای کې بدلمنۍ ته مجبوريږي. د دې کتاب بيه ۱۰۰ ناروېژي کرون ياني ۱۰ ډالر ده چې د پوستي مصرف سره ټول ۱۵۰ کرون يا ۱۵ ډالر کيږي چې د قيمت په ورکړې سره د نړۍ هر ګوټ ته مينه والو ته ليږل کيږي. دا کتاب په بهرنيو هېوادونو کې ستاسو بهرنيو دوستانو، استادانو، د کار همکارانو، ګاونډيانو، ملګرو له پاره هم يوه ښه ډالۍ ده.

---




## ناروېژي - پښتو قاموس

### Stor Norsk-Pashto Ordbok

٦/ چې د محمد طارق بزګر د ۱۷ کلونو د زيار او هڅو نتيجه ده چې ټول ۵۰۰۰ لغاتونه او کتاب ۱۰۰۰ مخونه لري په لوړ معيار چاپ او له ناروې بر سيره په سويډن او ډنمارک کې هم هېوادوال ترينه ګټه اخيستلای شي. په دې کتاب سره د هر مسلک د خاوندانو ستونزې تر ډېره حليږي يا په بل عبارت د لومړي ټولګي تر پوهنتونه، په هر ډول کاري چاپيريال او په کور کې د والدينو له خوا د ماشومانو ژبنۍ ستونزو په حل کې پوره مرسته کوي. د ناروېژي ژبې د هر ډول لغاتو مانا په اسانه په کتاب کې پيدا کولی شئ دا بايد هم يادونه

وشي چې د یو زیات شمېر لغاتونو، نومونو او نورو څیزونو عکسونه د اسانه پوهاوي په پار د کتاب په پای کې ځای پر ځای شوي دي چې دا په اسانه د پوهاوي په برخه کې د قاموس کارونکو سره مرسته کوي. د دې کتاب شتون په هر افغاني او پښتني کور او ستاسو په کتابتون کې ضروري او د ناروېژي ژبې په حل کې ستاسو ښه مرستندوی دی. د دې کتاب بیه ۷۰۰ ناروېژي کرون (هغه چې د دعوت رسنيز مرکز څخه په مستقیم ډول تر لاسه کوي) او د پوست د لارې بیه یې په ناروې، سویډن او ډنمارک کې ۸۵۰ کرون ده. د ناروې د هر کتابتون څخه د لاندې معلوماتو په ورکولو سره ناروېژي پښتو قاموس غوښتلای شئ. په ټوله ناروې کې د نورزی Norli د ټولو کتابپلورنځیو څخه یې هم تر لاسه کولی شئ.

د کتاب نوم: ناروېژي پښتو قاموس

**Stor Norsk-Pashto Ordbok**

د لیکوال نوم: محمد طارق بزګر

**Mohammed Tariq Bazger**

ISBN: 978-82-691395-0-1 :ایس بی این شمېره

د پاسنیو کتابونو مینه وال او غوښتونکي کولای شي په حضوري ډول یې د لیلیستروم په ښار (ناروې) کې یې د دعوت رسنيز مرکز څخه واخلي او یا هم د بانک د لارې پیسې د دعوت میډیا په اکاونټ AC#0530 22 94668 او یا د دعوت رسنيز مرکز د ویپس په شمېره شمېره :Vipps #557320 د خپل بشپړ پوستي ادرس سره راولیږئ ستاسو د خوښې او اړتیا وړ کتاب به ډیر ژر تر تاسو دررسیږي.

**د دعوت رسنيز مرکز**

**Dawat Media Center**

Voldgt. 37A

2000 Lillestrøm, Norway

Tel: +0047 63844384

Mobil: +0047 90856195




---




# افغانستان: رښتیا پلتنه

## لیکوال: بروس ګ. ریچارډسن

## ژباړن: رحمت اریا

